د مورچل

کالګنه

۲۰۱۵

نهم کال، دوولسمه، پرلپسې ۸۸ مه ګڼه، صفر-ربیع الاول ۱۴۳۷هـق، دسمبر۲۰۱۵م

دعزم په وړانګوکې دمورچل دا کالګنه!!

د اسلامي امارت د نوي قیادت مدبرانه اقدامات!

۲۰۱۵ میلادي کال کې جهادي بهیر ته کتنه!

دعوت او جها د دحالاتو په تناظر کې!

دفقیدمولوي سیدمحمدحقاني دشخصیت ځیرنې خانګړې پاڼې!!

قلمي جهاد !

په جهاد کې د عالم، لیکوال او شاعر رغنده رول

آیا نني مسلمان ته رښتیا تقلیدواجب دی ؟

نقش مطبوعات در جهاد

دسرمقالې اهمیت اودسرمقاله لیکونکي اوصافوته کتنه !

اسلامي امت ته له ورپېښو مشکلاتو نه د وتلو لار!

امریکادافغانانو داسلامي هویت دله منځه وړلو په هڅه کې

دمجاهدنیو دبري رازونه

دست آوردهای مجاهدین در سال ۲۰۱۵م

دمورچل او منبردهمغږی موارد !

د"خالد بن ولید رضی الله عنه" له معسکر څخه تفصیلي راپورتاژ

نهم کال، دوولسمه، پرلپسې ۸۸ مه ګڼه، صفر-ربیع الاول ۱۴۳۷هـق، دسمبر۲۰۱۵م



د مورچل مياشتنۍ خپرونه

نهم کال ۱۲مه، پرلپسې ۸۸یمه ګڼه، صفر-ربیع الأول ۱۴۳۷هـق، دیسمبر ۲۰۱۵م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	دعزم په وړانګو کې د مورچل دا کالګڼه!!!	۱
۲	دجهادي صف د یووالي اهمیت او ضرورت	۳
۳	مولوي سید محمد حقاني د یو فرهنګپال، دیپلومات	۵
۴	خوشیبي دآهونو په چم کې !!!	۶
۵	در فراق سید محمد حقاني رحمه الله	۱۰
۶	قلمي جهاد	۱۳
۷	د اسلامي امارت دنوي قیادت مدبرانه اقدامات!	۱۶
۸	۲۰۱۵ میلادي کال جهادي بهیر ته کتنه!	۲۱
۹	دعوت او جهاد د حالاتو په تناظر کې!	۲۶
۱۰	په مطبوعاتو کې د سرمقالې اهمیت؟! او	۳۰
۱۱	په جهاد کې د عالم، لیکوال او شاعر رغنده رول	۳۵
۱۲	آیا نني مسلمان ته ! ربنتیا تقلید واجب دی؟	۳۸
۱۳	نقش مطبوعات در جهاد	۴۸
۱۴	اسلامي امارت ته له وړپیښو مشکلاتو نه د وتلو...	۵۱
۱۵	د مورچل وړمې	۵۶
۱۶	امریکا د افغانانو د اسلامي هویت د له منځه وړلو..	۵۸
۱۷	دجهاد فقهي مسائل	۷۴
۱۸	دمجاهدینو دیري رازونه	۷۶
۱۹	دست آوردهای مجاهدین در سال ۲۰۱۵	۷۹
۲۰	د مورچل او منبر دهمغږی موارد!	۸۳
۲۱	دخالد بن ولید رضي الله عنه له معسکر څخه	۸۷
۲۲	په افغانستان کې د امریکایي بالونونو پټ رازونه	۹۸
۲۳	جنګي جنایتونه	۱۰۰
۲۴	د سیکولریزم حقیقت	۱۰۲
۲۵	د دیسمبر میاشت جهادي خبرونه	۱۰۴

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل	ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی	حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر	حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، د مجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

دعزم په وړانګو کې

دمورچل دا کالګنه !!!

له بنه بخته د(۲۰۱۵ز)کال مورچل کالګنه پداسې شیبو کې چاپوو،چې داسلامي امارت دنورو ځانګو په خیرسرسپارلیومجاهدینواودفرهنګي مورچل قلموالو،دجهاد او فرهنګ په غبرګو ډګرونو کې دپام وړ پرمختګونه کړي اودیری فتوحات اوبریالیتوبونه یې ترلاسه کړي دي ، مجاهدینو ددې (۲۰۱۵ز)کال په اوږدو کې وکړای شول، ترڅو د سپتمبر په(۲۸)مه نیټه د کندز ولایت مرکز چې د افغانستان شپږم ستر بنار دی، فتحه او ددښمن پوځي برم او سیاسي شتون تر کلکې پوښتنې لاندې راولي،همداشان دهیوادپه لراوبرکې ،دنوروسترو پوځي هډوغوندې (۳۴)مهمې ستراتیژیکې ولسوالی په بشپړ ډول فتحه اود زرګونومیلو سپکواو درندو وسلو سربیره ،لسګونه پوځي شوبلې اونظامي عراده جات له دښمن څخه ولجه شوي ،مجاهدینووکړای شول، چې دغزني او کندزپه شان دسترو ولایتونو پولادي زندانونه په رښا ورځ مات او سلګونه بندیان ترې آزاد کړي!

همدا شان داسلامي امارت فرهنګي کمیسون هم دخلکوداټکلونوخلاف ،ډیرمیدانونه فتحه کړي او اسلام او خاورې غلیمان یې دقلم دنیزو په څوکو سورې سورې کړي ،فرهنګي کمیسون دثقافت او کلتور په ټولوډګرونوکې عام ددې نه چې چاپې دي ،که بریښنایي ، غږیز دي او سمعي، له نوښته ډک ګامونه اخستي او خپله فرهنګي سیالي یې له خپلوحریفانوڅخه په ډیره کامیابی ګټلې ده .

دهرې سترې جهادي پیښې ویډیویي انځورونه خپرول ،دنړی ګوټ ګوټ ته په ملي او بین المللي ژبو دپوځي خبرونو عاجل رسول ، روانوچاروباندې پر وخت وزمان تحلیلونه او تبصر ې

لیکل اوخپرول ،داسلامي امارت دبیعت له جوت پیغام سره زرګونه کلیزي چاپ کول ،دنا ګوارو حالاتو سربیره بیا هم په مختلفوداخلي او خارجي ژبو ګڼې مجلې چاپول او ترټولوډیراغیزمن کار، چې فرهنګي برخه کې دا کال وشو، هغه داسلامي امارت دنوي زعامت په باب دبیعتونوتصویري او صوتي نشر او پرله پسې دمجاهدینواو ولسونو ژمنتیا اوهڅونه، هغه نه هیریدونکی فعالیت دی، چې له برکته یې داسلامي امارت صف لاهم دوحدت تربیرغ لاندې راټول شواونن لله الحمد دا ستونزه تر ډیره بریده پورې حل شوه.

شک نشته چې داسلام ددښمنانولخوا دامیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهدرح دوفات خبرونه نشرول ،یوه ناندریزه پیښه وه، خوترځنګ یې له اختلاف څخه داسلامي امارت دصف ژغورنه او په یوه صف کې بیا دمجاهدینو او ولسونوراټولیدنه، هم هغه دروند کار و،چې څښتن تعالی ترسره کړاو دفرهنګي کمیسون وندې پکې له چانه پته نده !

خلکو ولیدل !چې فرهنګي کمیسون دفکري مکتب او ذهني مدرسې په رغښت او تنویر کې څومره مثبت ګامونه واخستل او ددې کمیسون دقلموالو اوفرهنګیانوله اغیزمنوتجزیو او پر حقیقت دولاړو شننواو ځیړونوپایله کې دیرغلګرو درواغجن تبلیغات او غولونکې ادعاوې څومره درې وړې او دسقوط او رکود سره مخامخ شوي .

دمورچل دا کالګنه ! دعزم دعملیاتوپه وړانګوکې داخلیږي، لکه دسباوون په افق کې دلمربختوره طلوع ،چې دنړۍ په افاقو دخپل مشال څادر وغوړوي او ددنیا تیاره ګوټونه رڼا کوي ،دمورچل کالګنه که دیوې خوا د(عزم)دفتحو دقافلو په سر کې دجرس غوندې شړنګیږي ،نو دبلې خوادجهادي فرهنګپالنې هغه هوډ پالي، چې له املـه یې دواشنګټن ،او برکسل بتکدي په واویلا اودفرهنګي بڅرکیو له حراراته په کوکارو دي !

دهیواد دنظامي پرمختګونو عمق ته په کتو او دجهادي رزم او دتکبیرونو شور مو ،تر پخوا ددې هیله او تلوسه پیاوړې کوي، چې راتلونکی (۲۰۱٦ز)کال به دفتحو نغارې ودنګیږي اودمورچل بله کالګنه به انشاءالله تعالی هیوادکې په شور او څور چاپ کړو،هلته به نور دظلم او یرغل ټغر ټول شي او دمستکبرو امپراطوریو دطاغوت څلې به پر څمکه رانسکور شي ،پدې دعاوو به پایو او همدا تلوسه به له څانه تر پایه ژوندی ساتو!!

(وماذلک علی الله بعزیز)

د جهادي صف

د يووالي اهميت او ضرورت

شاهد (غزنيوال)

جهاد په مأموربه احکامو کې تر ټولو أهم عبادت او ستره فريضه ده.

جهاد د اسلامي احکامو د تنفيذ او دفاع مهمه وسيله او د اسلامي شريعت ستر رکن دی .

د جهادي صف يووالی يو ټولنيز ضرورت او داسلام په مقدس دين کې خاص اهميت لري.

د همدې اهميت له مخې الله تعالی د قرآن کريم په متعددو ايتونو کې د اسلامي صف پر يووالي ټينګار کړي تر دې چې په ۲۸ سيپاره کې يې يومکمل سورت د الصف په نوم نازل کړي او په هغه کې يې په خاص ډول د جهادي صف پر يووالي ترکيز کړی.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ (٤)

په جهاد کې د صف يووالی او د امير اطاعت له هغو أساسياتو څخه دي چې اسلامي فقهاوو يې په هجومي ډول (جهاد) کې د اميرموجوديت او د هغه اطاعت د جهاد لپاره حتمي شرط بللی .

د دغه شرعي ضرورت (د صف يووالي) اهميت مونږ د اسلامي نړۍ په ننيو حالاتوکې ښه محسوسولای شو.

نن داسلامي نړۍ ډير هيوادونه عملا داشغالګرو کافرانو تر يرغل لاندې او د هماغه خای مسلمانانو يې د يوې شرعي فريضې په حيث په مقابل کې په جهاد لاس پوري کړي .

په کومو هيوادونو کې چې داشغالګرو په مقابل کې دفاعي مقاومت تريوه متحد قيادت او يوې قوماندې لاندې تر سره کيږي هلته يې عملا ښې پايلې لرلې او دښمن يې په هجومي عزائمو کې شاګرز ته اړيستلی.

د دغو اشغال شويو هيوادونو له جملې څخه يوهم افغانستان دي چې له تيرو ۱۵ کلونو راهيسې د تيري کوونکو امريکايانو تر اشغال لاندې دی.

سره له دې چې امريکايانو د غربي نړۍ د ۴۸ هيوادونو په ملتيا افغانستان اشغال کړی او د دغه اشغال د مشروعيت او بريالیتوب لپاره خپل ټول پوځي او تخنيکي قوت په کار اچولی ، خو دلته د مقاومت د قيادت د يووالي له برکته له خپلو ټولو پوځي او تبليغاتي هلو ځلو سره سره ناکام دي.

د اشغالګرو د اشغال پر ناکامي او فضيحت سر بيره کومې سيمې چې د مجاهدينو تر کنترول لاندې دي هلته امنيت تأمين او د ګډودي او بې نظمي مخنيوی شوی.

خو برعکس په کومو هیوادونو لکه په عراق ، صومالیا او خینو نورو هیوادونو کې چې د اشغالګرو په مقابل کې مقاومت د متحد قیادت په خای د متعددو قیادتو لخوا اداره کیږي هلته نه یواخي داچې د مقاومت د بریالیتوب چانس نا شونی دی ؛بلکې همالته د متعددو قیادتونو د بې نظمي له وجې جهادي صف دخپل منځي اختلافاتو ښکار او مجاهدین له سختو ستونزه سره مخ دي.

افغانانو د روسي اشغال پرمهال په مقاومت کې د قیادتونو د تعدد ترخه تجربه ښه ولیدله چې هم یې د یونیم ملیون شهیدانو د توی شویو وینو پایلې ضائع کړلې او هم یې له شوروي اشغال نه آزاد شوی هیواد دوباره تر امریکایي اشغال لاندې راوستی .

اوس چې د متحدجهادي مقاومت په ترڅ کې افغانستان بیا له امریکایي اشغال څخه د استقلال درشل ته نیږدي شوی ماتي خوړلي امریکایان او د هغوی ایتلافیان کوښښ کوي د مقاومت د متفرق کولو لپاره بیلابیل تکتیکونه عملي کړي .

امریکایانو چې کله په تیر ۲۰۱۵ کال یې دمجاهدینو په مقابل کې خپل شکست قبول او له افغانستان څخه یې دخپلو خواکونو دپرشاتګ اعلان وکړ له هغه راهیسي- یې له مجاهدینو سره دمخامخ پوځي مقابلې پرخای دغیر مستقیمې مقابلې لاره نیولې او غواړي د جهادي دمتحد صف د متفرق کولو اوشیندلو له لاري له هغوی (مجاهدینو) څخه دخپلې ماتې اورسوایي غچ واخلي.

مونږ وینو چې یرغلګر دښمن د دغې شیطاني استراتیژي د کامیابه کولو لپاره یې مختلف تکتیکونه تر لاس لاندې نیولي.

خو دا چې بیاهم دجهادي مقاومت قومانده یوه او د دښمن په شړلو کې له یوې متحدې استراتیژی څخه استفاده کیږي مونږ ګورو چې د دښمن دغه تخریبي تکتیکونه هم یو په بل پسې له ناکامي سره مخ او مجاهدینو لکه چې په پوځي ډګرکې دښمن پرشاتمبولی په هماغه دول یې دخپل منځي وحدت او هماهنګي په مټ د دښمن ټول تخریبي سازشونه ورشند کړي.

د جهادي صف د متحد ساتلو په اړه الله تعالی په سورت آل عمران، سورة الأنفال اوسورة التوبة کې متعدد أیتونه نازل کړي او مسلمانان یې دخپل منځي وحدت په ټینګ ساتلو مأمور کړي.

او په یادو سورتونو کې یې په مکرر دول مسلمانان له تفرق، اختلاف او خپل منځي شخړو څخه منع کړي:

الله تعالی دسورة الانفال په (۴۶) نمبر ایت کې مسلمانان له خپلې منځي اختلاف څخه داسې منع کوي:

وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (٤٦)

که مونږ نورهم وغواړو جهادي آرمانونه مو تر سره او د الله په لاره کې ورکړې قربانی مو مثبتې پایلې ولري نو باید چې د دغو الهي ارشاداتو مطابق مو خپلې لیکې متحدې او له هر دول اختلاف او تفرق څخه خان لیرې وساتو .

مولوي سيدمحمد حقاني رحمه الله،

ديو فرهنګپال ،ديپلومات ،دعوتګر او مجاهد په توګه !

دمولوي سيد محمد حقاني رح په څير دلوړو شخصيتونو دنمانځنو او دده مقام دلا لوړ حيثيت ورکولونوره پريکړه، به دوخت مرور او راتلونکيو مؤرخينو ته پريږدو،چې هغوئ دده دماضي دخدماتو،کارنامو او وړتيا په اړه کوم ډول قضاوت کوي ،خو هغه چې زمونږ پورې اړه لري، هغه ددې دجهادي ماضي ،په فرهنګي اوسياسي لوريوکې دوخت دقلموالو شننو ته دموادو او يو سمبول په صفت وړاندې کول دي .

که څه هم مونږ دنوموړې فطري صلاحيتونه او علمي ظرفيتونه يوازې تر فرهنګپالنې يا سياسي شعور پالنې له دايرې پورې نه محدودوو،بلکې مونږ داسې وايو: چې واجب الاحترام مولوي سيد محمد حقاني رح داسلامي حکومتولۍ ،ټولنپوهنې، اجتماعيت، مينجمينټ يا اداري اموراتو او دورسپارل شويو وظايفو په هر ډګر کې دکار سړی و او دهر کار په ميدان کې تر هر چا دړومبي مقام خاوند و،خوشحال بابا دداسې اشخاصو په هکله څه ښه وايي چې:

چې دستار تړي هزار دي ددستار سړي په شمار دي

که به داخلاص ميدان و ،که به دښه برخورد او حسنه اخلاقو موارد وو،که به دکاري طرفيت ډګر و،که به دروانشناسۍ يا ارواپوهنې مورچل و،که به دزهد او تقوی سنګر واوکه دجهاد په لاره کې دايثار او فداکارۍ مواضع وو،څښتن تعالی دده په وجودکې ددې داحتواء صلاحيت نغتښې و، او دا به پرې تقريبا محيط و ،شايد مونږ دې خبرو کې کومه مبالغه نوې کړي ،چاچې مرحوم حقاني صيب پيژانده، نو شايد دده له کريمه عاداتو او خصلتونو سره نابلده نه وې ،او ښايې پده کې به يې ددې نه زيات څه کتلې وي !

دمورچل ادارې غوښتل چې دفضيلت مآب مولوي سيد محمد حقاني رح په باب ښه ډير مطالب دچاپ تر ماشين پورې ورسوي ،خو يو دوخت کمښت ،بل دمجلې دحوصلې تنګنا اوبل دموضوع په باب دې لنډ تنګ وخت کې دډيرو مضامينودپيدا کيدو ستونزه ،ددې لامل شوه، چې ددرانه او پر وقاره مشرمحترم حقاني رح په اړه ، يوازې په څو ګوتوشمير ليکنودده دلوی هراړخيزشخصيت نه صرف څو فصلونه او بابونه ستاسو قضاوت ته کښيږدو،خو هيله مو داده، چې که ګانده کې دجهادي مقاومت قلموال او دفرهنګي کميسون رياست مقام وکړای شي او دنوموړې دشخصيت دسپړنې او ځيرنې په باب يو ځانګړی کتاب چاپ کړي، نو بويه چې څه حق به مو دده درفاقت ، ملګرتوب او مشرولۍ ادا کړی وي !

اوس همدومره! اداره

څو شيبي دآهونوپه چم کې!!!

د(مولوي سيدمحمد حقاني رح په باب زما تأثرات)

(جرس)

امام (ابن دقيق العيدرح) په خپل نفيس کتاب (شرح الالمام فی احاديث الاحکام)کې څه ښه ليکي: الارض لاتخلو من قائم لله بالحجة ،والامة الشريفة لابد فيها من سالک الی الحق علی واضح المحجة الی أن يأتی أمرالله فی أشراط الساعة الکبری / شرح الالمام فی احاديث الاحکام ۱۷،دارالمنهاج جده .

ژ،يعني څمکه به هيڅکله له الهی برهان او دخدايي حجت له حامل څخه نه خالي کيږي ،په مرحومه امت کې به يو داسې سالک دتل لپاره وي، چې په مستقيمه لاره باندې روان وي، تردې پورې چې دالله تعالی امر (قيامت)راشي .

که يوې خوا بلې خوا وګورو، نوپه څمکه کې د(امام ابن دقيق العيدرح)په عقيده دقيامته پورې ديوه داسې سالک شتون چې دحق ممثل او يوه بې بيلکې الګو وي ، که په کرده څمکه کې نه وي، نو پخپله ټولنه کې خو يې ضرور موندلای شو، زما دمشاهدې په لنده تنکه دنياګی ،ددينداری ،اخلاقو ،تواضع ،فداکاری او جهادي خدماتويوه داسې نمونه چې دخپل ځان يو ښه مثال او بې بديله شخصيت وي، نو بويه چې هغه به نن سبا زمونږ له لاسه لويدلې مرغلره (مولوي سيدمحمد حقاني رح) وي، چې ما پخپلو کناهګارو سترووګوتراوسه پورې له يو شهيد شخصيت پرته بله بيلګه نده کتلې ، تردې مخکې مې خپل يو نږدي سلف (حافظ الحاج مولوي محمدعزت الله عارف رح)داسې يو څوک کتلی و، او بيا مې دهغه له شهادته نږدي (۲۰)شل کاله پس بل داسې يو څوک دخپل خواږه ملګرې حقاني رح په شکل کې وکوت .

هسې خو مې ددروند شخصيت محترم مولوي سيد محمد حقاني رح نوم دامارت دواک په کلونو کې دير دير اوريده، چې کله پاکستان کې سفير و،کابل کې دخارجه وزارت معين و ،دارګ دادارې چارورنس و،خو هغه چې مې ورسره بلدتيا پيدا شوه او خواله مو سره پيل شوه، نو هغه وخت و،چې داسلامي امارت دفرهنګي چارو مرستيال شو،نوموړی مې رومبی وار دکميسون دمشاور صيب سره يوځای وليد او ترکتنې لږه شيبه وروسته پوه شوم، چې حقاني رح ددير صلاحيتونو درلودونکی دی ،په رومبي وار يې راسره داسې صميمانه برخورد وکړ،چې مې فکر

کاوه، له کلونو کلونو نه راسره ملګری دی او ډیر ښه وخت مو ورسره تیر شوی ،په فرهنګپالنه کې خورا ډیر اغیزمن او ډپخې تجربې خاوندو، چې به یې کومه فرهنګي ستې وکته، نو به یې ورسره له فرهنګي زاویې برخورد کاوه او تل به دتبسم او خندا نه داسې ډک و، چې تا به ویل چې دا به کله غصه شوی هم وي او که نه !

په فرهنګی بهیر کې داسې ګڼ موارد راغلي، چې مو پکې دده حوصله او حسن تدبر ازمویلی،خو په معیاري کچ ومیچ پوره او له هر پراوه برمیال راوتلی .

له مشهور کابل میشتې ژورنالیست (وحید مژده) سره دنومورې خبرې مطبوعاتو ته راووتلې ،استخباراتي کړیو ښکاره او خپرې کړې ،ما لومړی خل له (تاند)خپلواکې! پاڼې څخه واوریدې ،چې څه وخت وروسته مې وکوت، ورته مې وویل دا خو عجیبه غوندې کار ونشو؟ده په موسکاراته وویل: چې پریږده، چې دنیا ته ښکاره شي ،چې داسلامي امارت د نفوذ مراندې دومره اوږدې غځیدلې دي، چې آن کابل کې دننه مو هم دهغه ځای ژورنالستان خبرونه اومشورې اخلي ،او دې کې کومه ستونزه نشته ،وې دي ،ورته هک پک حیران شوم، چې دومره غټ کار او دده دومره ستره حوصله او جرأت !!

کله به یې رانه پوښتنه کوله ،چې کوم کوم ملګری لیکوال درسره ډیره قلمي مرسته کوي او کومه لړه ؟نوورته به مې دملګرتوب او دمشرتوب او کشرتوب له قیوداتو آزاده فضاء کې وویل ،چې دا او هغه !نو دمګړی به یې هغه ته تلفون وکړ،چې دا .....ده سره همکارې ډیره کړه ،دا شه ونازوه ، ....صاب خوپیژني که یا !! ورسره به یې په شوندو نړی مو سکا هم غبرګه کړه ،بیا به یې ما سره دتلفون په لیکه کړ،ویل به یې چې اوس خو خوشحاله سوي !!(خندا).

تیرکال راته محترم مولوي سید محمد حقاني رح تلفوني پیغام کې دبانکي نوټونو او رسید دیوې فقهي مسئلې په باب یوه استفتاء راولیږله ،آخر کې یې ورته لیکلې وو چې ((بینوا توجروا))..... (مافکر وکړ ،چې ګوندې هسې علمي ارزیابي مې کوي)نومې دمفتي محمد تقي عثماني رح په (البحوث العصریه او دمولینا خالدسیف الله رحمانی جدیدفقهي مسایل) کتابونو حواله ورکړه ،سوال مې دتلفون له لارې ځواب کړ،نودمګړی یې تلفون کې راته وویل چې ،دیر خوښ شوم (خدای ج دې علم کې برکت کشیږده)اوس نودزیاتونودشرعي طریقې په هکله یوه ښه مقاله که ولیکې،نو ډیره به شه شي ! ویل ځینې خلک نور رسومات پکې کوي ،نوکه ته دا کار وکړې،اجربه دې هم وشي اوځه اصلاح به وشي ، بیا به یې داسلام پاڼې له لارې ورته خپره کړو،وعده مې ورسره وکړه ،خو هغه مهال مې څو مسجونه پدې باب ځواب کړل ،نورو مصروفیتونو راته، ددې مقالې دلیکلواجازه رانکړه ،خواوس به انشاءالله تعالی په کوم مناسب وخت کې له محترم حقاني رخ سره خپله ژمنه پوره کوم او دا مقاله به لیکم .

چې به اختر شو ،نو حقاني صيب به ددې پر ځای چې مونږ دمبارکی تلفون ورته وکړو،نوموړی به هروخت راباندې مخکې کیده او دزړه له اخلاصه به یې راسره مبارکي وکړه ،پوښتنه اګینه به یې هم وکړه، نو به مونږ ترې ډیره خوشحاله او زمونږ په دعاوو کې به دده ستره ونده وشوه .

زړمبی لیدنه مې ورسره هغه مهال وشوه، چې کله دفرهنګي کمیسون مرستیال او وروستی لیدنه مې ورسره هغه وخت وشوه، چې نړدي داخرت په اوږه سفر رانه لاړ ،شپه مو سره یوځای وه، ډیرې سرې تودې مو سره یادې کړې ، دشپې یې داسې خوږې خوږې خبرې، له تبسم نه ډکو کیسو او په موسکا دولې شوندو داسې خبرې ته رنګ ورکاوه ،چې تابه ویل چې نور ګوندې رانه ربښتیا رخصتیږې او دایې راسره وروستی شیبې دي ،ماورته کړه، چې د مورچل مجلې کالګنه ده، مطالب لا ملګرو ندې رالیږلې ،ویل اوس یې درسره ګروم، بیا یې همدا مهال په خپل تلفون راسره ځینې لیکوال ملګرې مخ اووهڅول ویل نور ....مال بس دی !جزاک الله خیرا .

حقاني صیب رح راته همدې وروستي مجلس کې وویل ، چې دمجاهدصاب یوه ښکلې مرکه مې ستا مجلې ته پیدا کړې، خولږه اوږده ده ،څنګه به شي !ماورته کړه، چې هیڅ باک نلري، دوه ګنوکې به یې خپره کړو، ډیر خوشحاله شو،بیایې وویل چې نیټ ته به یې زړمبی ورکړوکه څنګه؟ ماورته وویل چې تکراري شئ خوند نه کوي ،ویې خندل ویل سمه ته مورچل دې زړمبی خپره کړي ،بیا پانه ،چې دادی همداسې مووکړل .....

دسبا پریکړه :

ددې شپې په سهار مو سره فیصله وکړه، چې حقاني صیب رح چې دکوم کار لپاره راغلی، هغه به سرته ورسوي اوبنده به دمجلې دکالګنې لپاره مطالب برابرکړي،خوچې کله حقاني رح احوال راکړي نوټول ملګرې به سره یو ځای کې ټول شو او دده په ویاړیه یو ناستی چیرته وکړو،وخت نا وخت به مو سره تلفوني تماس نیوه ،چې ملګرو وویل چې مریض شوی ،پوښتنه مې ترې تلفون کې وکړه ،چې که تکلیف زیات وی زه درځم ،ویل هسې معمولي زکام یم ، ته مه راځه بیا احوال درکوم ،دوه تلفوني پیغامه چې له نیکه مرغه اوس مې هم له ځانه سره دده دیادښت په خاطر ساتلې، راته یې پکې ولیکل، چې ته اوس مه راځه ،بیا زه احوال درکوم ،خو هاغه دچا خبره، زړه مې صبر ونه کړ ،ورغلم، چې ګورم هسپتال کې بستر دی ،په دوه ولګیدم ،ما ل اخ دا څه وینم اوخه ګورم ؟ که ګورم هغه لویه هستې، ددایمي مخه ښې لپاره له دوستانو اجازه غواړي ،که ګورم چې دهغه شاهکارې غزالې سترګې له اوښکو ډکې او له ډیرې حیاء نه چاته نشي کتلای ! خو ملګرو ته دپردیسی په حالت کې دسر په اشارو د واع وداع کلمې ضبطوي !که ګورم چې نن هغه لوړ دنګ (حاجي سلیم) دمرګ په بستر پروت او دپورته کیدواو چاته دښه راغلاست وسه نلري ! که ګورم

چې نن هغه له موسکا ډکه خوله او ورین تندی اوس دخاورو سره خاپړ کوي !که ګورم چې اوس هغه دحوصلې غر ،دجرأت منار ،دجهاددیپلوماسی او فرهنګ ځلانده ستوری، دآسمان له افقه پریوځي !که ګورم چې نن هاغه داډ ،هغه تکیه ،هغه قلم ماتیږي، چې به مو دده په هڅونه او تشویق پنځونې کولې او به مو دده په دعاووپرمختګونه کول ،بس هغه لار !!هغه نور نه راځي ! هغه رانه خفه شواهغه نور دې نیمګړي دنیا کې نه اوسیږي !هغه حورو ته ځانته وغوښت !هغه ته خپل خالق نوره هغه دنیا خوښه کړه !

هغه نور دادحسرتونو دنیاګی پردې ګنې اوخپل اصلي تاتوبي ته ځي !هغه لار هو هغه لار!!

آه خدایه ج !قلم مې څه نشي لیکلای !

آه خدایه ج !قلم مې ګوتو کې ریږدي!

آه خدایه ج! دا څنګه نیمګړي دنیاګی ده، چې دا سې متواضع ،فقیر مزاجه ،له خندا ډک ،خواخوږی او مجاهدحقاني رح یې هم رابانديې ونه لوراوه ،پریږده! چې دا جهاد خو یو وار خپل منزل مقصود ته رسیدلی وی ! پریږده چې دې سپین کاروان خو یو واربیا دکابل په ارګ داسلام سپین بیرغ رپولای وی !پریږده چې یو وار خو حقاني صیب په خپلو سترګوخپل هیواد کې شرعي نظام لیدلای وی !پریږده چې یو واردجهاد دفرهنګي قافلې دا سرخیل دمیوند دنګ څلې ته هسک شوی اودنیاوالو ته یې غږ کړی وی ،چې ای دنیاوالو! ای نړیوالو! اسلامي امارت دقرآن قانون غوارې سوله غواړې په امن کې دمسلمانانواوسیدل غواړې ،جهاد یو فریضه ده ،ترهګري نده ،دا دفاع ده، تعرض اویرغل ندی او.....او.....او.....

خوکاش!

مرګیه !چې لږ خو دې راته زما(سلیم حاجي) پریښی وی ،چې یو څل خو یې خپل ماشومان ،اولادونه او کونده مور لیدلای وی! دا خو مسافر وداخو میلمه واداخو جهادي کار پسې وتلې واای کاش ..ای کاش.....ای کاش.....

خدایه ج ته یې په خپلو رحمتونو کې راونغاړه !

خدایه !ج ته یې دشهیدانو صف کې حشر ونشر وکړه !

خدایه!ج ته یې فرهنګیانوته نعم البدل ورکړه !

خدایه !ج ته یې ارمانونه پوره کړه !

خدایه ج !ته یې اهل وعیال ته ،ملګرو ته او همسنګرو ته صبرجمیل ورکړه !!

آمین ثم آمین ثم آمین !

در فراق سید محمد حقانی – رحمه الله !

ابوصهیب حقانی

آن گل که به چمن بیشتر میدهد صفا
گلچین روزگار امانش نمی دهد
گلچین روزگار عجب خوش سلیقه است
میچیند آن گلی که به عالم نمونه است

"قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلاَنَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ" (التوبه ۵۱)

خبری به شدت غم انگیزی بود خبر رحلت و وفات عالم فرزانه، دانشمند فهیم، مبارز خاکسار، مجاهدی فداکار، پدری مهربان، امیری شفیق، همسنگری رفیق، یاور قدرشناس و بیدارگری دلسوز جناب محترم الحاج مولوی سید محمد حقانی رحمه الله (معروف به سلیم حاجی صاحب) معاون کمسیون امور فرهنگی امارت اسلامی افغانستان.

هیچ باورم نمی شود ولی از آنجا که موت حق است و انکار ناپذیر، باید باور کرد رفتن شخصیت بزرگوار حاجی سید محمد حقانی رحمه الله، به الله معلوم است که قلمم یارای نوشتن این کلمات را ندارد و قلبم از فراق آن شیخ عزیز و محبوب بسی اندوهگین و ناراحت، و چشمانم از غمش اشکبار است.

حاجی سید محمد حقانی رحمه الله، یکی از شخصیت های واقعا نمونه بود؛ مثل بسیاری دوستان قلبا دوست شان داشتیم، از ارشادات و رهنمایی های شان همواره مستفیض می شدیم، او که سرشار از امید و روحیه بود، لبخند شیرین اش را که همیشه بر لب داشت و با محبت بسیار فراوان ما را در آغوش می گرفت و در راه جهاد و مبارزه دلداری مان می داد را هرگز فراموش نمی کنیم؛ او واقعا یک پارچه انسانیت و اخلاص بود، صاحب درک و درایت، دلسوز و غمخور، خاکسار و نهایت متواضع، دوست داشتنی و به شدت محبوب یاران.

حقاني صاحب دارای خصوصیاتی بود که حقیر در کمتر کسی دیده بودم و می بینم؛ فکر نمی کنم هرکسی که با ایشان از نزدیک شناخت داشته و یا با ایشان کار کرده و همراهی نموده

است جز خاطرهٔ خوش دیگر چیزی از وی به ذهن داشته باشد؛ و اینک خبر وفات ایشان واقعا برای ما سخت و دلگیر کننده است و فقط از الله ذوالجلال استدعاء می کنیم ضمن شادی روح آن بزرگمرد، به دلهای داغدیدهٔ ما تسکین و آرامش عنایت فرموده و در فراقش به ما صبر جمیل و اجر جزیل و استقامت کامل نصیب فرماید.

آنچه که از سید محمد حقانی مرحوم در ذهن دارم بطور گذارا عبارت اند از:

اخلاص و فداکاری:

حقانی صاحب مرحوم چنان شخصیت اخلاص مندی بود که هر کسی با ایشان برای اولین بار ملاقات می کرد تحت تاثیر اخلاص وجودشان قرار می گرفت و چنان فداکار بود که همیشه دیگران را بر خود ترجیح می داد و زمانی خوشحال می شد که خوشحالی را در همکاران و شاگردان شان حس می کرد.

دلسوز و با احساس:

حاجی صاحب مرحوم یک انسان بسیار دلسوز و مهربانی بود و همیشه این موضوع را راحت می شد از حرف های شان فهمید چنان دلسوزانه سخن می گفت و چنان با درد و دلسوزی حرف می زد که دلها به وُجد آمده و دلنشینی سخنان شیرین شان کاملا احساس می شد؛ همینطور یک شخص بسیار با درد و احساس، که در انجام مسئولیت کاری از هیچ تلاشی دریغ نکرده و شب و روز نمی شناخت.

خُبره و خوش اخلاق:

سید محمد حقانی رحمه الله چنان در کارش و تشویق دوستان به فعالیت های جهادی خُبره و چیره دست بود که انسان اصلا در کنارشان احساس خستگی نمی کرد و چنان خوش خلق و مهربان بود که آدم می خواست ساعت ها با آن بزرگوار مجلس داشته باشد و از حرف های دلسوزانهٔ شان لذت ببرد.

قدرشناس و با حوصله:

حقانی صاحب مرحوم یکی از انسان های خوب خدا بود که بسیار آدم قدر شناسی بوده و اطرافیانش را نهایت احترام می نمود و با هر کسی به گونهٔ رفتار می کرد که هرگز احساس بیگانگی و دلتنگی نکرده و به شدت به کارش تشویق باشد؛ و همینطور در حوصله افزایی، نمونه بودند؛ اگر مشکلی بود و یا موضوعی را با دوستان شریک می ساخت بسیار با حوصله به نظرات تک تک شان گوش فرا داده و ارج می گذاشت، بارها اگر مزاحم وقت شان شدی، با حوصله و خوش رویی می پذیرفت و با متانت و آرامش به تمام حرف های دوستان مخلصانه گوش می داد و با علاقه مندی و احترام خاص نظر خویش را راجع به مسائل بیان می کرد.

نرم خوی و متواضع:

از دیگر صفات بارز حقانی صاحب مرحوم نرم خویی و تواضع شان بود؛ ایشان چنان نرم طبیعت، خون گرم و با محبت بود که هر کسی

شیفتهٔ اخلاق زیبا و نرم خویی شان شده و از همکلامی با ایشان لذت می برد؛ و در عین حال بسیار با تواضع و فروتن بود، شکسته نفس و آرام، خوش گفتار و متین، با حوصله و بردبار که امید داریم الله متعال جای ایشان را بهشت فردوس بگرداند و ما از ایشان نهایت راضی بودیم الله از ایشان راضی باشد.

موارد یاد شده، تنها مشتی نمونه خروار از اخلاق والا و خصوصیات شخصی حقانی صاحب بزرگوار بود که بیش از این نه قلمم یارای نوشتن دارد و نه هم در حال حاضر در خودم استعداد توضیح بیشتر می بینم.

جا دارد رحلت غم انگیز سید محمد حقانی صاحب را ابتداء به مقام عالیقدر امیرالمومنین - حفظه الله -، شورای محترم رهبری امارت اسلامی، متعلقین و فامیل ارجمند ایشان و تمام بزرگان جهادی و مخصوصا یار غار و رفیق همیشه همراه شان جناب محترم رئیس کمسیون فرهنگی و سایر همکاران و همران، تسلیت عرض کرده و از بارگاه الهی برای آن بزرگوار جنت الفردوس و برای بازماندگان شان صبر جمیل و اجر جزیل را مسئلت نمائیم.

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، وارْحَمْهُ، وعافِهِ، واعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، واغْسِلْهُ بِالماءِ، والثَّلْجِ، والْبَرَدِ، ونَقِّهِ منَ الخَطَايَا، كما نَقَّيْتَ الثَّوب الأَبْيَضَ منَ الدَّنَس، وَأَبْدِلْهُ دارا خيراً مِنْ دَارِه، وَأَهْلاً خَيراً منْ أَهْلِه، وزَوْجاً خَيْراً منْ زَوْجِه، وأَدْخِلْه الجنَّةَ، وَأَعِذْه منْ عَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّار.

دجهاد د مشروعیت یو ستر حکمت

قال الله تعالی: ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع و بیع و صلوات و مساجد یذکرفیها اسم الله کثیرا ولینصرن الله من ینصره ان الله لقوی عزیز} ۴۰ { سورة الحج.

ژباړه : که الله تعالی ځینې دخلقو په ځینو نوروسره نه دفع کولای نودنصاراوو عبادت خاني دیهودو معبدونه اودمسلمانانو هغه مساجد چې دالله تعالی ډیرذکر په کې کیږي ،ړنګ شوي اووران شوي وای .او الله جل جلاله اړومرو دهغه ډلې مرسته کوي چې دالله تعالی ددین مرسته کوي اوبې شکه چې الله تعالی ډیر قوي اوغالبه دی.

تشریح: لکه وړاندي دموسی علیه السلام په دین کې دجهاد دمشروعیت یوحکمت داو چې د هغه مهال عبادتخاني وراني نشي- او خلک دالله تعالی له عبادته ونه ګرزي ،همداسي یې دعیسی علیه السلام په دین کې هم یوسترحکمت داوچې دوخت دعبادت مراکز وران نشي ، داسې دآسماني دینونو ترټولو په وروستي دین اسلام کې هم دجهاد دفرضیت یوه لویه موخه داده: چې اسلامي شریعت دالله تعالی په ځمکه خپور[نافذ] شي، خلق دیوه الله جل جلاله عبادت وکړي ،مساجد دالله تعالی په عبادت کونکو ډک شي . اودآیة په پای کې وویل شول چې الله تعالی به ددغې ډلې مرسته وکړي اوالله تعالی ډیر قوي اوغالبه دی.

قلمي جهاد

د عابد لیکنه

دالله تعالی په لاره کې دجهاد دسپېڅلې دندې دپرمخ بېولو له ډېرو انواعو څخه یوه هم قلمي جهاد دی، که څه هم ددنیا له پرمختګ او عصریتوب سره به داخبره خلک کوي چې اوس خوپه لیک کې دقلم ونډه کمه ده اودنن سواد ترکمپیوتر اوزده کړې یې تړلی° خوقلم سره له دې چې الله تعالی لوړ مقام اوارزښت ورکړی، په اړتیا او لرغوني ارزښت کې بیاهم نني عصري وسایل ترې پروا نه دي او ډېرځله له داسې حالاتو سره موږ مخ یو، چې خپل یادښتونه له قلم پرته نه شوخوندي کولای . بله داچې هیڅ داسې مرجح اومانع هم نه شته چې دنن نوي ادبي، علمي، او هرډول لوړې لاسته راوړنې دقلمي پرمختګ له اصطلاح څخه بېلې کړي .

اوس خو په هرځای کې دمتخاصمو جهتونو دزور آزمایني زوروره وسله مطبوعات اورسنۍ دي، ځکه په ننۍ دنیاکې چې میډیا اومطبوعات خلک په کوم ډول څملوي، بله هیڅ داسې وسله اووسیله یې نه شي څملولای، همدا لامل دی چې زمونږ ټولو دښمنانو مونږ ته دا سنګر ټینګ نیولی اوتل یې له دې مورچله په ټوله کې ټول مسلمانان او په ځانګړي توګه مجاهدین ویشتلي یو، ځکه به نو له نورو ټولو خبرو تېریږو او یواځې په مطبوعاتي برخه کې به خپل قلمونه وارزوو چې ترکومه حده یې دغه سنګرګرم ساتلی او کومې لارې چارې لاهم نظر انداز دي .

لکه پورته مو چې یادونه وکړه دنن قلم په ټولو هغو لارو چارو اطلاق دی چې یومبتکر ذهن یې دسواد په لارکې په هرډول نویو وسایلو پیاده کوي، همدغسې په مطبوعاتي میدان کې هم ټولې هغه کړنې ترسره کول اوهغه چارې خپلول رښتینی قلمي جهاد دی، چې په دې برخه کې یې مؤثریت دنوروچارو په پرتله زیات وي، دې ټکي ته باید په سطحي نظر ونه ګورو،بلکې دقلمي جهاد په سنګرکې یې ترټولو لوړ اصل وګڼو، ځکه مؤثریت یې تر دومره حده زیات دی چې حتی دډېر مبتکر اوساحرانه قلم اغېز هم ننګولی شي، داسې چې که مونږ هرڅومره مؤثراونازک خیال

قلم ولرو، خو چې لیکنه مو تل له یوده داسې سنګره وي چې هغه ددښمن متقابلو شعاعو اغېزمن کړي وي مؤثریت به یې ډېرکم وي اوخلک به یې ځکه نه لولي چې په طرف کې به یې بولي، دایوداسې ډول دفع اوپځول دي چې درد یې هم همداسې باریک ذهنونه درک کولای شي، داسمه ده چې دغه سنګر باید پرېښودل شي، خوهدف ته په رسېدوکې له نورو خواوو څخه هم بایدکارواخیستل شي اوتولې هغه لارې چارې خپلې شي چې دښمن ته په دې ډګرکې ضربه ورکولای شي.

له دښمن سره دمسلحانه جهاد ترڅنګ دمطبوعاتي سنګر داهمیت اوارزښت په اړه به خبره نه اوږدوو په دې اړه ډېر څه ویل شوي اوترډېره له دغه ارزښت څخه اوس څوک انکار هم نه شي کولای° یواځې دېلګې په ډول به په هیوادکې دمجاهدینو دفتوحاتودځپو په راتلوسره ددښمن په هغه کړنو یوځه وغږېږو چې دمعرکې په ډګرکې له هرډول مقابلې دپاتې راتلو په صورت کې یې له مطبوعاتي وسایلوڅخه دوروستۍ وسلې په توګه کار واخیست، البته دژورنالیزم له تولو نورمونو خلاف یې دتهمت اوافتراء لارېکې غوره کړه .

کله چې مجاهدینو دکندز ولایت فتح کړاودښمن له تولې زورآزمایۍ سره سره له طالبانو ماتې ومنله،ډېرو غرضي اوپه طرف کې واقع رسنیوله منل شویو مطبوعاتي اصولو تېرې وکړ اوپه هیڅ یې له طالبانوسره ځان په دښمنۍ کې ښکېل کړ، په تېره د"طلوع" او "یک" تلوېزونونو په داسې بې شرمانه تبلیغاتو لاس پورې کړ، چې هیڅ ډول اساس یې نه درلود،په عین حال کې نورو غربي رسنیوېې هم ددې په ځای چې وضع شوي اصول په پام کې ونیسي ° ددوی خبره ورسره غبرګه اود "دداسې ویل کیږي" په نادرستې جملې سره یې دې افواهاتو ته هوا ورکړه، په مجاهدینو یې تهمتونه پورې کړل اوپه توله بې شرمۍ یې داسې راپورونه جوړول، چې هیڅکله یې په سپیناوي اوثبوت ونه توانېدل، ولې داچې دښمن ته نور هیڅ ورپاتې نه و، نو همدادول بې اساسه اوبې بنیاده راپورونوجوړولوته یې دوام ورکړ، دنیا هم داهرڅه لیدل اوڅارل، هیڅا اوهیڅ نړیوال مطبوعاتي ارګان پرې غوږ ونه ګراوه، ترڅو مجاهدین مجبورشول اوپه نظامي عکس العمل ښودلو سره یې دهغوی شر له ځانه دفع کړ.

له دوو ټکو دې جریان ته وګورئ! که دمؤثریت له نظره ورته ګورئ، نو ډېر هغه پاک ذهنونه چې دمطبوعاتو له ننې تحریف نه خبرنه دي° په دې خبروشایدترډېره په تشویش کې شوي وي اودطالبانو په باب یې بل فکر اخیستی وي، ورسره وګورئ! څه ډول په ګرم سنګر کې دوسلې مؤثریت دقلم په وړاندې کمېدای شي، دلته ددغسې مطبوعاتي ګوزار په وړاندې دفع د چټک غبرګون په ډول په ډېرو نورورسنیزو لارو سره هم کېدای شوای چې میدان ببرته مونږ وړی وای اودښمن نور هم رسوا شوی وی، همدغسې ګوزا

اوهمدغسې دفع قلمي جهاد دی اوترهمدومره حده ورته اړتیاده .

راځئ څان په هغه څه تېرنه باسو چې دخپلو مطبوعاتو اومطبوعاتي کړنو لپاره يې مونږ وينو، بلکې ديودريمګړي اوهغه چا په سترګه به ورته وګورو چې زمونږ په مطبوعاتوکې هيڅ دخل اوکار نه لري اوله بهرنه ورته ګوري، شايدزمونږ نيمګړتياوې او کمزورۍ هم تربل هرچا همداسې څوک ښې وليدلی شي، زمونږ دمطبوعاتو په مؤثريت کې هغه څه چې مونږ يې خپله لاسته راوړنه بولو، شايد دی يې دهغو خوالـه رسنيو زېرنده وبولي چې تردېره يې کارکوونکي رضاکار مجاهدين او نور خواخوږي نظرونه دي ، نه دمجاهدينو دقلمي جهاد دسنګر مؤظفين اومسؤلين، ځکه شايدهغوی به تردې وخته په خپل تشکيل کې لادخوالـه رسنيو لپاره فعالـه شعبه اوځانګه هم ونه لري، چې په دې برخه کې پراخ کار وکړي .

په همدې دول بايد خپلې چاپې خپرونې وارزوو اومؤثريت يې وڅېړو، داسمه ده چې نويو برېښنايي وسېلو دومره اغېز نه دی شيندلی چې چاپې خپرونې يومخ خپل ارزښت له لاسه ورکړي اوپه هيڅ حساب شي، بلکې هره يوه يې بېل حيثيت او خپل خپل ځای لري، ولې هغه څه چې بريالیو اومؤثروچاپې خپرونو پرې دنن ورځې لوستونکی رانيولی اوله نويو برېښنايي وسايلو سره سره يې بياهم خپل لوستونکي له لاسه نه دي ورکړي ° بايد وپلټل شي اودبريادغه رمزونه په ګوته شي .

په ننې مطبوعاتي جهادکې به زمونږ اوزمونږ دقلم دوندې ارزونه په دووتکوکې رالنده کړو، هغه داچې يوزمونږ هيوادوالواونړيوالوته دخپلې حقې داعيې رسول دي اوبل دمتقابلو مطبوعاتو اورسنيودګوزار دفع اوځواب دی، پرمونږ ګوزارې هم دوه اړخه لري يوهغه چې مخامخ مونږ ته متوجه وي اوبل هغه چې زمونږ په اړه عامه ذهن بدلوي .

ددغودوو تکو په نظرکې نيولو سره به په مطبوعاتي جګړه کې خپلې په کارلوبدلې هڅې وارزوو او وبه ګورو چې ترڅومره حده زمونږ شته مطبوعاتي مورچلونه په دې لاره کې بريالي دي؟

له برېښنايي، اجتماعي اوارتباطي رسنيونيولې بياترچاپې خپرونو پورې تولې ترنظرتېرې شې، که چېرته يواڅې په هغه څه بسنه کوو چې مونږ يې له دغو هڅو لاسته راغلې بريا ګنو، شايدچې په دې کې به تېروتې يو، بلکې ترټولو مهم ټکي هغه دي چې له مونږ پرته يې نورخلک زمونږ بريا، يا نيمګړتيا بولي، چې له درک کولو وروسته تربحث لاندې ونيول شي .

د اسلامي امارت
د نوي قيادت مدبرانه اقدامات!

حقمل ضياء

د هر قائد او رهبر لپاره د ځينو نورو ځانګړتياوو تر څنګ با تدبيره اوسېدل او مدبرانه پريکړې کول يو ډېر ضروري شرط او عمل دی؛ په ځانګړي ډول د هغو مشرانو لپاره چې د اسلامي امت رهبري په خپله غاړه ولري.

د اسلامي امت د مخلص او باوقاره مشر اميرالمومنين ملا محمد عمر مجاهد (رحمة الله عليه) دوفات د خبر خپرېدل، او د اسلامي امارت د نوي قائد اميرالمومنين ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) د انتخاب، دواړه مهم او سرنوشت سازه موضوعات په داسې حال کې منځ ته راغلل، چې حالات ډېر زيات حساس او د بدلون په پراو کې وو، د مجاهدينو جهادي بهير بشپړ ځپاند شوی وو، د فتوحاتو پرله پسې لړی روانه وه، د اسلامي امارت دښمنانو د تفرقه اچونې هڅې تندې کړې وې، د اشغالګرو د اشغال ستراتيژی د تزلزل سره مخ وې او دوی د تېښتې او پاتې کېدو له نا معلوم حالت سره مخ وو، ګوډاګی اداري په اوبو کې چاړه ليدلی وه ،نو په همدې سبب په سيمه کې د نوو همکارانو په لټه کې وو او بالاخره سيمه د داسې ګنو جرياناتو شاهده وه، چې د هر چا لپاره د تدبر نه ډک اقدام پکار وو.

دا چې د پورته ذکر شوو موضوعاتو تړاو له اسلامي امارت او د مقابل جانب سره وو ،نو په همدې سبب نوي مشر تابه ته د دغو حالاتو په وړاندې يو سنجيده دريځ او عمل پکار وو، چې له يوې خوا ځخه مجاهدين متحد او منظم کړی شي او پوځي پرمختګونو ته دوام ورکړل شي او له بلې خوا ځخه د سيمې له حالاتو سره په داسې ډول تعامل وشي، چې دښمنان تربنه د ځان لپاره ګټه ونه کړی شي او له ناهيلی سره مخ شي.

د اسلامي امارت نوی زعيم اميرالمومنين ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) چې اميرالمومنين ملا محمد عمر مجاهد (رحمت الله عليه) په خپل ژوند کې هم د امارت د نيابت مسؤوليت ور له غاړې کړی وو، ټولې چارې هم ده پرمخ وړلې او د امارت له هر قسم مشکلاتو، تشکيلاتو او اصولو سره اشنا و، نو په همدې سبب د نوي زعيم په توګه له ټاکل کېدو وروسته په ډېره کمه موده کې د خپلو مخلصو او وفادارو همکارانو په مرسته او کومک په دې وتوانېد ،چې اسلامي امارت په صحيح ډول رهبري کړي، بې شمېره

لاسته را وړنې ولري، او خپل مدبرانه قیادت ثابت کړي، چې د بېلګې په ډول مو لاندې څو نکتو ته پام اړوم.

۱ ـ د وحدت په برخه کې : دا چې وحدت او اتفاق د هر چا لپاره یو ډېر ضروري اصل دی او هیڅ ټولنه او اجتماع د اتفاق پرته دوام نه شي موندلی، نو په همدې سبب د اسلامي امارت نوي مشر تابه د مجاهدینو ترمنځ په خاص ډول او د ټول مسلمه ملت ترمنځ په عام ډول د وحدت لپاره ډېر کوښښ کړی دی.

د نوي زعیم تر ټاکل کېدو وروسته د بیعتونو مسلسل جریان، او په منظم ډول له دغو جریاناتو څخه د ټولو مسلمانانو خبرول او بیا وروسته د امیرالمومنین (حفظه الله) له لوري د دغو بیعتونو قبول؛ یو وار بیا ټول مجاهدین، مخلص مسلمانان او د اسلامي امارت پلویان د یوه اسلامي امارت او د یوه امیر تر قیادت لاندې راټول کړل او د دښمنانو هغه هڅې او شوم امیدونه چې دوی د اسلامي امارت د تفرقې لپاره لرل، ټول شنډ شول.

د ځینو محدودو او د ګوتو په شمار خلکو پرته نورو ټولو هغو خلکو چې مرحوم امیرالمومنین یې خپل رهبر ګاڼه، له نوي امیر سره بیعت وکړ؛ او په دې سره نه یوازې دا چې د اسلامي امارت هغه قوت او اهمیت چې له پخوا یې درلود، په خپل ځای پاتې شو، بلکه له پخوا لا زیات غښتلی او مجاهدینو خپلې مبارزې ته لا زیات ژمنتیا څرګنده کړه.

۲ ـ جهادي بریاوې : نوی قیادت په دې وتوانېد، چې ټول مجاهدین په کمه موده کې سمبال کړي، د نویو، خورا لویو او بریالیو عملیاتو لپاره پلان ګوزاري وکړي، د دښمن په وړاندې پرمختګونه ولري، د جګړې تحرکات او کنټرول په خپل لاس کې واخلي، په پرله پسې پرمختګونو سره د دښمن د مقاومت روحیه له منځه یو سي او بالاخره نیول شوي سیمه وساتي.

په دې وروستیو کې د مجاهدینو بې ساري پرمختګونه هېښوونکي دي او هیڅ چا هم دا فکر نه کاوه، چې په دې موده کې چې لا تراوسه پورې د اشغالګرو عسکر، پرمختللي وسلې او ډول ډول الوتکي لا هم له ګوډاګیانو سره په جګړو او چاپو کې مل دي او مجاهدین دي بیا هم دومره لوي پرمختګونه وګړي او ستراتیژیکې سیمې تر خپل کنترول لاندې راولي.

د اشغال ګرو د وروستیو احصایو له مخې سږ کال د ګوډاګی عسکرو مرګ ژوبله د تیر کال په پرتله ډېره زیاته شوی ده؛ هم دغه فو ځي فشار دی، چې دښمن دومره په پراخه کچه ځپل شوی دی، چې اوس له مقاومت پرته سیمې خوشې کوي، ډلې ډلې حکومتي ځواکونه مجاهدینو ته تسلیمېږي، د

ګوډاګيانو مشران چې له جنګه ستړي شوي، نه د خپلو سربازانو له حاله خبر دي، نه د ټولې شوو سيمو د بيرته نيولو خبرې کولای شي او نه هم د پاک سازی په نوم عملياتونه ترسره کولای شي.

دغه پور تنې موارد ټول د مجاهدينو بر لاسي ټوب او د نوي مشر-تابه مدبرانه اقدامات څرګندوي.

۳ ـ د داخلي اصلاحاتو په اړه : د اسلامي امارت نوي مشر تابه د نورو مهمو موضوعاتو تر څنګ د مجاهدينو داخلی اصلاحاتو ته خاصه پام لرنه لري؛ ځکه چې يو جهادي صف د شرعي اصولو له مراعت کولو پرته هيڅ پرمختګ نه شي کولای، د الله (جل جلاله) مرسته او کومک نه شي خپلولی او د مسلمه ملت اعتماد هم نه شي تر لاسه کولای.

په دې وروستيو کې اميرالمومنين (حفظه الله) په خپلې مخابروي وينا کې مجاهدينو ته لارښوونه وکړه، چې په جهادي صفونو کې دي بې ډيري (لغړزني) تنکي هلکان پرې نږدي او دغه هلکان دي په ديني مدرسو کې سبقونه ولولي؛ د اميرالمومنين په دغه وينا د عمل په نتيجه کې له يوې خوا څخه جهادی صفونه د نا مشروع اړيکو او بد نامی څخه ژغورل کيږي او له بل پلوه يو داسې نوی جهادي نسل روزل کيږي ،چې په ديني علومو کې پوره پوهه ولري.

دې ته ورته نور ډېر اقدامات شوي، چې د داخلي اصلاحاتو په اړه د نوي قيادت توجه څرګندوي.

۴ ـ له ولس سره ښې اړيکې : د نوي قيادت په راتګ سره له ولس سره مجاهدين ډېر زيات نږدې شوي دي او ولسي خلکو له مجاهدينو سره خپل همکاري پيل کړي ده او د وروستيو کاميابيو راز هم له مجاهدينو سره ولسي همکاري ګڼل کيږي.

دا چې د هيواد اکثريت نفوس په اطرافي سيمو کې هستوګنه لري او اوس مهال اطرافي سيمې تقريباً ټول د مجاهدينو په لاس کې دي او د ولس اکثريت نفوس د مجاهدينو تر واک لاندې سيمو کې په بشپړ امنيت او هوسا ډول خپل ژوند تېروي ،نو په همدې سبب د ولس همکاري له مجاهدينو سره مخ په ډېرېدو ده.

د کندز د فتحې په ورځو او شپو کې حکومتي چارواکو په زغرده اعتراف وکړ ،چې ولس له طالبانو ملاتړ کوي او په کورونو کې ورته ځای او ډوډۍ ورکوي.

دا چې د ولس همکاري له مجاهدينو سره مخ په زياتېدو ده ،مهم علتونه يې د مجاهدينو له لوري له ولس سره ښې اړيکې او چلند، ولسي-خلکو ته د امنيت فضا برابرول، د فساد مخه نيول او د

شریعت پلي کول دي؛ نوی مشر تابه هم همېشه په مجاهدینو تاکید کوي، چې له ولس سره ښه چلند او د خپلو شته امکاناتو په اندازه دي د دوی خدمت وکړي.

۵ ـ د سولې په اړه : دا چې د سولې او مذاکراتو په نامه دښمن ډېر ښې ځایه تبلیغات کوي او تشویش اچوونکي خبرونه خپروي ،نو په همدې سبب د اسلامي امارت نوي مشر ـ تابه په دې اړه یو څرګند دریځ خپل کړی دی او ټولو مسلمانانو او مجاهدینو ته یې ډاډ ورکړی دی، هیڅ کله به په دین سودا ونه شي.

امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور(حفظه الله) هم په خپلو ویناوو کې ټولو مسلمانانو ته ډاډ ورکړی دی، چې زمونږ نهایې هدف د شرعي نظام قیام دی او د دښمنانو تبلیغاتو او تشویش اچوونکو خبرو ته غوږ مه نیسئ.

د اسلامي امارت نوي مشر تابه مسلمانانو ته خپل دریځ اعلان کړی دی، چې د جهاد تر څنګ د قران او حدیث د ارشاداتو مطابق سیاسي فعالیتونه د نبوي سیاست یوه برخه ده او په دې کې هیڅ کوم مشکل نشته؛ اسلامي امارت که له چا سره په کوم موضوع خبرې کوي ،جریان به یې له مسلمانانو پټ نه ساتل کېږي، له شرعي اصولو تنزل به نه کېږي او همدارنګه که څوک موږ سره د خبرو له لارې شرعي نظام ته غاړه ږدي نو موږ ورسره مشکل نه لرو.

اسلامي امارت په سیاسي برخه کې د منظم فعالیت لپاره سیاسي دفتر جوړ کړي دی او د سیاست په برخه کې کارونه یې په همدې دفتر پورې تړلي دي، دا د دې لپاره چې له یوې خوا څخه د اسلامي امارت لپاره یو معلوم ادرس موجود وي او له بلې خوا څخه د علماوو او پوهو اشخاصو په مشرۍ دغه دفتر د اسلامي شریعت د اصولو په رڼا کې خپل فعالیتونه پرمخ یو سي.

٦ ـ د کندز د فتحې په جریان کې : د اسلامي امارت د نوي قیادت له مدبرانه اقداماتو څخه یو هم د کندز د فتحې جریان وو.

د اسلامي امارت مشر تابه په مدبرانه ډول و کړای شو،چې د کندز د فتحې لپاره منظم پلان جوړ کړي، مجاهدین منظم کړي، او په ښه ډول د خپلو قوماندانانو په مشرۍ یې رهبري کړي؛ له فتحې وروسته سم دستې د اسلامي امارت مشر تابه مجاهدینو ته د فعالیتونو لپاره اصول وضع کړل او ټولو هغو خلکو ته چې په ګوډاګي اداري کې یې دندې ترسره کړې وې، د خپلو دندو د پرې ښودو په بدل کې عامه بښنه اعلان کړه.

مجاهدینو د دښمنانو د هر قسم حملو او فشارونو با وجود د کندز ښار تر دوه اونیو تر خپل کنټرول لاندې وساته، خو دا چې د کندز د ښار دننه مقاومت ګټه نه درلوده او په عین حال کې ولس له

سختو کړا ونو سره مخامخ کېده او دښمنانو هم په هیڅ چا صرفه نه کوله، نو په همدې سبب د اسلامي امارت نوي قیادت مجاهدینو ته له ښاره د عقب نشینی امر وکړ.

د کندز د فتحې منظم جریان دښمن دې ته مجبور کړ، چې د اسلامي امارت د نوي مشر تابه په قوي قیادت او رهبری اعتراف وکړي.

۷ ـ د فساد په مقابل کې : لکه څنګه چې د اسلامي امارت بانې ثالث عمر امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد (رحمت الله علیه) خپله مبارزه د هغو جهادي ډلو ټپلو په مقابل کې پیل کړې وه ،چې د شوروي ځواکونو او د کمونیزم له ماتې وروسته د قدرت په خاطر په خپلو منځو کې سره اوښتي وو او فسادونه یې پیل کړي وو؛ نوي قیادت هم د فساد او مفسدینو په وړاندې دغسې اقدامات وکړل، چې د ببلګې په ډول د ننګرهار او زابل ولایتونو کې د داعش په نوم د هغو وسلوالو څپل چې په دې سیمو کې د اسلامي امارت څخه یې بغاوت اعلان کړی وو، په سیمو کې یې له مجاهدینو سره جګړې پیل کړې وې، غلاوې او اختطافونه یې کول، د سیمې خلک یې خوړول او همدارنګه ځینې نور کارونه.

د اسلامي امارت نوي مشر تابه تر ډېره حده د دغو خلکو د پوهولو، اصلاح او د خبرو له لارې د موضوعاتو د حل کوښښ وکړ، مګر هیڅ نتیجه یې ورنه کړه او دغه کسانو هم هیڅ قسم روغ نیت نه درلود، چې بالاخره مجاهدین دې ته مجبور شول، چې د دوی په وړاندې اقدام وکړي، همدارنګه په دې وروستیو کې مجاهدینو په مختلفو ولایتونو کې هغه کسان نیولي او شرعي سزا یې ورته ورکړی ده، چې د پیسو لپاره یې تښتونې کولې.

۸ ـ وروستي پرمختګونه : دا چې د ژمي موسم را رسېدلی دی، خو جهادي بهیر د سستېدو پرځای ورځ تر بلې د ګرمېدو په حال کې دی، ددښمنانو په مهمو مراکزو مجاهدینو د کره هدف منډ او کارنده استشهادي بریدونو بر سېره مجاهدینو په دې وروستیو کې دښمن ته په جبهیي جنګونو کې هم ماته ورکړی ده، چې ښه ژوندي مثال یې د هلمند د سنګین او خانشین او د فراه ولایت د ګلستان ولسوالیو فتوحات دي؛ چې دښمن د خپل ټول قدرت او طاقت سره د دغو سیمو د ساتلو کوښښ وکړ، مګر هیڅ شئ یې لاسته رانه وړ.

د روان ژمي په موسم روان تند جهادي بهیر د مجاهدینو د قوي عزم او د نوي مشر تابه د مدبرانه قیادت څرګندونه کوي او د هیواد د بشپړ او سرتاسري فتحې زېرى له ځانه سره لري.

که څه هم ډېر نور داسې اقدامات شته ،چې د نوي قیادت په مدبرانه رهبری دلالت کوي، خو د موضوع د اوږدېدو په وجه پور تني یو څو موارد مو د مثال لپاره کافي و بلل.

۲۰۱۵ میلادی کال کې جهادي بهیر ته کتنه!

د اشغال پر خلاف د جهاد یو بل کال تیر شو،۲۰۱۵ م کال چې د جهاد په تیره څوارلس کلنه دوره تر ټولو د تاکوونکي او امیدبښونکي کال نوم ورباندې ایښودلی شو،دې کال ګڼ، تحولات،حوادث او نااټکله پیښې له ځان سره درلودې،چې د ټولو سیاسي، پوځي، ټولنیزو، فرهنګي او نورو جریاناتو احتوا یې ددې لنډې لیکنې د وس خبره نه ده، نوځکه په دې لیکنه کې یوازې د جهادي ډګر په مهمو پوځي پیښو، پرمختیاوو او سوبو رڼا اچوو.

کال څنګه پیل شو؟

۲۰۱۵ م جهادي کال له پیله د مجاهدینو د بریالیو سره همغږې و،ددې کال لومړۍ میاشت جنوري له دې سره چې د موسمي نامساعدتیا له امله د جهادي بریدونو د کمښت موسم بلل کیږي او هرکال په کې ترټولو لږ جهادي عملیات وي مګر بیا هم د لاندې بریدونو غوندې د مهمو پیښو شاهده وه. د جنورۍ په ۴ مه د کندز دوه مهم اربکي قومندانان، دبرکي برک د اربکیانو مشر خلیل او د غزني د قره باغ جنایي آمر ووژل شو،په ورپسې ورځ کابل نهمه حوزه او د ننګرهار له هوایي ډګر سره بهرنیان په فدایي حملو کې له منځه لاړل،٦ مه بدخشان تګاب کې مجاهدینو پراخ برید پیل کړ،۷ مه د خوست د پولیسو په اکادمۍ د فدایانو پراخ برید،په مرکزي بغلان کې ۱۲ عسکر مړه ۱۲ تسلیم شول، ۱۰ مه د پکتیکا دوالي په کاروان برید، ۱۲ مه د زابل دمیزاني امنیه قومندان ووژل شو او د هلمندپه نوزاد کې یوه نفوذي پولیس مجاهد له ولسوال پرته دقومندان په ګډون د ولسوالۍ ټول چارواکي ووژل، ۱۴ مه د المار امنیه قومندان او جنایي مدیر ووژل شول،۱۸ مه لښکرګاه کې په پولیسو فدایي برید،۲۱ د غور مرکز ته ځیرمه لسګونه اربکیان تسلیم شول او د کندز په امام صاحب کې مجاهدینو پنځه ستړي سیمې له اربکیانو تصفیه کړې، دغه راز له معمولو بریدونو، چاودنو او هدفي حملاتو سره یوځای په دښمن ستر بریدونه هم جاري پاته شول

چې د هرې ورځې په تیریدو سره یې زور اخیست تردې چې وروسته د فتوحاتو او سیمو د ازادۍ لړۍ پیل شوه.

فتحه شوې سیمې ،ولسوالۍ او ددښمن مرکزونه

په تیر ۲۰۱۵ میلادي کال کې له نظامي اړخه د مجاهدینو یوه ښکاره بریا دا وه چې په لومړي ځل په پراخه کچه د دشمن د پوستو،بیسونو،کنډکونو او ولسوالیو د فتحو بهیر پیل شو، الله تعالی مجاهدینو ته د هیواد په پراخه اراضي تمکین حاصل کړ،ډیرې سیمې،درې او مناطق ددښمن له شتون نه تصفیه شوې چې دلته به ورته په لنډو اشاره وکړو.

د ۲۰۱۵ م کال له لومړۍ نیټې بیا تر وروستۍ ورځې پورې مجاهدینو د هیواد په لر او بر کې د کندز ولایت په مرکز سربیره ۳۴ ولسوالۍ فتحه کړې چې مطلق اکثریت یې تراوسه په خپل واک کې ساتلي دي او څو یې بیرته دښمن تصرف کړي دي،دغه ولسوالۍ چې مراکز یې په تیر کال کې مجاهدینو فتحه کړي او اکثره اوس هم د مجاهدینو په ولکه کې دي نومونه یې په دې ډول دي: د فراه بکوا، خاک سفید،بالابلوک،گلستان، د بادغیس جوند،د غور چارسده، د پنجشیر دره عبدالله خیل،د بدخشان یمگان،بهارک، د بغلان تاله وبرفک د هلمند نوزاد،موسی کلا، سنگین ، خانشین او د موسی کلا په حدودو کې د باغران د ولسوالۍ مقام ،د هرات غوریان،د کندز دوه ځله چاردره ،دشت ارچي،قلعه زال او امام صاحب،د نورستان وانټ وایگل،د سرپل کوهستانات ،د پکتیکا گواشته،د تخار اشکمش، ینگي کلا،خواجه غار او درقد، د لوگر خروار،د جوزجان خم آب،د فاریاب خواجه ناموسی او گرزیوان، د کندهار غورک،د غزني خوگیاني او د ناوې مرکز چې دشمن نیولی و بیرته ترې ونیول شو.

په یادو فتوحاتو سربیره د کال یوه مهمه او تاریخ سازه پیښه د سبتمبر په ۲۸ مه نیټه د کندز ولایت مرکز چې د افغانستان شپږم تر ټولو ستر ښار دی فتحه وه،ددې سوبې په لړ کې مجاهدینو د کندز د ولایت مقام،قومنداني،بالاحصار او ټولو ریاستونو او بازار په شمول دغه ولایتي مرکز تر کنترول لاندې راوست او د هوایي ډگر له ځینو تاسیساتو پرته یې په ښار یوه نیمه اونۍ واک وچلاوو، چې وروسته ددشمن د بي رحمانه بمبار او اولسي-زیانونو څخه د مخنیوي په خاطر له ښاره ووتل، د کندز په فتحه کې مجاهدینو د کندز

زندان مات کړ،د ملي امنیت اسناد یې ترلاسه کړل او زرګونو میله وسلې او څو موټره مهمات یې ونیول، مجاهدینو د نظامي مصالحو په بنیاد د خپلو ترلاسه کړیو غنائمو دقیقه شمیره او اندازه ډاګیزه نه کړه اما حکومت د خپل حقیقت یاب پلاوي په راپور کې ومنل چې طالبانو ۳۷ هاموی شوبلې دوه ټي ٦٢ روسي ټانګونه او له زر میله ډیر د ملي اردو توپک په شمول د ګنو د شپې دوربینونو د غنیمت په توګه ترلاسه کړي دي.

د کندز غوندې مجاهدینو د غزني،زابل،روزګان او غور ولایتي مرکزونو ته هم تر دې حده ور لنډ شول چې حکومتي چارواکو تړې په تیښته پیل وکړ، په غزني کې مجاهدینو د سبتمبر په ۱۴ زندان مات کړ او ۴۰۰ بندیان یې را خلاص کړل،د یادو ولایتي مراکزو په تهدید سربیره مجاهدینو په تیر کال د خپل پرمختګ په لړ کې وتوانیدل چې د بغلان،هلمند او فاریاب ولایت مراکزو ته هم دومره ځانونه نږدې کړي چې مرمۍ یې دولایت په ودانیو ولګیدلی شي.

که دواک او سیطرې د سیمو د پراختیا او پوستو او بیسونو د فتحې په اړه ووایو نو ویلی شو چې تیر کال د هیوادپه ټولو ولایاتو کې دغه بهیر خورا بریالی او د قناعت وړ و، تیر کال د هیواد په ټولو ولایاتو کې پراخې سیمې ددشمن له وجودڅخه تصفیه شوې او ددښمن د پوستو او مراکزو ټغر تړې ټول شو.

کندز کې له چاردرې، ګورتیپې، قلعه زال،امام صاحب، ارچې، علي اباد او خان اباد له اقتاش سیمې د اربکیانو لمن ټوله شوه،مجاهدینو تقریبا په ټولو سیمو واکمن شول او کندز ښاریي تر محاصره لاندې ونیو، په بغلان کې به مرکزي بغلان کې د پولیسو ګڼ شمیر پوستې او کندکونه فتحه او له منځه لاړل،په دهنه غوري کې دری کندکونه او ګڼې پوستې دغه راز د پلخمري په مربوطاتو کې ډیرې سیمې او کلي ازاد شول،د بغلان په تاله وبرفک،دنډ غوري او بورکه کې هم ډیرې سیمې ازادې شوې.

په بدخشان د وردوج،راغستان، جرم،ارګو،یمګان او بهارک په ولسوالیو کې مجاهدینو ددشمن لسګونه پوستې فتحې او څو د اردو کندکونه له منځه یووړې چې په پایله کې یې د ولسوالیو تر منځ اتصالاتي لارې خلاصې، سیمې ازادې او د مجاهدینو دواک ساحه پراخه

شوه،په هلمند کې د نوزاد،موسی کلا، سنګین ، خانشین په فتوحاتو سربیره مجاهدینو نورې هم ډیرې پراخې سیمې تر واک لاندې راوستې.

د هلمند د مرکز مربوط د باباجي سیمې ته مجاهدین ننوتل او حکومتي اربکیان یې تړې وشړل،د نادعلي په مربوطاتو کې یې هم ډیر پرمختګ وکړ د ګرشک په لویه ولسوالي شورکی،قلعه ګز او حیدراباد سیمې مکملې د مجاهدینو په واک کې راغلې د میرمندو او زمبیلې تر منځ یوځو ددښمن پوستې پاته دي نورې د اسیمې هم مکملې له دښمن څخه تصفیه شوې دغه راز د ده ادم خان لویه سیمه هم زیاته برخه د مجاهدینو په واک کې ده.

بله خوا د مارجې او کجکي ولسوالۍ هغه سیمې دي چې له مرکزي ودانیو پرته نورې ټولې سیمې یې مجاهدینو نیولې لنډه داچې د هلمند په طول او عرض کې اوس مطلق اکثریت واک د مجاهدینو لاسته ورغلی او دښمن ته یوازې په لشکرګاه، ګرمسیر او ناوه ولسوالۍ کې تر یوه حده دواک ساحه ورپاته ده.

د سړکال د پرمختیاوو یو بل مثال د روزګان ولایت دی، په ولایت کې سره له چې د ولسوالیو په مراکزو او ولایت مقام باندې د رژیم واک پاته دی مګر نورې اطرافي سیمې چې پخوا د اربکیانو ځالې وې مکملې ازادې شوې دي، په تیر کال مجاهدینو په دهراوود، چارچینو، چوره ، چنارتو، ترین کوټ او خصوصا خاص روزګان کې ډیرې زیاتې سیمې، کلي او ناوې د اربکیانو او پولیسو له شره تصفیه کړې د روزګان اکثره اربکیان د دعوت او ارشاد له لارې تسلیم شول او د خاص روزګان د اربکي کومندان عبدالصمدغوندې چې کومو په جګړه ټینګار کاوو هغوی له سیمې تیښتې ته اړ ایستل شول په روزګان کې مفتوحه سیمو او پوستو تعداد خورا زیات دی چې د مطلب د تطویل له امله یې تفصیل نه راوړو، په روزګان کې دتیر کال یو بل مهم تغیر داوو چې د ۲۰۱۵ م کال په اوږدو کې ددې ولایت دوه دامنیې قومندانان مطیع الله خان او ګلاب خان یو په بل پسې په لنډو ورځو کې د مجاهدینو لخوا ووژل شول .

فاریاب، سرپل، بادغیس،جوزجان او غور یوه بله هغه حوزه ده چې په تیر کال کې یې زیاتره اطرافي سیمې د مجاهدینو تر واک لاندې راغلې، په فاریاب کې د المار،چهلګزي،قیصار، پشتون کوټ، خواجه ناموسی، ګرزیوان ، غورماچ، شیرین تګاب او

ګنو ولسوالیو ډیری ستراتیژیکي او ګټن میشتې سیمې لکه شاخ، قرایي او نوري تیر کال مجاهدینو نیولې او ددوستي ملیشو ټغر یې تري ټول کړی دی، به بادغیس کې د جوند، قادس او سنګ اتش له اکثره اطرافو حکومتي سلطه ټوله شوې، غور کې د دولینه شهرک، شینکوټ ولسوالیو ټول هغه کلي چې پخوا په کې حکومتي ملیشې وې تصفیه شوې او حکومتي کسان ډلې ډلې له مجاهدینو سره یوځای شوي دي په سرپل کې د کوهستان په فتحه سربیره د سنګ چارک،شیرم او سوزمه قلعه ولسوالیو له مربوطاتو داربکیانو ټغر ټول شوی مجاهدین یې مراکزو ته ولاړ دي. له دې پرته د هیواد په نورو ولایاتو کې هم له ډیرو سیمو چې پخوا وروسته د حکومتي اربکیانو سلطه وه یا هلته د اردو ، پولیسو او سرحدي ځواکونو مراکز او کنډکونه و د تیر کال په اوږدو کې تبښتیدلي چې دغه سیمې په مجموع کې په لاندې توګه ورته اشاره کولی شو چې مکملې او یا یې هم ډیرې برخې له دښمن څخه تصفیه شوې دي لکه په پکتیکا کې اومنه، ګواشته، وازیخوا، بامیان کې کهمرد ، خوست کې علیشیر، غزني کې د شلګر، واغز، دهیک او مرکز مربوط ډیرې ساحې، فراه کې د بکوا، خاک سفید،بالابلوک او ګلستان په فتحه سربیره د پشت رود ډیر کلي، پکتیا کې د ډنډو پتان ډیرې سیمې، د کونړ په مروره، چپه دره او مانوګي کې ډیرې سیمې، پروان کې د شیخ علي ډیر کلي،کاپیسا کې تګاب کې پوستې فتحه شوې، دایکندي کې د ګیزاب ډیرې درې او لسګونه کلي تصفیه شوي،په زابل کې د قلات په مربوطاتو سربیره په ارغنداب او شاجوی کې یو شمیر پوستې فتحه شوې،هرات کې د کشک کهنه،شیندند ډیرې پوستې او د غوریان مرکز فتحه شوی، لوګر کې خروار مکمل او د نرخ، خوشي او ازرې به مربوطاتو کې تازه سیمې تر واک لاندې راغلي او د وردګو به جلریز کې د میدان - بامیان په لاره د اربکیانو پنځلس پوستې له منځه تللي او هلته د مضرو اربکیانو کیسه یو مخ پای ته رسیدلې.

(مفتي ابو ياسر)

دعوت او جهاد

دحالاتو په تناظر کې!

دځمکي

په کره کې دخلقو پيدايښت اوبياهغوئ ته هراړخيز او داړتيا وړ مواد پيداکول ،بياور ته دبي شميره انبياؤ را ليږنه ، اودکتابونو نازيليدل داجوته وي چې دلته به ژوند کول اواوسيدل په يوه ځانګړي طريقه سره وي ،چې هغه درب العزه له لوري راليږل شوي قوانين [شريعت] دی او دژوند دغه موقته سلسله به دهماغه شريعت مطابقه روانه وي .

هغه خلک چې غواړي په لمړنی اووروستنی نړی کې هوسا ،سوکاله او خوشحاله ژوند وکړي نو طبعي ده چې په لمړی کې به يې ديوه رښتوني انسان په ډول په خپل وجود ،کورنی اوټولنه کي شريعت تامين کړی وي. په بل اړخ کې به الهي قوانينوته چې داوامرو يا دنواهي په صورت کې وي پوره وفادار وي .

دعوت بي شکه چې ځمکې ته ديولک څخه دزياتو راغلوانبياؤ اساسي وظيفه دين ته دخلقو رابلنه وه، په قرآن کريم کې چې يواځي دجزيره العرب د۲۷\۲۵ انبياؤ واقعات ذکر شوي

نودهغوئ بنيادي خبره له دعوت پيليږي، بياګورو چېرې چې خلقودين منلی نوهغوئ تل ښېرازه شوي ،اوهوساه شوي دي ،اوچېري چې دهغوئ دعوت نه دی منل شوی نوهغوئ په ټولېزه توګه له مينځ وړل شوي .

دلته :که يوې بلې خبرې ته ځېر شو نو موضوع نوره روښانه کېږي : هغه داچې په کوم امت کې چې جهاد نه وفرض شوی نورا استول شوو انبياؤ به چې ددعوت اوبلني له لارې خپلې ټولي هڅې پای ته ورسولي اوقومونوبه يې ورسره ونه منله نو لوی خدای ج ته به يې دهغوئ شکايت وکړ اوبيابه دهغوئ لپاره الهي عذابونه راپيل شول .

مګر په کومو امتونوکې چې جهاد ماموربه ګرزول شوی هلته کلي عذابونه پورته شوي ،خوجزئي عذابونه لا هم له نورو لارو څخه راځي .

جهـــــاد:

مکر څرنکه چې درسالت دعوت دوه ارخه لري، لمړی خلقوته دایمان دعوت اودوهم خلقوته داسماني دین دلارښوونو په رنا کې دژوندچارې په وراندې ورل دي . دغه داوړي موخې دجهاد بنیادي اساسونه دي لمړی به خلقوته ددین بلنه ورکول کېږي که ونه منل شي ،بیا داسلام دهدایاتو اولارښوونو لاندې دي خپل ژوند په مخ بیایي ، اوکه دې یوه ته هم غاړه نه ښوول کېږي نوبیا څرنګه چې دمالک څخه مخامخ بغاوت اودهغه ددښمن سره یوځای کیدل دي نو رب العزه یې سزاء په همدغه جهاد سره له مینځه ورل تعین کړی.

په یوه مسلمانه تولنه کې به دجهاد اودعوت تنوع اوتعمیل څرنکه وي ؟ په دې هکله موږ ته خپله فیصله بې خي واضحه ده : خلقوته دې وویل شي: چې دهمدغه شریعت په نفاذ کې ستاسو تولې کتې دي، او دا خبره دومره بدیهي ده ، چې په مفهوم یې امی نه مونډل کېږي ، نوکه څوک بیاهم تجاهل کوي اوداسلام دقانوني هدایاتوپه ځای ددیموکراسي ودې ته ځانونه وفادار کني نودابیاهغه رذیل اوتبټ وکړي دي چې په تولنه کې یې وجود دفساد مکروب دی چې علاج یې همدغه الهي فریضه جهاد دی .[وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ویکون الدین کله لله] .

قرآن کریم اوجهاد :

که موږ دقرآن کریم دهدایاتو برخې ته متوجه شو نویواخې د جهاد اړوندپه کې تر ٤٨٤ زیات ایتونه وجودلري.

په بل تعبیر دقرآن کریم د٣٣مدني سورتونو څخه یې په شلوکې د دې سترې فریضې په اړه مفصل بیان موجود دی.

چې د جهاد فرضیت، احکام، اصول ، ترغیب ، فضائل، قصص، شهادت اونور هغه ټول امور چې دجهادسره اړه لري په صراحت اوتفصیل سره ذکر شوي.

په دې سربېره په قرآن کریم کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دپنځلس تشکیلونو اوغزواتو یادونه شوي چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دغزواتو او سرایاو څخه دې امت ته دنمونې په ډول یادونه شوي.

دجهاد عمومي اهداف :

مفسرین ، محدیثین اوفقهاء په دې متفق دي ،چې په قران کریم اواحادیثو کې دجهاد دمقدسې فریضې اهداف په لاندې ډول ذکر شوي دي :

اعزاز الاسلام : يعنى جهاد ددې لپاره چې د اسماني دين اعزاز قائم شي .

كسرشوكة الكفره والجبابره: يعني چې دمتكبروكفارو زور اوبه شي.

اعلاء كلمة الله على الارض :يعني چې دلوى خداى ج فيصله اوحكم په نورو بالا وي.

اقامة حكم الله فى الارض : يعني چې دلوى خداى ج قوانين دهغه په ځمكه كې نافذشي .

لدفع الظلم والفتنة والفساد عن البشر: يعني چې فسادونه اوفتني له مينځه لاړي شي.

إقامة العدل الذي شرعه الله لعباده في الأرض ،يعني دعدل قيام.

دعوت اوقرآن كريم :

په قرآن كريم كې تر دوه اودرې سوه زيات آيتونه ددعوت په اړه راغلي دي . تردې چې په ۸۱ مكې سورتونو كې ډيرى آيتونه همدغه دعوت ته ځانګړي شوي دي .همداراز په مدني سورتونو كې هم ددعوت په اړه ډيرآيتونه راغلي .

دبيلګې په ډول : سورة انبياء (۲۱) آيه ۱۰۷و بقره (۲) آيه ۱۵۱و«آل عمران (۳) آيه ٦٤و اسراء (۱۷) آيه ۱۵ و مائده (٥) آيه ۱۹ و نساء (٤) آيه ۱٦٥ و مزمل (۷۳) آيه ۱٥ و احزاب (۳۳) آيه٤٥، ٤٦ و الحاقه (٦۹) آيه ۱۰ و توبه (۹) آيه ۱۲۸ .....وغيرها.

ددعوت اهداف:

نقل الناس من الظلمات إلى النور . يعني دجهالت له تيارو څخه ددين رڼا ته دخلقو راايستل .

نقلهم من رسوم الجاهلية إلى شريعة الإسلام . يعني له جهالت اوناپوهي څخه ددينې اوعلمي نړى ډګرته دخلقو راكښل .

ومن الجور والطغيان والعصيان إلى العدل والمساواه وطاعة الرحمن ، يعني دظلم ،ستم ،سركشي اوګناهونو څخه عدل ،مساوات ،اوالهي طاعت ته رابلل .

الخروج من عباده العباد إلى عباده الله . دبندګانو دبندګى څخه درب بندګي ته خلق دعوت كول .

ومن ضيق الدنيا إلى سعتها .ددنيادتنګيو څخه داسلام وسعت اوپراخي ته دخلقو رابلل .

ومن جور الأديان إلى عدل الإسلام .دبشري اولاسي دينونو څخه الهي دين ته دخلقو راسوق كول .

اوداسي نور.....

دعوت او جها د دحالاتو په تناظر كې

دې تياره نړۍ ته ديولـک څخـه دزيـاتو پيغامبرانو راتـک همدغه دوه لارې خپلې کړې ، خلکـو تـه بـه دعـوت ورکـول کيږي،چـې دکفر، دفطـري ديـن څخـه دبغـاوت ،معصيت اونورو بې دينيو لارې پريـږدي ،کـه هغـه دې تـه امـاده نـه وي نـو دوهمـه لاره يـې جهـاد اودتوري مبارزه ده .

ننۍ زمانـه کـې مسـلمانان ترتولـو زيـات غازيـانو اوداعيـانو تـه څکـه اړ دي چـې خلـق ترپـوزې پـورې پـه نافرمـانيو ،معاصـي و اوبـي دينيـو کـې دوب دي ،ددېـن لـه اخلاقـو اواعمالوڅخه بيګانه شوي اوپـه پـردي کلتـور باندي لړل شوي .

له بل پلوه غرب داسلام اومسلمانانوسـره په دښمني کې دومره وړاندي تللی چې پـه موږ يې لـه هرلـوري پـه هرڅـه کـې يرغـل کړی ، او له هـردول وسـيلو څخـه يـې زمـوږ دڅپلو کوشش کړی ، زموږ له عقائدو ،عباداتو ،اخلاقو ،معـاملاتو اونـورو تـولينړ ژونـد څخـه نيولي ترانفرادي اوشخصي هويت پـوري يـې په تولوکې بدلون هڅې کړي اوکوي يې .

نواوس چې کفري نړۍ له موږ سره پـه دوارو[تبليغـاتي اونظـامي] محـاذونو کـې معرکـه روانـه کـړي. داسـلامي امـت داعيـان اوغازيـان بايـد دواړه لـوروکې همدغـه سنګرونه وساتي ،اودغه لوروته متوجه وي .

مـوږ بايـديوآخې خلقوتـه د پنځـه وقتـه دلمانځه په تربيې ورکولوباندي بسـونه ونـه کـړو. مـوږ بايـد يـواځې دهـديري اوجنـازي داحکـامو دبيـان ترحدودوپاتـه نشـو؛ بلکـه خلقوته به عقيدوې، اخلاقې، مذهبې، سياسـې، اوعملې روزنه ورکړو،خلق به دالله تعالی ددين احکامو پلې کولو اودمعاصي وو څخه داجتنـاب کولوته راوبولو .

اولکه په سـنګرکې چـې موزلميـان دالله تعالی ددين دتنفيذلپاره خپل سـرونه وړانـدي کوي اودخپل تن په وينو دغـه مبـارزه پـه مـخ وړي نودمنبر ځوانان اوداعيان مو هم بايد دغـه ديني مسئوليت تـه همدغـه سـې پـوره ځـان وقـف کـړي اوددعـوت منبـر بايدهماغـه دول سنبال کړي لکه څرنګه چې ددې امت لمـړی طبقې سمبال کړی ؤ.



په مطبوعاتو کې د سرمقالې اهمیت!

او د سرمقاله لیکونکي اوصافوته کتنه!

ابوظهیر

د نظري او اصولي پلوه سرمقاله [سرلیکنه] د ورځپاڼو، اوونیزو او مجلو لپاره دروح اومره ارزښت لري! سرلیکنه د ورځپاڼې یا مجلې دمعنویت مظهر ده او دېته په پام یې لیکل داسې مسؤلیت دی چې دصحافت اولیکوالۍ دنورو حانګو له مسؤلیتونو خورا مهم او مشکل دی، هم دا وجه ده چې دسرلیکنې دلیکلو مسؤلیت هر هغه چاته سپارل کېږي چې دهغه به نورو څخه دزیات اهلیت او کاري تجربې څښتن وي.

په عموم کې دورځپاڼو او مجلومدیران د نورو مسرلیتونو ترڅنګ دسرمقالې لیکلو مسؤلیت هم لري، یعنې دسرمقالې لیکل داداري دمشرمسؤلیت دی؛ خو نن سبا سرمقاله لیکلو دجلا فن بڼه مندلې، چې ورته خاص صلاحیتونه لرل ضروري دي، دنړۍ د لویو ورځپاڼولخوا دسرمقالې لیکلو مسؤلیت هغه چاته سپارل کېږي چې په بېلابېلو برخو کې ښه پوهه اوتجربه ولري لیکن داچې سرمقالې لیکل یوګران او دروند مسؤلیت دی دورځپاڼو او مجلو په هرو شل تنو مامورینو کې یو محدود شمېریې ایله دسرلیکنې لیکلو اهلیت لري.

بل پر دې موضوع ډېر لږ شمېر کتابونه لیکل شوي، آن تردي چې انګریزي کې دصحافت اولیکوالۍ په نورو برخو [افسانه، فیچر، لنډه کسه، ناول] په اړه لوی شمې کتابونه شته خو دسرمقالې لیکلو په برخه کې لږ شمېر کتابونه مندل کېږي ورته حال دعربي هم دی چې ورکې پ اړه یې دخاص کتابونه شتون نلري او په پښتو کې هم تراوسه په یاده موضوع کوم ځانګړی کتاب شتون نلري.

هو! په ځینو کتابونو، مقالو او لیکنو کې دسرلیکنې په باب جزي بحثونه راوړل

شوي چې هغه ټول دموضوع اهميت ، ضرورت دقت ته ته په کتو کافي ندي.

دسرمقالې تعريف:

سرمقاله يا اداريه مرادف الفاظ دي، يوه معنى لري چې [د مديريا سرمحرر ليکنې ته] ويل کېږي او په مطبوعاتي اصطلاح کې هغه مضمون چې دورځپانې يا مجلې په سر کې راوړل شي سرمقاله بلل کېږي که د ورځپانې د مديرياسرمحرر په قلم ليکل شوى وي اوکه داداري دکوم بل غړي يا شخص په قلم!

پخوا دا دود وه چې په ورځپانو يا مجلو کې به يوه سرليکنه وه يعنې دورځپانې مدير به په هره نوې ګنه کې يو اځې ديوې مسئلې په اړه خپل دريځ ښکاره کاوه؛ خو اوس داچې په هره نوې ګنه کې دنړۍ ګڼ شمېر پيښې د خبرونو په بنه خپريږي اودبر ځلي د ځو مهمو مسايلو په اړه داداري لخوا سپيناوي ته اړتيا وي، له دې وجې نن سبا دنړۍ په مشهورو او لويو ورځپانو يا مجلو کې ديوې سرمقالې په ځای ځو سرمقالې ليکل کېږي.

دسرليکنې اهميت:

دورځپانو او مجلو دوه مهمې موخې:

دمعلوماتو اطلاعاتو اوخبرونو خپرول په خبرونو تبصرې ليکل، يعنې د تودو اوګرمو پيښو په اړه داداري د دريځ په ښکاره کولو دخلکو ذهنيتونه جوړول.

دې دواړو بنسټيزو موخوته په پام دورځپانې مخونه په درې برخو ويشل کېږي ۱- خبري مخونه۲- دليکنو يا کالم ليکلو مخونه ۳- ځانګړي مخونه.

په خبري مخ پانو کې هغه اطلاعات او معلومات وړاندې کېږي کوم چې دخبر په زمره کې راځي؛ دليکنو اوکالم ليکلو مخ پانو کې پر مهمو خبرونواو ګرمو موضوعاتو تبصرې ليکل کېږي او په ځانګړو پانو کې يوه يوه ورځ دټولنې دبهلابهلو قشرونو لپاره ځانګړي مضامين وړاندې کېږي.

دسرليکنو ،سريزو او سرمقالو نه علاوه معلوماتي، ځيرنيز، تاريخي مضامين يا کالمونه ددليکنو او کالم ليکلو په مخ پانو خپرېږي

د بنه سرليکونکي ځو ضروري اوصاف:

دسرمقالې يا سرليکنې (سرليکونکی) دورځپانې يا مجلې داداري دننه دستر اهميت او وقار څخه برخمن وي،داداري په کالمونوکې دهغه رايه دومره اهميت لري چې دورځپانې يا مجلې رايه ګڼل کېږي! او دهم هغه دليکنو پر اساس دکالمونو او

ليکنو برخه دورځپاني روح ګنل کېږي دسرمقاله ليکونکي اندونه، مشوري اوتبصري ديو هېواد په سياسي چارو او دژوند په نورو برخو خورا ژور اغيز لري، سرليکنه دعامه غوښتنو اوهيلو دترجماني کولو ترڅنګ خپلو لوستونکو ته دفکر اونظر رنا هم ورکوي يعني دهغه دليکنې څخه لوستونکي درهنمايې توقع لري ددې لپاره ديو ښه سرمقاله ليکونکي لپاره لاندې څو اوصاف ضروري دي:

دژبې او وينا رواني:

وراندې زمانه کې د مدير ترتولو لوی امتيازي وصف به دا و چې دوينا آهنګ به يې لور، رابښکونکی او دليکلو رواني به يې لوستونکي دځان سره وړل؛ددې لپاره به يو سرمقاله ليکونکی ديته اړ و چې دخپل بريالیتوب لپاره به يې په ژبه مکمل قدرت درلود!

او نن سبا په سرمقاله کې مسجع او مقفی عبارتونه راوړول څوک نه خوښوي ددې لپاره تري دده کېږي او په ورته توګه دلوستونکو د احساساتو او جذباتو سره دلوبيدو لپاره دالفاظو درنګينی جوهر ته دپر پام نه کېږي؛خوبيا هم دمدللو اندونو د مؤثر اظهار لپاره په ژبه او وينا عبور حتمي او ضروري دی.

که څه هم اوسنی سرمقالې ادبي بڼکلا او سينګار دپرنلري ليکن دسرمقالې دمؤثريت او معقوليت لپاره دژبې رواني! دالفاظو پريمانې! پرځای سم استعمال اوجوړښت خورا ضرور دی، په مؤثره توګه دخپل فکر او دريځ وراندې کولو لپاره حتمي ده چې سرمقاله ليکونکی به دليکنې په ژبه مکمل عبور لري او دخپل [ما في الضمير] دښه [اظهار] هنر به پيژني او په پوره روانه او پسته ژبه خپل دريځ ښکاره کولی شي.

۲ــ منطقي ذهن:

پخوا تل سرمقاله ليکونکو به منطق او استدلال ارزښت نه ورکاوه، خو نن سبا هره خبره دحقايقو او دلايلو په رنا کې ارزول کېږي اوسني لوستونکي په جذباتو کې دلاهو کيدو پرځای پيښه دعقل او دليل په معيارونو تلي؛ دعمل لپاره دننې لوستونکي اماده کولو لپاره په ليکنه کې د دليل او منطق دليکوالی په سليقه ځايول حتمي دي له شک پرته يوه مؤثره ليکنه نن هم دلوستونکو احساسات په غورځنګ راوستلی شي اوپه مؤقته توګه يې له ځان سرهمل کولی شي خو ددې ترڅنګ هرې مسئلې ته دحقايقو په رنا کې کتل او دعقل او شعور په مرسته يې

ارزول دننې انسان ځانګړتیا ګنل کېږي ددې لپاره چې سر لیکنه په زړه پورې او پرلوستونکو تاثیر ولري ضروري ده چې سرمقاله لیکونکی دمنطقي ذهن څښتن ویچې دسرمقالې دمؤثریت لپاره هغه دخپل دریځ نه ددفاع لپاره په سلیقوي بڼه د معقول منطق او قوي استدلال وراندې کولو صلاحیت په ځان کې ولري، څو که وروسته یو لوستونکی دمخالف لوري اندونه یا متضاد افکار هم ولولي بیا هم دهغه د ذهن څخه دسرمقالې اثرزایل نکړای شي...

۳ـ دغور اوفکرکولو صلاحیت:

دسرمقاله لیکونکي مسؤلیت یواځي دحالاتو او واقعاتو تر تشریحولواو د مختلفو مسایلو په برخه کې لوستونکوته دفکرتر بلنې محدود ندی، دژوند داسې ګن مورونه شته چې په اړه یې هغه باید د خپلو لوستونکو فکري رهنمایې وکړي،خو دسمې او رښتینې رهنمایې فریضه هغه مهال سرته رسولی شي چې کله هغه پخپله دلور فکري صلاحیت څخه برخمن وي او د بینا سترګو ترڅنګ دداسې حساس زړه او روښانه ضمیر خاوند ویچې دحا لاتو او واقعاتو د ظاهري محرکاتو پر پیژندلو بسیا ونکړي بلکې دهغوتل ته ننوزي؛اوهلته دښه اوبد ترمنځ دتمیز کربنې معلومې کړي! په پټو سترګو دځینو اندونو منل ، یا په سطحي لید بسیا کول دخپلې رایې یا فکر د نه داظهار صلاحیت نه درلودل دسرمقاله لیکونکي ترتولو لویه نیمګړتیا ده.

۴ـ اعتدال[منځلاریتوب]:

په مختلفو موضوعاتو اوستونزو دتبصرې لیکلو پرمهال سرمقاله لیکونکی د منصف قاضي ته ورته او د دربیمګړي حیثیت لري او بل داچې دهغه رایه یواځي دیو فرد رایه نه بلکې دیوې اداري یا تولو رایه ګنل کېږي خامخاده چې سرمقاله لیکونکی به د توند په ځای دنرم مزاج څښتن و ي که داسې نه و نو دخلکو اولوستونکو په سمه رهنمایې کې به ناکام وي دې ځلي دتوند مزاج په وجه داسې ستونزې زیږې چې دهغو حل بیا تقریباً ناشونی وي.

او دې کرته دا هم وي چې یو سرمقاله لیکونکی دیوې معاملې یا پیښې دنوعیت په نه پیژندلو دې ره توندە او تېزه سرمقاله ولیکي خو له چاپ څخه وروسته ښکاره شي چې پیښه یا معامله حقیقت نلري یا لږ ترلږه په دې نه ارزیده چې وربانديې دومره تېزه اوتونده سرمقاله

ليکل شوې واى ددغه ډول سرمقالو ليکلو له وجې نه يواځي سرمقالې برخې ته زيان و اوړي بلکې له امله يې دهغه ورځپاڼې يا مجلې ټول وزن او اهميت ته صدمه رسي.

سرمقاله ليکونکى زياتره وخت له څو خواوو نه دفشار ښکار وي که ورځپاڼه يا مجله [دکومې دلې ياتنظيم اړوند وي] په دې صورت کې د پاليسې رعايتولو ترڅنګ ضروري ده چې دسرمقالې دلوړو ارزښتونو او اصولو څخه هم سرغړونه ونکړاى شي بل کله نه کله سرمقاله ليکونکي دمختلفو ډلو اوټولنو لخوا هم دفشار سره مخ کيداى شي مثلاً:دمزدورانو او آجرانو ترمنځ دنزاع په صورت کې دمزدورانو يا دهغوى دټولنو له لوري تري غوښتنه کېږي چې سرمقاله ليکونکي دي ددوى دريځ ملاتړ وکړي! او له بل طرف ته آجران بيا دخپل دريځ دملاتړ لپاره دفشار اچولو نه کار اخلي او په هغه صورت کې چې ورځپاڼې ته د اجر لخوا سوداګريزاعلانونه ليږل کېږي ددغه ډول فشار نور مؤثرګرځي خو سرمقاله ليکونکى به ددې ستونزې دحل لپاره داسې صورت راباسي چې نه يومخ اصول ترپښو لاندې پايمال کړي اونه داړوندو خلکو احساسات راوپاروي دداسې حالت نه دوتلو لپاره دسرمقاله ليکونکي قلمکار متوازن ذهنيت او معتدل شخصيت ډېره ګټه لري.

۵ ـ دپريکړه کولو ځواک:

سرمقاله ليکونکى به منصف قاضي وي اوهم بايد د سهي پريکړې کولو لپاره د مکمل ځواک صلاحيت و لري، په ورته توګه دسرمقاله ليکونکي دتميز کولو ځواک داړونده ادارې پر معنويت او اهميت ژور اغيز لري ددې لپاره ضروري ده چې هغه دهرې ورځې پيښې دتقابلې اهميت سره سمې فيصله کړې چې کومه پيښه دسرمقالې لپاره اوکومه دلنډې تبصرې لپاره غوره ده؟ ددې پرته په سرمقاله او تبصره کې توازن منځته نشي راتلاى ددې کار په مطالعه کې خورا ليوالتيا او دموضوع په انتخاب ! او په باره کې دخاص دريځ ښودو لپاره دسمې او سملاسي پريکړې کولو صلاحيت ضروري دى.

نوربيا...

په جهاد کې د عالم

لیکوال او شاعر رغنده رول

سید سعید

د ټولنې په اصلاح په تیره جهاد کې د عالم، لیکوال او شاعر پر رغنده رول سترګې نشي پټیدلای، دوی په کتاب، ژبه او قلم داسې ستر نقش لوبولی چې ټولنه به یې تر ابده ددې لوی چوپړ پوره وړې وي.

لکه څنګه چې د مورچل مجاهد د توپک په شپیلۍ دخاوري،ارزښتونو اومنافعو څخه ساتنه کوي، همدا راز عالم، لیکوال او شاعر په قلم او ژبه دمسلمان ملت زړه او فکر له عقیدوي انحراف، فکري ګډوډۍ او فرهنګي یرغل څخه ژغوري.

څلور لسیزې وړاندې زموږ په ټولنه کې عالم تقریباپه محراب کې منزوي شوی و، له دنیا او آن د دین له سیاسي اواجتماعي ډګرونو سره نابلده غوندي و،البته د هیرولو نه ده هماغه مهال هم علماء کرام په انفرادي توګه د ټولنې دسمون او خیر خواهي لپاره په خدمت لګیا وو خو د کمونیزم دمنفوري ایډیالوژۍ د ورود او د ثور له کودتا وروسته په اجتماعي ډول د علماوو خپل مسؤلیت ته پاملرنه زیاته شوه، د شوري ضد جهاد کې یې رغنده رول اداء کړ او د شراو فساد او امریکایي اشغال پر ضد مبارزه کې علماوو او قلموالونه سترې کیدونکې هلې ځلې ترسره کړې.

د شر او فساد او دامریکایي یرغل په مهال د عالم، لیکوال او شاعر دهڅو نتیجه وه چې ولس یې په دې وپوهاوه چې خاوره، ناموس او ارزښتونه یې یرغمل شوي او باید دخپلو حقه حقونو د ترلاسه کولو لپاره پاڅون وکړي او یا حد اقل د سرسپارلو مجاهدینو تر شاه ودریږي.

د شوري ضد جهاد، شر او فساد په وړاندې پاڅون او د امریکایي یرغل پرضد روانه مبارزه کې علماوو، لیکوالو او شاعرانو نه یوازې داچې خلګ جهاد ته دعوت کړي او هڅولي، بلکې خپله هم په سنګرونو کې

جنګيدلي،ژوبل شوي، بنديي شوي او د شهادت عالي مقام ته رسيدلي دي.

له نيکه مرغه علماء اوس د پخوا په نسبت تردېره د ګوښي توب له حالته راوتلي او خپله مبارزه يې مختلفو ډګرونو ته شامله کړې ده، چې دا د راتلونکي لپاره ښه زيري دی.

ددې لپاره چې امت مو د لويديځ له بيلابيلو يرغلونو او نيرنګونو څخه ژغورلی او اګاه کړي وي، داسلام د مقدس دين څخه د دفاع او خپراوي په لاره کې مو اغيزناک ګامونه اوچت کړي وي، اړينه ده چې په خپل تعليمي نصاب، شخصي او ټولنيز ژوند دود کې څه تغيرات ومنو مثلا:

هر مسلمان په تيره عالم او قلموال بايد زمونږ د ټولنې پر ځينوناوړه دودونو لکه خپل منځي رقابت،حسد او ځانځاني ښامار پر سر باندي پښه کښيږدي، چې له يوې خوا دنيوي سوکالي او خوشحالي راته ميسره شي او له بلې خوا له اخروي عذاب څخه نجات وموسو.

ليکوال او علماء د قراني ارشاد (ادع الى سبيل ربک باالحکمة والموعظة الحسنة الايه) په رڼا کې داسي وعظ اودعوت بايد وکړي چې دښمن او ددښمن سره همکار خلګ راجلب کړي، ځکه زمونږ داعيه برحقه ده، پر زړونو او فکرونو باندې ژر مثبت اغيز کولای شي.

طالب العلمان او زده کونکي بايد وپوهول شي چې معاصر طالب د دښمن له ډيرو ننګونو سره مخ دی نو لازما بايد له دښمن سره په مختلفو ډګرونو کې د مقاومت مهارتونه زده کړي.

د وخت ارزښتناکه متاع په ټوکو ټکالو، بوختونکو لوبو او بې ګټو مباحثو مصرف نه کړي.ځکه همدا وخت دی چې ددښمن سره مقاومت پکې کيدای شي، علم او مهارتونه پکې ترلاسه کيدای شي، د مور او پلار او ټولنې خدمت پکې کيدای شي،جهاد، عبادت،تعليم، تعلم، تجارت، صنعت او مختلف د خير اوښيګنې کارونه پکې ترسره کيدای شي.نو دوخت ستره شتمني مو بايد وړيا له لاسه ونه وزي.

په د ې موخه چې د نوي نسل تعليم يافته قشر(علماء، شاعران او ليکوال) مو دين او وطن ته لا ښه خدمت وکړي، مناسبه ده چې دوخت د غوښتونو سره سم تعليمي نصاب تصويب او تدوين شي.

د ډيموکراسي، ګلوبلايزيشن،ازاد بازار، خرابۍ په ګوته شي.

داسلام دسیاسي نظام ښیګني،په ټولنه کي یې رغنیز نقش، انفرادي او اجتماعي خوندیتوب اوله پخوانیو او معاصرو وضعي قوانینو او نظامونو څخه هر اړخیزي ښیګني یې د عصر- په ژبه او اسلوب توضیح او تشریح شي.

د سوسیالیزم ا وکپیټالیزم افراط او تفریط او داسلام د اقتصادي نظام ا ومعاصري اسلامي بینکداری اعتدال، لاسته راوړني او دفطرت سره نژدیوالی په تحریري او تقریري بڼه وړاندي شي.

لیکوال، علماء او شاعران ددې لپاره چې په راتلونکي کي په اجتماعي او جهادي ډګرونو کي لا ښه رغنده رول ولوبوي، په خپل ابتکاراو هڅو سره بایدد هیواد او هجرت د د یار په بیلابیلو سیمو کي دهماغه ځای د کلتور او اراضي سره مناسب علمي او تنویري کنفرانسونه، سیمینارونه او ورکشافونه دایر کړي، ګټه به یې داوي چې ځوانان د غرب د فرهنګي، فکري او رواني یرغل څخه د ځان او ټولني د دفاع جوګه شي او د فرصت په صورت کي د د ښمن پر یادوو شوو تخریبي بنسټونو، هڅو او چلونو منطقي او علمي ګوزارونه وکړي.

په چایو اودس کول؟

پوښتنه :په چایو اودس کول څه حکم لري ؟ که په دې اړه معلومات راکړئ ، مهرباني به مو وي.

ځواب :په مذکوره صورت کې اودس جواز نه لري ، ځکه دچایوخوند رنګ بوی له اوبو څخه جلا اوهمدارنګه داوبو نوم هم ورنه زائل شوی ، ځکه چایوته اوبه نه ویل کیږي.

١ - لمافی نورالایضاح : ص / ١٠ ولا بماء زال طبعه بالطبخ أو بغلبة غیره علیه

٢ - لمافی الهدایه :فصل فی الغسل : ١ / ١٨ فإن تغیر بالطبخ بعدما خلط به غیره لا یجوز التوضي به لأنه لم یبق في معنی المنزل من السماء إذ النار غیرته إلا إذا طبخ فیه ما یقصد به المبالغة في النظافة کالأشنان ونحوه

٣ - لمافی العنایه شرح الهدایه :باب المآء الذی یجوز به الوضوء ومالایجوز : ١ / ٩٥ وَقَوْلُهُ : (بَعْدَمَا خُلِطَ بِهِ غَیْرُهُ) إنمَّا قُیِّدَبِهِ ؛ لِأَنَّ الْمَاءَ إذَا طُبِخَ وَحْدَهُ وَتَغَیَّرَ جَازَ الْوُضُوءُ بِهِ.

آيا ننې مسلمان ته!
رښتيا تقليد واجب دی؟

مفتي شاهد (حقاني)

دنن ورځ مسلمان ته دتقليد اړتيا اودوجوب او جواز مسئله ځيړل ،رښتيا هم چې د ډيرې وسيعې مطالعې او علمي تبحر په مټ شوني کيدای شي ،خوداچې دتحقيق ميدان ډير وسيع او علماوو ته ددې مجال شته، چې دخپلو راټولوشويو معلوماتو په رڼا کې يې دافاديت لپاره وځيړې، نو موځکه پدې لنډه تنګه مقاله کې پرې څو کرښې تورې او خپل خواره واره معلومات مو سره پيوندکړل !

ددې نه مخکې چې دتقليد په حکم او اهميت رڼا واچووغوره داده چې يوځل يې معنی وپيژنو!

دتقليدمعنی :دبرصغير مشهورفقيه عالم، مفتي رشيد احمدرح په (السبک الفريد لسلک التقليد)کې داسې کړي :حقيقت کې تقليد دداسې يوشئ نوم دی ،چې دين کې دخپل کوم بزرګ او پيشواقول او يا فعل پرده دخپل حسن ظن او ښه باور په بنسټ قبول کړي اوپردي عمل وکړي، چې دا دقرآن او سنت موافق دی،پردې عمل او ددې دقول قبلول ،دده څخه ددليل غوښتلو سره ونه ټړي،مګرکه دا دليل اوس يا وروسته معلوم شي، له تقليد سره منافي ندی ،يعنې تقليد کې ددليل مطالبه شامله نده او علم بالدليل ورسره منافات نلري ،کشاف په(اصطلاحات الفنون)کې تقليد داسې تعريف کړی :

التقليد عبارة عن اتباع الانسان غيره فيما يقول او يفعل معتقداً للحقية فيه من غير نظر وتأمل فی الدليل کأن هذا المتبع جعل قول الغير او فعله قلادة فی عنقه من غيرمطالبة دليل ،علامه ابن ملک شرح منار مصری ص۲۵۲کې فرمايي :وهو(ای التقليد)عبارة عن اتباعه فی قوله اوفعله معتقدا للحقية من غير تأمل فی الدليل ،او په (نامي شرح حسامي مطبوع مجتبايي ص۱۹۰کې داسې دي: چې (التقليد

اتباع الغيرعلى ظن انه محق بلا نظر فى الدليل (احسن الفتاوى ج۱ ص۴۰۸).

دتقليد ددې فوق الذكرو تعريفاتو څخه په ډاګه ښكاري، چې كوم مقلد چې دكوم امام تقليد كوي، نه پكې ددليل دراوړلو ممانعت شته او نه ددليل په ذكركولو مقلد له تقليده وځي اوهمداسې پر كوم سلف عالم او غښتلې امام پسې تقليد دحسن ظن پر بنياد كيږي او شه سوژه به دعلماووپه حق كې ضرور مسلمان لري ،چې دې سره دځينو خلكو هغه خبرې هم ځواب شوي ،چې اهانةً دپوښتنې او مناقشې پر وخت دشرعي معنى پر ځاى تقليد په لغوي معنى سره تعريفوي او دقلادي يا پرې اچولوپه معنى يې آن په شرعي مسايلو كې هم كاروي ،چې دا درسته خبره نده او نه په شرعي لحاظ دې معنى ته څوك تقليد وايې ،دايې لغوي معنى ده او په ديني مسايلو او مباحثو كې متروك وي .

امام قرطبي رح تقليد داسې كړي : قال القرطبيُّ : التقليد عند العلماء : " حقيقةُ قَبُولِ قَوْلٍ بلا حُجَّةٍ " ؛ وعلى هذا فمن قبل قول النبيِّ (صلى الله عليه وسلم) من غير نظرٍ في معجزته ، يكون مقلِّداً ، وأمَّا من نظر فيها ، فلا يكون مقلِّداً /اللباب فى علوم الكتاب ج۳ص۱۵۹).يعنې دبل چا قول له دليل پرته منلو ته علماء تقليد وايي،چې لغوي او اصطلاحي معناګانې مختصرا داسې دي:

دتقليد لغوي معنى : التَّقْلِيدُ لُغَةً : مَصْدَرُ قَلَّدَ ، أَيْ جَعَلَ الشَّيْءَ فِي عُنُقِ غَيْرِهِ مَعَ الإِحَاطَةِ بِهِ/ روضة الناظر لابن قدامة ۲ / ٤٤٩ ط ثانية ، الرياض مكتبة المعارف ١٤٠٤ هـ.) يعنې تقليد دلغت له حيثه دقلد مصدر دى ،او داكلمه دلغت په لحاظ د چا په غاړه كې داسې غاړكى اچولو ته وايې، چې په ټوله غاړه يې احاطه كړي وي ،لكه چې داسې يو څوك ووايې چې :قَلَّدْتُ الرَّجُلَ السَّيْفَ فَتَقَلَّدَهُ : إِذَا جَعَلَ حَمَائِلَهُ فِي عُنُقِهِ...يعنې يو سړي ته مې غاړه كې توره داسې ورواچوله چې دا حمايل يې ټول په غاړه شول . په (لسان العرب ، اومختار الصحاح)كې وايې : وَفِي التَّهْذِيبِ : تَقْلِيدُ الْبَدَنَةِ أَنْ يُجْعَلَ فِي عُنُقِهَا عُرْوَةُ مَزَادَةٍ ، أَوْ حِلَقُ نَعْلٍ ، فَيُعْلَمُ أَنَّهَا هَدْيٌ . وَقَلَّدَ فُلانًا الأَمْرَ إِيَّاهُ . وَمِنْهُ تَقْلِيدُ الْوُلاةِ الأَعْمَالَ)ژ:او په التهذيب كې ليكي چې : دبدنې تقليد دادى ،چې غاړه كې يې رسۍ واچوي ،يا پنه ورته ترغاړې كړي ،نوددې نه به معلومېږي، چې دابدنه دكعبې هديه ده ؛ ياد تقليد معنى داده، چې فلاني ته يې كومه دنده وروسپارله او همداسې واليانواومشرانو ته وظايفو سپارلو ته هم دتقليد كلمه كارول كيږي.

الموسوعة الفقهية كې ليكي چې :تقليد په شريعت مطهره كې په څلورو معنى ګانو استعماليږي ، لومړى معنى يې: والي او يا قاضي ته دوظيفې سپارل ؛ دويمه معنى :

هدایاووته غاړه کې کومه نښه اچول،ترڅو چې نورو اموالو سره یې فرق وشي ؛دریمه معنی :تعویذونه وغیره غاړه کې اچول ؛څلورمه معنی اوهغه معنی چې زمونږ دلته څیړنه کې هم مراد ده هغه : التَّقْلِيدُ فِي الدِّينِ وَهُوَ الأَخْذُ فِيهِ بِقَوْلِ الْغَيْرِ مَعَ عَدَمِ مَعْرِفَةِ دَلِيلِهِ . أَوْ هُوَ الْعَمَلُ بِقَوْلِ الْغَيْرِ مِنْ غَيْرِ حُجَّةٍ /روضة الناظر بتعليق الشيخ عبد القادر بن بدران ١٤٠٤هـ٢ / ٤٥٠ القاهرة المطبعة السلفية ، وإرشاد الفحول للشوكاني ص ٢٦٥ . القاهرة . مطبعة مصطفى الحلبي ١٣٥٦ هـ.)ژ : تقلید په دین کې دې ته ویل کیږي، چې پرته ددلیل غوښتلو څخه دبل چا په قول باور وکړي او ویې مني ،یا داچې تقلید دې ته وایې، چې دبل کوم عالم په قول له حجت څخه په غیر عمل وکړي .

په (شرح مسلم الثبوت ٢ / ٤٠٠ . القاهرة ، مطبعة بولاق ، ١٣٢٢هـ ، المستصفى مطبوع مع مسلم الثبوت ٢ / ٣٨٧ . الطبعة المذكورة ، او روضة الناظر ٢ / ٤٥٠ .)کې دتقلید په هکله داسې لیکي چې :تقلید له حجت پرته دبل چا دقول منل دي، لکه څنګه چې یو عام شخص د مجتهد قول قبول کړي ،خوداچې څوک پخپله درسول الله صلی الله علیه وسلم قول ته رجوع وکړي ،نو دې ته تقلید نه وایې ،همداسې که څوک اجماع امت ته مراجعه وکړي، نو هم ورته تقلید نشي ویل کیدای ،ځکه دې کې رجوع ما هو الحجت ته فی نفسه راغله او پخپله اصل ته پکې صیرورت وشو، نو دې ته تقلید نه وایې ،تقلید هغه دی چې دکوم منل شوي امام یا مجتهد قول باندې دده څخه ددلیل له غوښتلو پرته عمل وکړي او ویې ومني !

عقایدو او ددین په ضروري مسایلو کې دتقلید حکم :

فقهاء وایې، چې ددین په ضروري مسایلو کې لکه لمونځ ،روژه ،زکات ،حج وغیره ...کې تقلید ضرور ندی ،بلکې دا به پخپله مباشرةً له شارع څخه اخلي ،همداسې دجمهورو اصولیینوپه عقیده عقایدو کې دچا تقلید ندی جایز،لکه دالله تعالی په وحدانیت ،وجود اودعبادت په افراد کې یې ،همداسې دالله جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم دصدق په معرفت کې ،چې دوئ وایې چې دې ټولو کې به تفکر ،تدبرکوي او خپل قلبي طمانیت به پکې دعلم په وسیله خپلوي ،دوئ ددې خبرې داثبات لپاره دادلایل راوړي : الله تعالی فرمایې { بَلْ قَالُوا إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَى أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَى آثَارِهِمْ مُهْتَدُونَ } (سورة الزخرف / ٢٢ .) ، وَلَمَّا نَزَلَ قَوْله تَعَالَى : { إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأُولِي الأَلْبَابِ } (سورة آل عمران / ١٩٠) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَقَدْ نَزَلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ آيَةٌ . وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيهَا " (أخرجه ابن حبان).

ځینې فقهاء وایې چې عقایدو کې هم تقلید جایز دی او دوئ ددې مخکینۍ نظریې انتساب ظاهریه وو ته کړی !

البته جمهور اصولیین وایې :چې دعقایدو غوندې دعدم تقلید حکم هغه مسایل هم اخلي چې ددین څخه بالضرورة معلومیږي او ارکان خمسه پکې شاملیږي ، لکه دې عبارت کې چې وایې :

ثمّ عند الجمهور یلحق بالعقائد في هذا الأمر کلّ ما علم من الدّین بالضّرورة ، فلا تقلید فیه ، لأنّ العلم به یحصل بالتواتر والإجماع ، ومن ذلك الأخذ بأرکان الإسلام الخمسة (الموسوعةالفقهیة).

همداسې نامتو حنفي عالم علامه عبدالغني نابلسی رح فرمایي : هغه متفق علیها مسئله چې بالضرورة له دین څخه معلومه وي ، لکه دلمانځه ، روژې ،زکات او حج فرضیت یاددې په شان نور ،او دزنا ،لواطت،شرابو،قتل ،غلا ،غصب او یا دداسې نوروشیانو حرمت ، نودې کې دځلورګونو امامانوتقلیدته اړتیا نشته ،البته دتقلید ضرورت هلته پیښیږي ،چې هغې کې اختلاف وي او مسئله مختلف فیها وي .(خلاصة التحقیق فی حکم التقلیدوالتلفیق ص۴).

همداسې (علامه خطیب بغدادی رح) لیکلي :او شرعي احکام دوه قسمه دي ،یوهغه چې په هغې کې تقلید ندی جایز،او بداهة له دین څخه معلوم وي، لکه لمونځ ،روژه ،زکات ،حج ،دزنا او شرابو حرمت ،او دویم قسم هغه دی ،چې هغه له استدلال ،فکر او نظر نه په غیر نشي ترلاسه کیدای، لکه عبادات ، معاملات ، ودونه .....پدې کې تقلید صحیح دی ،ځکه دالله تعالی ارشاد دی، چې که تاسونه پوهیدئ، نو له اهل ذکرو او علماوو څخه پوښتنه وکړئ،او بل داچې ،که مونږتقلید څخه خلک منع کړو، نو ددې مطلب به داوي، چې ټول خلک دې دعلم دین زده کړي پسې شروع وکړي، نو دې سره به دخلکو دژوند نور مصالح پاتې او دخلکو دژوند ټول ضروریات به خراب شي او دفصلونو او حیواناتو هلاکت به رامنځته شي، نو ځکه ددې موانعو په وجه داسې کوم حکم نشي ورکول کیدای (الفقیه والمتفقه للخطیب البغدادی ج۲ص۶۷/۶۸ طبع دارالافتاء سعودی ریاض).

په(الموسوعة الفقهیة) کې لیکي : حق خبره داده چې په عقایدو او ددین په اساسي مسایلو کې هغه چې بالضرورة دین څخه معلومیږي ، دکوم عالم تقلید نشته، بلکې که په اجمالي صفت هم وي ،نو دصاحب الشرع نه به یې اقتناع په تام ثبوت سره پخپله کوي .،خو په فرعي مسایلو کې هغه چې له تفصیلي دلایلو نه په نظر عمیق سره معلومیدای شي ،عوام په استنباط او استخراج مکلف کول یو شاقه کار دی ،کوم چې دژوند له استقامت سره اړخ نه لګوي ،داځکه که هر څوک پدې مکلف شي ،چې

له دلايلو څخه دمسايلو استنباط وکړي ،نو دژوند مصالح او ګردي چارې به څنډنی او معطلې شي ،که دامت دسلفو ژوند مطالعه کړو ،او دوئ خيرالقرون دي ،هغه چې رسول الله صلى الله يې په باب شهادت ورکړی و،نو وبه کتل شي، چې دوئ ټول مجتهدين نه وو،بلکې دوئ کې مجتهدين ډير کم کسان وو،او دوئ ټولو د(۱۳) اشخاصو څخه زيات نه وو،سربيره پردې چې داجتهاد شرطونه ډير سخت او ضق دي او هرچاکې نشي موندل کيداى !

په فروعي مسايلوکې دتقليد حکم:

په فروعي مسايلوکې عام اصوليين علماء اودنامتومفسر امام قرطبي رح په څير نبذه او کره مفسرين دعامو مسلمانانو لپاره (هاغه څوک چې داجتهاد شروط او قوت پکې نه وي)دتقليد پروجوب حکم کوي ،خو يو کم شمير علماء په دې باب مخالف نظر لري، چې تفصيل به يې لاندې بحث کې ذکر شي ،په(تفسير اللباب فى علوم الكتاب)کې يې دتقليد دوجوب په باب د(امام قرطبي رح) قول داسې رانقل کړی :

.... في وجوب التَّقليد على العامِّي:

قال القرطبيُّ - رضي الله عنه - : فرض العامِّيِّ الذي لا يستقلُّ باستنباط الأحكام من أصولها ، لعدم أهليته فيما لا يعلمه من أمر دينه ، ويحتاج إليه - أن يقصد أعلم من في زمانه ببلده ؛ فيسأله عن نازلته ، فيتمثَّل فيها فتواه ؛ لقوله تعالى : (فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُم لاَ تَعْلَمُونَ ([النحل : ٤٣] وعليه الاجتهاد في أعلم أهل زمانه بالبحث عنه ؛ حتى يتفق أكثر الناس عليه ، وعلى العالم أيضاً أن يقلِّد عالماً مثله في نازلةٍ خفي عليه وجه الدليل فيها .(تفسير اللباب لابن عادل ابوحفص الحنبلى ج۱ص٤٩٧)

لنډه ترجمه :امام قرطبي رح فرمايي چې :دامي (عامي)شخص لپاره چې داجتهاد اهليت او علمي قوت پکې نوي ،او نه پکې داستنباط صلاحيت وي ،فرض دادي چې خپله سيمه کې دخپل وخت يو نبه عالم پيدا کړي او دنويوپيښو شويو مسايلو او حوادثو په باب ترې پوښتنه يا استفتاء وکړي ،او دسورت (النحل د۴۳نمبرآيت)په رڼاکې ترې فتوى واخلي او په هغې عمل وکړي ، دامستفتي بايد ديوه نبه عالم په لټه کې وي، تردې پورې چې زيات خلک ورسره پدې کې متفق شي ،همداسې پر يوه عالم هم دالازمي ده، چې په هغه مسئله کې چې ده ته پرې ددليل وجه نده معلومه، دبل کوم عالم او مفتي څخه پوښتنه وکړي .

په (روضة الناظر ٢ / ٤٥١ ، ٤٥٢ ، إعلام الموقعين ٤ / ١٨٧ ـ ٢٠١ ، او إرشاد الفحول ص ٢٦٦ .) کې ليکي ترجمه : جمهور اصوليين علماء وايي: چې تقليد جايز دی ،ځکه مجتهد به يا مصيب وي، يا به مخطئ وي ،چې پدې صورت

کې هم ورته ثواب ورکول کیږي او نه ګناهګار یږي ،بلکې په عامي شخص (غیر عالم)باندې تقلید واجب دی ،داځکه چې دا امي شخص هم دشرعي احکامو په تعمیل باندې مکلف دی ،اوده ته دلایل نه وي څرګند ،پرده باندې ددلایلو دخفاء تیاره خپره وي ،داشخص نظر او اجتهاد ته محتاج دی ،خو که عوام هم په اجتهادباندې مکلف شي ،نودې سره به دنسل او کښت انقطاع راشي، دکسبونو اوصنایعو امو راتو ځنډ وخنډ به رامنځته شي، چې ټولنه به دسختو مشکلاتو اوستونزو سره مخ شي اوبل داچې ځینوصحابه کرامو رضی الله عنهم به هم ځینونورو ته فتواوې ورکولې اوهمداسې به یې نوروخلکوته فتوې ورکوله، خودوئ ته یې داجتهاد دمرتبې ترلاسه کولو باندې حکم نه کاوه .

الله جل جلاله هم له علماوو نه دمسایلو په پوښتلو کې امر کړی دی، لکه چې په سورت النحل / ٤٣ آیت کې فرمایي : { فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ }نور هم داسې دلایل شته، چې دتقلید جواز اوعامی یا امي ته ترې دتقلید وجوب ثابتیږي ،چې همدا نظر دزیاتو علماوو غښتلي رأیه ده، ځکه که عوام هم دکوم داسې منل شوي عالم تقلید باندې وجوباً مکلف نشي، نو اسلامي جامعه به دپیچلو ستونزو سره مخ شي او خلک به دمسایلو په حل کې لا لهانده او سرګردانه ګرځي راګرځي ،نه به دیې علمي په وجه پخپله په مسئله پوهیږي او نه به دکوم عالم تقلید ورته واجب وي ،چې دې سره به ورځنی چاري دځنډ وخنډ سره مخامخ شي او ټولنه به دتحیر او سرګردانی ښکار شي ،نو ددغو وجوهاتو او عواملو په وجه نن سبا پرعامو مسلمانانو تقلید واجب او په مذهبي دایره کې ننوتل ورته دفتنو او مشکلاتو ځخه دخلاصون خورا ښه لاره ده لکه دالموسوعې پدې عبارت کې : الأوّل : جواز التّقليد فيها وهو رأي جمهور الأصوليّين ، قالوا : لأنّ المجتهد فيها إمّا مصيب وإمّا مخطئ مثاب غير آثم ، فجاز التّقليد فيها ، بل وجب على العامّيّ ذلك .....ولأنّ الصّحابة رضي الله عنهم كان يفتي بعضهم بعضاً ، ويفتون غيرهم ، ولا يأمرونهم بنيل درجة الاجتهاد . وقد أمر الله تعالى بسؤال العلماء في قوله تعالى : { فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُم لا تَعْلَمُونَ /الموسوعة الفقهية ج١٤ ص١٥٩) .

تقلید شخصي :

په (احسن الفتاوی) کې مفتي رشید احمد رح فرمایي :دعهد رسالت نه واخله د دویمې هجري پیړۍ تروروستیو پورې غیر شخصي تقلید مروج و،ځنګه چې دې وخت کې دمجتهدینوضوابط او اصول منضبط نه وو،نوځکه دکوم معلوم مذهب په پیروی کې ستونزه وه ،تردې چې ددویمې هجري پیړۍ په اواخرو کې خدای ج پرستوعلماووداصولو او فروعوپر تدوین شروع وکړه او ددوئ بااستعداده شاګردانوددې

سلسله پیل کړه او ددې تدوین او تهذیب یې وکړ،چې ددریمې هجري پیړۍ زیاتو خلکو دتقلید شخصي په ډول اختیار کړ،دوئ دا اصول او فروع دقرآن او سنت په رڼا کې مدون کړل او داسې علماء وو،چې علم او پوهه یې منل شوي وه ،امام شاه ولی الله رح فرمایي چې :وبهذ المأتین ظهرفیهم التمذهب للمجتهدین باعیانهم وقل من کان لایعتمد علی مذهب مجتهد بعینه وکان هذاهو الواجب فی ذالک الزمان (الانصاف ص۵۹)،نوکله چې نور مذاهب ونه ساتل شول، نو په ځلورمه هجري پیړۍ کې صرف ځلورمذهبه پاتي شول او دا دالله تعالی رحمت دی، چې په دې ځلورو مذهبونو کې تقلید شخصي منحصرشو،حضرت شاه صیب فرمایي چې :ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة کان اتباعها اتباعاً للسوادالاعظم والخروج عنهاخروجاً عن السواد الاعظم (عقد الجید۳۸) ،ژ:یعنې نن سبا چې نور مذاهب نشته، همدا ځلور مذاهب پاتي دي ،نوددې مذاهبو پیروي دسواد اعظم پیروي ده او ددې مذاهب اربعه وو نه خروج، له سواد اعظم نه خروج دی)همداسې (ملاجیون رح) په (تفسیر احمدي ص۲۹۷)کې فرمایي : والانصاف ان انحصار المذاهب فی الاربعة واتباعهم فضل الهی وقبولیة عندالله تعالی لامجال فیه للتوجیهات والادلة)،نو تقلید شخصي واجب دی او څنګه چې واجب کله (واجب لعینه) او کله (واجب لغیره)وي ،نو دلته وجوب لغیره مراد دی اوداڅکه چې په ترک دتقلید شخصي سره مفاسد منځته راځي (احسن الفتاوی ج۱ص۴۱۱-۴۱۳).

دمفتي رشیداحمد رح له تحقیقي فتوی څخه په ډاګه جوته شوه ،چې نن سبادې موجوده عصروزمان کې شخصي تقلید واجب دی او څوک پدې باب دڅه ویلو قانع کوونکی دلیل نشي ښودلای .

په (الموسوعة الفقهیة) کې لیکي چې : دحافظ ابن عبدالبررح،علامه ابن قیم الجوزی رح او علامه شوکانی رح په ځیر علماء وایې چې تقلید حرام دی او دوئ استدلال پدې ډول کریمه وو آیتونو او دعلماوو په اقوالو سره کوي ،چې پکې دتقلید مذمت بیان شوی دی (خو ددې آیتونو څخه چې دوئ پرې استدلال کړی ،غیر شرعي تقلید مراد دی ،چې هغو به په ناروواووکې دخپلو مشرانو تقلید کاوه ،اوکوم تقلید چې جواز لري یا واجب دی ،هغه په شرعي مسایلو او جایزو اموراتو کې دی او دې کې کومه قبحه نشته، بلکې واجب هم دی !

د(اعلام الموقعین) ددې نقل قول په باب لاندینی وضاحت ځواب کې بسنه کوي چې وایي (عَلَى حَدِّ مَا وَرَدَ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ لا يَحِلُّ لأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ مَقَالَتَنَا حَتَّى يَعْلَمَ مِنْ أَيْنَ قُلْنَا (إعلام الموقعین ٤ / ١٨٧ ـ ٢٠١ ، ٢١١ ،))

په الموسوعة الفقهية کې ددې دويمې ډلې علماوو په ځواب کې چې له تقليد نه انکار کوي او دليل کې دمذاهبو دائمه وو اقوال راوړي، وايي چې شايد دائمه مذاهبو موخه ددې څخه چې ددوئ له تقليدڅخه پکې منع فرمايلې ، ددوئ هغو شاګردانو ته متوجه وي، چې هغو ئ کې پخپله داجتهاد او دلايلو دحجيت دپيژندلو استعدادوو،نو دوئ دمحض تقليد څخه نهي وکړه، هرچې هغه عامي يا هغه عوام دي، چې نه د دلايلو دحجتيت اهليت نلري او نه ورسره علم راسخ شته، نو دوئ ته دائمه ووکلام ندی متوجه او پردوئ فرض ده، چې دکوم منل شوي امام او عالم څخه تقليد وکړي ،همداسې مو مخکې وويل چې دتقليد مانعين چې دتقليد په حرمت کې کوم آيتونه راوړي ،ددې څخه هغه تقليد مراد دی چې غير شرعي تقليد وي نه شرعي تقليد .

علامه ابن العربی په خپل تفسير(احکام القرآن لابن العربی ج۳ص۳۸۳)کې ليکي :

الْمَسْأَلَةُ الثَّالِثَةُ : تَعَلَّقَ قَوْمٌ بِهَذِهِ الْآيَةِ فِي ذَمِّ التَّقْلِيدِ ، وَقَدْ ذَكَرَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ ذَمَّ الْكُفَّارِ بِاتِّبَاعِهِمْ لِآبَائِهِمْ بِالْبَاطِلِ ، وَاقْتِدَائِهِمْ بِهِمْ فِي الْكُفْرِ وَالْمَعْصِيَةِ فِي مَوَاضِعَ مِنْ الْقُرْآنِ .

وَأَكَّدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ ؛ وَإِنَّمَا يَكُونُ كَمَا فَسَّرْنَاهُ فِي الْبَاطِلِ .

فَأَمَّا التَّقْلِيدُ فِي الْحَقِّ فَأَصْلٌ مِنْ أُصُولِ الدِّينِ ، وَعِصْمَةٌ مِنْ عِصَمِ الْمُسْلِمِينَ يَلْجَأُ إلَيْهَا الْجَاهِلُ الْمُقَصِّرُ عَنْ دَرْكِ النَّظَرِ .ژ: يعنې دې آيت کې دکفارو مذمت پدې شوی ،چې په کفر او معصيت کې دخپلو پلرونو پيروي کوي ،خوالبته په حق کې تقليد ددين له اصولو څخه يو اصل دی .

امام قرطبي رح پخپل تفسير(الجامع الاحکام للقرطبي) کې دتقليد په باب دلاندينې آيت په تفسير کې خپل تحقيق داسې ليکلی :

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لا يَعْقِلُونَ شَيْئاً وَلا يَهْتَدُونَ}.چې ځينوخلکودتقليد مذمت ته ددې فوق الذکر آيت سره تعلق ورکړی،پدې معنی چې ځنکه چې الله تعالی دکفارو مذمت لدې امله وکړ،چې دوئ په باطل کې دپلرونو اتباع کوي ،او ددوئ پيروي په کفر او معصيت کې کوي ،نو لدې امله يې تقليد مذموم دی، خو دا په باطل کې صحيح دی او هرچې په حق کې تقليد دی، نو داددين له اصولو نه يو اصل دی او دا مسلمانانودعصمتونو نه يو عصمت دی، چې د درک له نظرنه مقصر جاهل او ناپوهه ورته پناه راوړي ،لکه پدې عبارت کې چې فرمايی ((أما التقليد في الحق فأصل من أصول الدين ، وعصمة من عصم المسلمين يلجأ إليها الجاهل المقصر عن درك النظر))..... .....

کله چې کوم عالم یا عام شخص دقرآن او سنت نه کوم دلیل نشي اقامه کولای، نو پرده لازم ده ،چې دده څخه دلوړې مرتبې عالم څخه تقلید وکړي ،په(إعلام الموقعین ٤ / ٢٣٦ ، ١٩٢ .) ابن قیم جوزی رح وایې ژباړه :چې دضرورت پر وخت تقلید جایز دی ،نوابن قیم جوزی رح چې یو ځای کې دتقلید حرمت باندې قول کوي، دادی گوروچې بل ځای کې دا نوموړی عالم هم دضرورت پر وخت دتقلید جواز قایل دی ،نو دې کې کومه قبحه نشته ،تردې چې امام احمد بن حنبل رح به هم کله نا کله دامام شافعی رح په قول فتوی ورکوله او پخپله به یې هم پدې اعتراف کاوه .په (مطالب أولي النهی ٦ / ٤٤٨).کې داسې لیکي چې : إِذَا سُئِلْتُ عَنْ مَسْأَلَةٍ لَمْ أَعْرِفْ فِيهَا خَبَرًا أَفْتَيْتُ فِيهَا بِقَوْلِ الشَّافِعِيِّ ، لأَنَّهُ إِمَامٌ عَالِمٌ مِنْ قُرَيْشٍ (١) ، وَقَدْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لا تَسُبُّوا قُرَيْشًا ، فَإِنَّ عَالِمَهَا يَمْلأُ طِبَاقَ الأَرْضِ عِلْمًا ". ددې فوق الذکر تحقیق څخه بریښي چې دنفس تقلید څخه هیڅوک انکار نه کوي ،جمهور اصولیین علماء خو یې پروجوب قول کوي او دا دویمه ډله علماء چې تقلید یې نه مانه، هم دضرورت پر وخت پدې دلومړینو علماوو سره تقریباً متفق شول، چې تقلید دې صورت کې جایز او آن دعامو وگړولپاره دوجوب په درجه کې دی ،ځکه نن سبا په خلکو کې داجتهاد شرایط نشته ،اونه څوک مجتهدکیدلای شي ،نوضروربه دکوم امام تقلید کوي !

د عقایدوځیني علماء د اربعه مذاهبو نه خروج ته بدعت هم وایې ،دفتنو پدې دورکې، په شرعي لحاظ دیوه مسلمان لپاره تقلید کې کومه ستونزه نه لیدل کیږي او علماء یې دعوامومسلمانانو لپاره پر وجوب قول کوي ،لکه چې همدا خبره نامتو عالم ،محدث او فقیه علامه (محمد تقی عثماني رح) په خپله هغه رساله کې لیکلې، چې دتقلید دشرعي حیثیت په باب یې پکې تحقیق کړی ،نوموړی وایې ، لکه څرنگه چې (امام شاه ولی الله محدث دهلوي رح)فرمایي : چې په قرون اولی کې دکوم معین مجتهد په تقلید باندې خلک نه وو جمع شوي ،وروسته بیا په تقلید شخصي باندې اتفاق وشو،او بیا همدا واجب شو،چې ددې واضح نظیر

ددریم خلیفه حضرت عثمان رض په دور خلافت کې دقرآن دجمع کولو واقعه ده، چې له اوو حرفونو څخه یې په یوه حرف (دقریشو حرف)باندې خلک راجمع کړل او په همدې تلاوت لازمي کړل شو .

حضرت امام شاه ولی الله محدث دهلوي رح فرمايي :ان هذه المذاهب الاربعة المدونة المحررة قد اجتمعت الامة او من يعتد به منها على جواز تقليدها الى يومنا هذا ،وفي ذلک من المصالح ما لايخفى ،لا سيما في هذه الايام التي قصرت فيها الهمم جدا او شربت النفوس الهوى واعجب كل ذي رأى برأيه... /حجة الله البالغه ج۱ص۱۵۴)ژ:له شک پرته چې ددې څلورګونو مدون شویو او لیکل شویو مذاهبو د تقلیدپه جواز باندې د امت اجماع ده ،او پدې کې چې کوم مصلحتونه دي ،هغه دچانه پټ ندي ،او مخصوصا پداسې زمانه کې همتونه لویدلي ،خواهش پرستي دخلکو په خټه کې اخښل شوي او هر درأیې خاوند په خپله رأیه کبر کوي او مغرور دی.

(حکیم الامت مولینا اشرف علی تهانوي رح) فرمايي : چې مسایل په درې ډوله دي : لومړی هغه چې په هغې کې نصوص متعارض وي ،دویم هغه چې په هغې کې نصوص متعارض ندي، مګردګنو وجوهاتو او معانیو محتمل وي،که څه هم داختلاف نظر په وجه یې ځینې معناګاني لیرې او ځینې نږدي معلومیږي ،او دریم هغه چې په هغې کې تعارض هم نه وي او یوازې دیوې معنی محتمل وي ؛لومړي قسم کې دتعارض دختمولو لپاره مجتهد ته داجتهاد او غیر مجتهد ته دتقلید ضرورت دی ،دویم قسم ته چې ظنی الدلالت ویل کیږي، دې کې داحدالاحتمالات دتعین لپاره داجتهاد او تقلید ضرورت دی ،اودریم قسم ته چې قطی الدلالت ویل کیږي ،دې کې نه مونږ اجتهاد جایز بولو او نه دهغې تقلید! (الاقتصاد فی التقلید والاجتهادص۳۴طبع دهلی به جواب شبه سیزدهم).

داسلامي امت دمحدثینو،فقهاوواو مفسرینو له اقوالواو دلایلو څخه په ډاګه شوه ،چې ددین په فروعي مسایلو کې داربعه ائمه وو رح څخه دکوم امام او عالم تقلید دعامي یا امي شخص لپاره واجب دی اوله اربعه مذاهبو نه خروج حقیقت کې دسواد اعظم نه خروج دی ، ننې مسلمان ته چې داهل بدعو اواهل اهواوو له هرې دروازې نه دفتنو لورې ته بلل کیږي، مقلد کیدل یا تقلید کول دنجات لاره او دمذهب له دایرې نه وتل دفتنو په ګردونوکې ځان ګردجن کول دي او بس ! (والله تعالی اعلم)



نقش مطبوعات در جهاد

ابوصهیب حقانی هراتی

عصری که ما در آن زندگی می کنیم از نظر کارشناسی موسوم به عصر انفجار اطلاعات است. چرا که رسانه و مطبوعات یا گزارش و خبر در دنیای امروزی حرف اول را می زند ؛ اکثر مردم دنیا علاقه مند هستند که خود را از تازه ترین اتفاقات و رخدادهای اطراف خود آگاه نموده و از موضوعات گرم روز در جریان باشند ؛ و در این راستا، مثل سایر وسایل ارتباط جمعی، مطبوعات جایگاه خاص خود را دارد و علاقه مندان بسیاری در سطح دنیا، از طریق مطبوعات معلومات لازمهٔ خودشان را دریافت می کنند و از همین جهت است که روزانه صدها هزار روزنامه و بطور ماه وار و هفته وار ملیون ها مجلهٔ هفتگی و غیره چاپ و منتشر می شوند و همچنان مورد استقبال گستردهٔ جامعهٔ بشری قرار گرفته و تقاضای عمومی جوامع نیز به مراتب بر توسعه و گسترش مطبوعات در انواع و اقسام مختلف و انعکاس دهندهٔ بخش های مختلف زندگی انسان ها تاکید دارد.

جهاد و یا فعالیت های نظامی آزادگان راه حق و حریت نیز همانگونه که در پیشبرد اهداف شان به مدرن ترین و مجهزترین تشکیلات نظامی روز ضرورت دارند و موفقیت بیشتر عموما در داشتن امکانات نظامی پیشرفته تر و تجهیزات قوی تر دیده می شود به همان اندازه به ترقی دنیای اعلام و خبر که قطعا "مطبوعات" در این بین جایگاه خاص خود را دارد ضرورت داشته و بزرگان و مسئولین امور جهادی باید متوجه رسالت علمی و تبلیغاتی جهاد نیز باشند ؛ چرا که اگر هر قسم پیشرفت های نظامی وجود داشته باشد و هر قدر کامیابی ها نصیب مجاهدین شود ؛ اما از طریق دنیای اعلام و خبر از جریانات جنگی و مبارزات حماسه آفرین مجاهدین به دنیا و ملتی که امروزه گوش و چشم شان به دنیای اعلام و خبر دوخته شده نرسد در فرداهای نه چندان دور به هیچ یک از دست آوردهای جهادی استناد کرده نمی شود و چه بسا ملت و احیانا مورخین بخاطر ارایهٔ حقایق یک دوران

مبارزه به سندهای مورد نیازشان دست نیافته و از بیان واقعیت ها عاجز بمانند ؛ از این جهت ضمن توجه به تمام وسایل مورد نیاز دنیای اعلام و خبر، به مطبوعات که بیشتر از آنکه در حافظهٔ ابزار تکنالوجی جدید محفوظ بمانند در کاغذ و کتاب محفوظ می ماند بسی ضرورت است که الحمدلله امروزه دیده می شود اکثر گروه های جهادی این مسئله را به شدت مورد توجه و عنایت خویش قرار داده اند.

به همان میزان که مسلمانان در تلاش هستند تا قهرمانی های فرزندان رشید اسلام در مقابله با متجاوزین کفری را قید و ثبت دنیای اعلام و خبر (و مخصوصا در مطبوعات) نموده و برجسته نشان بدهند و حقایق را بطور نوشتاری در قالب کتاب و مجله در قدم نخست به ملت های خویش و در قدم دوم به دنیای خارج معلومات دهند و تا حد توان می کوشند تا جلوی افواهیات بی بنیاد و تبلیغات بی اساس و پروپاگنده های زهرآگین دشمنان را بگیرند ؛ فراموش نکنیم که رسانه ها و مطبوعات دشمن نیز دست به همچون فعالیت ها زده و غافل از این امر نبوده و نیستند ؛ اما لله الحمد با وجود کمی امکانات تبلیغاتی از نظر کمیت و کیفیت آلات و وسایل مجاهدین به نسبت سرمایه و پیشرفت دشمنان، باز هم در صحنه عملی حرکت های رسانه ای و مطبوعاتی مجاهدین موازی با حرکت دشمنان و گاه حتی در بسیاری موارد پیش هنگام تر از آنها بوده که این خود نشانگر حقانیت حق و ابطال باطل را ثابت می سازد و اینکه مجاهدین عموما به نقش اساسی مطبوعات در جهاد کاملا واقف بوده و به خدمات جهادی از این قبیل، ارج می گذارند.

نقش مطبوعات در جهاد تا حدی مهم است که اگر خبری را دشمن در رسانه ها و مطبوعات خود علیه مجاهدین به نشر برساند و بسیار با آب و تاب آن خبر را به سمع و نظر مردم برساند و قصد شوم دشمن نیز عموما فریب و انحراف باور مردم نسبت به پیشرفت های روز افزون مجاهدین در عرصه های مختلف باشد ؛ اما همینکه همان خبر در مطبوعات رسمی مجاهدین به شدت تکذیب و یا رد شود ؛ تاثیر به سزایی بر روح و روان ملت گذاشته و تمام نقشه های دشمن را نقش بر آب می سازد ؛ و در این جا دشمن دو نوع هزینهٔ ارزشمند خود را مفت به هدر می دهد ؛ یکی وقت خود را که صرف این کارها کرده و زحمتی که کشیده بود ؛ و دوم اینکه سرمایهٔ مالی که در این راه مصرف کرده بود. و این کار (رد تبلیغات منفی دشمن) اگر هرچه توسط مطبوعات مجاهدین پر رنگ تر و جذاب تر، عام فهم تر و قریب به حقیقت تر نشر و چاپ شود و هر قدر که

بیشتر به دسترس عموم قرار گیرد به همان میزان تاثیرات مثبت آن به نفع جهاد مقدس و مجاهدین قهرمان افزایش خواهد یافت.

که در اینجا مختصرا چند راهکار ذیل اگر مورد توجه و عنایت قرار گیرند ان شاء الله که بسیار مثمر ثمر واقع خواهند شد:

به محتوای نوشتاری از نظر علمی، خبری، ادبی و واقعی، توجه جدی صورت گیرد ؛ یعنی در مطبوعات واقعیت ها به گونهٔ به تصویر کشیده شوند که عموما مورد پسند و تایید قرار گرفته و به عبارت دیگر خالی از گزافه گویی و اخبار دور از واقعیت باشند.

به جذابیت ظاهری و دیزاین عناوین و کمیت و کیفیت مطبوعات، در قالب های دلچسپ توسط افراد ماهر و با سلیقه توجه جدی شود و کسانی بر این امور گماشته شوند که از ذوق هنری و استعداد خوب برخور دار بوده و کار به گونهٔ انجام شود که قبل از آنکه چشم دوستان به خوشی آن باز شود چشم دشمنان از دیدن آن همه مهارت و سلیقه کور گردد.

برای رساندن مطبوعات جهادی حتما باید گروه هایی موظف شوند که آنها را به ملت برساند و در این باره با در نظرداشت مسائل امنیتی، تمام جوانب مثبت سنجیده شود ؛ چون هر قدر که مطبوعات جهادی مجاهدین در دسترس عموم قرار گیرد به همان میزان شناخت مردم از پالیسی و باور مجاهدین، هدف و مرام شان آگاهی حاصل کرده و این مسائل منجر به تقریب دیدگاه ها و ایجاد فرصت تبادلهٔ نظریات مشترک حاصل می شود، و به نوعی احساس خودی کردن ملت با مجاهدین و مجاهدین با ملت بیش از پیش افزایش می یابد ؛ و همینطور شک و تردیدها نسبت به دروغ رسانه ها و مطبوعات زهرآلود دشمنان افزایش می یابد.

گزینش و انتخاب افراد مسلکی در پُر محتوا کردن و جذاب کردن مطبوعات بسی مهم است، که اگر در این باره زمینهٔ همکاری اقشار آگاه و دلسوز جامعه با مجاهدین مساعد شود و اندیشه های آنها در صورت توازن و داشتن مشترکات با پالیسی ها و باورهای مجاهدین همخوانی داشتند بسیار برجسته وتحسین برانگیز چاپ و نشر شود تا اقشار آگاه جامعه در راستای ترقی افکار مجاهدین از طریق مطبوعات بیشتر همگام و همراه شوند.

موارد فوق اگر مورد عنایت مسئولین ذی ربط قرار گیرند ان شاء الله در آیندهٔ نه چندان دور نتایج بسیار خوب و درخشانی در مطبوعات جهادی رقم خواهند زد. ان شاء الله تعالی

اسلامي امت

ته له ورپېښو مشکلاتو نه د وتلو لار!

م . احمدګل ریان

د یویشتمې پېړۍ د لومړي سهار لمر د ختیځ په هسکو څرک وواهه او ژیړي وړانګې یې په درو او ځنګلونو خورې شوې، هماغه وو، چې د لویدیځ تورې شپې ته په ختیځ کې روان حالت له برداشت ووت او په دې هڅه کې شو، چې خپل تورتم یو ځل بیا په شرقي څوکو او لمنو وغوړوي، خپل له وحشت ډک زړه د ختیځوالو د وینو په تویولو تش کړي او له دې لارې په ګرده اسلامي نړۍ د واک چلولو تنده خړوب کړي، دغې ورځې داسي ښکاروله چې غرب په شرق باندې د یرغل لپاره همدا ورځ ټاکلې وه او راتلو ته یې انتظار و.

دې ورځې د قیامت یوه لیوه نښه ښکاره کړه، د قیامت د رانژدې کېدو او اخري زمانې په لویو نښو کې دا هم یادېږي ،چې کفار به په مسلمانانو داسي حمله وکړي، لکه په دستارخوان باندې چې وږي انسانان له یوې او بلې خوارا ټول شي، دا په داسې حال کې چې د مسلمانانو تعداد به ډیر شوی وي (لکه همدا نن چې ده)؛ داسي به ځکه کیږي، چې د مسلمانانو په زړونو کې به د دنیا محبت محکم ځای نیولی وي، نن بالکل همدا حالات وینو.

د اسلام دښمنانو د یویشتمې پېړۍ په راتلو سره په اسلامي هیوادونو یرغلونه پیل کړل، دا یرغلونه یا مخامخ او یا هم په غیر مستقیم شکل په مخ روان شول، په عراق او افغانستا مخامخ بریدونه، د مسلمانانو په بندیخانو کې شکنجه کول، د دیني شعایرو سپکاوی او په ځینو هیوادونو کې د مسلمانانو حکومتونو د ړنګولو لپاره د پیسو په بدل کې له یو شمېر منافقو او په نوم مسلمانو وګړو څخه استفاده کول او د دوی له لارې د مسلمانانو تحقیر او زورول او دغه راز د میډیا له لاري

مسلمانانو ته روحاً تکلیف رسول، دا ټول هغه څه وو، چې د دې پېړۍ له راتلو سره سم پیل شول، مغرب که څه هم نن سبا د مجاهدینو له لاسه یو دردونکی خجالت زغمي، خو بیا یې هم لاس، پښې او خوله له حرکته نه دي غورځېدلي او په دې فکر کې دی ،چې د اسلامي نړۍ نژدې(٦٠)هیوادونه نور هم په تکرو وویشي، دې فکر ته لومړی په افغانستان او عراق کې د عمل جامه اغوندي، چې کیدای شي وروسته یې په نوره اسلامي نړۍ هم په عمل کې پلی کړي، په یادو دوو او نورو اسلامي هیوادونو کې به دوی ته لویه موقع لساني او مذهبي تعصب او اختلاف په لاس ورکوي.

آخر دا هرڅه ولې؟، مسلمانان چې ترڅو په دنیا کې د ترقي او تکاثر د مغربي سراب تر شا منډي ترړي وهي؛ همداسي به د دوی تحقیر او تذلیل جاري وي او د دین او عقیدې توهین به یې کیږي، دوی که غواړي له ورپېښو ناخوالو ځان خلاص کړي او له دنیاوي ترقي علاوه اخروي کامیابي هم ترلاسه کړي؛ نو باید خپلو اعمالو، قیادت، سمع و الطاعة، تعلیم او تربیة، کورنۍ او ټولنې او دغه راز ځینو نورو مهمو امورو ته توجه زیاته کړي، دغه امور په لاندې کربنو کې په لنډ ډول یادوو.

۱ - په صادقه او کامله توګه په اسلام کې داخلېدل:

مورِ په خپل تخلف او راپېښو مشکلاتو اعتراف کوو؛ نو له دې مشکلاتو او امراضو څخه د ځان خلاصولو لپاره تر ټولو لومړی باید په ربښتینې توګه د الله تعالی لور ته وګرځو، په اوامرو عمل وکړو او له هغه څه ځان وژغورو چې شریعت کې ترې منع شوي یو، الله جل جلاله فرمایي چې: تر هغو د یو قوم حالت نه بدلوي، تر څو یې هغوی په خپله بدل نه کړي، نو مسلمان باید خپل اعمال احسن، اسلم او احوط ته بدل کړي، ترڅو یې الله تعالی وضعیت په ښه واړوي، که داسي ونه کړي؛ الله تعالی به یې په همدې تذلیل او تحقیر کې د زمکې له سره واخلي او په ځای به یې داسي قوم پیدا کړي چې د الله تعالی ربښتینې بندګي وکړي.

۲ – جهاد، امر بالمعروف او نهی عن المنکر:

مسلمان باید خپل اولاد ته جهادي تربیه ورکړي، له جهاد سره یې مینه پیدا کړي او موت في سبیل الله ورزده کړي؛ ځکه چې همدا جهادي هڅې به یې له

دښمنانو ژغوري، نبي عليه السلام فرمايي چې: ولن يصلح حال آخر هذه الأمة الا بما صلح به حال اولها، بالکل همداسي ده، د ننني مسلمان حالت به په جهاد سره سميږي؛ ځکه د امت د اولنيو خلکو وضعيت هم د جهاد په برکت سم او صالح وو، کله چې دښمن له شرق، غرب، شمال او جنوب نه په مسلمانانو يرغلونه پيل کړي نو د حل لاره يوازي او يوازې جهاد دی، نو ففروا الی اللّه!، خپل اولاد په جهادي تربيه وروزئ او امر بالمعروف او نهي عن المنکر ورزده کړئ؛ که مسلمان داسي ونه کړي او اولادونه يې داسې نرم روږدي شي چې نه د هوا د څپو او نه د لمر د وړانګو تاب ولري نو څنګه به له دښمن سره د مخامخ کيدو استعداد پکې پيدا شي؟.

۳ - اجتماع او خپلمنځي تعاون:

دغه جمله واضحه ده او هيڅ تفصيل ته اړتيا نه لري، يوازي دومره به ووايو چې مسلمان بايد خپله اجتماع ونه پاشي، سره يو شي، خپل دښمن ښه وپېژني او يوې خوا ته يې کړي.

۴ - د تعليمي منهج اصلاح او له فساد نه د رسنيزو وسايلو تصفيه کول:

مسلمانانو ته د ورپيښو مشکلاتو نه د خلاصون له مهمو لارو نه يوه دا هم ده چې خپل تعليمي منهج او په خپلو هيوادونو کې فعالې رسنۍ اصلاح کړي، دوی بايد په خپلو سيمو کې تعليمي نصاب او اموزشي برنامو ته ډيره توجه وکړي او خپل نصاب او تعليمي اداره له هغو موضوعاتو او خلکو پاکې کړي چې اولادونه يې ورته په داسي تربيه روزي چې په پای کې په اصطلاح د دښمن تبر ته د لاستي کار ورکړي، دغه راز په مسلمانو هيوادونو کې د رسنيو اصلاح هم ډيره اړينه ده، دوی بايد خپلې رسنۍ ژورې مطالعه کړي، په نظر ورغلی فساد پکې له منځه يوسي، رسنۍ د ټولنې د اصلاح ذريعه وګرځوي او ديني او ملي ارزښتونو ته يې وفادارې کړي، که کومه رسنۍ د فساد په خپراوي ټينګار وکړي؛ بايد محو يې کړي.

۵ - پاک او مخلص قيادت:

مسلمانانو ته ضروري ده چې پاک او مخلص قيادت ولري، نن سبا چې مسلمان له کومو دربدريو سره مخ دي، د هغو لوي لامل د صاف او سپين قيادت فقدان دی، دغه جمود له ډيره وخته راروان وينو، زمونږ په هيواد کې د پاک او مخلص قيادت

له منځه تلل او تر نن ورځې يې بيا راګرځېدل ځنډېدل دغه احساس راکوي چې دا د الله تعالى له طرفه يو دول سزا ده؛ ځکه الله تعالى چې کله په يو قوم باندې خپل فضل او مرحمت لوروي نو يو مخلص قيادت يې نصيب کوي، او الله تعالى هغه وخت فضل او رحم کوي کله چې قوم په خپلو اعمالو شرمنده شي، په تيرو وختونو کې د موقع پرست او له اسلام نه بيزاره سياستوالو په برداشت ندامت بښکاره کړي او د زړه له اخلاصه د تبديلي غوښتونکي شي.

له ميلاد نه ۱۲/۱۱ سوه کاله وراندې د بني اسرائيلو حالت خورا بد او له زغمه وتلى وو، په دوی د عمالقه په نوم يو سخت دريځه کافر قوم مسلط وو، په دې وخت کې بني اسرائل د عمالقه د تسلط او غلبې د ختمېدو او خپل حالت بنه کېدو غوښتونکي شول او له الله تعالى نه يې د شموئيل عليه السلام په توسط د مخلص قيادت تمنا وکړه، هماغه و چې الله تعالى د طالوت غوندې عظيم قايد ورنصيب کړ او په قيادت کې يې دوی په عمالقه غالب شول او د طالوت د لښکر يو ځوان (داود ع) د عمالقه سردار (جالوت) قتل کړ.

نو ضروري ده چې مسلمان (هرچيرته چې دي) په لومړي قدم کې د موجوده بدې اوضاع د تبديلي غوښتنکي شي او د زړه له تله په هغه زغم پښماني څرګنده کړي چې دا څه موده يې تري کار اخيستى و او په نوم مسلمان قيادتونه يې زغملي وو، له دې وروسته زيات اميد شته چې الله تعالى په خپل فضل او کرم سره دردمند او صالح قيادت پرې ولوروي.

ننني مسلمان بايد د نژدې ماضي اجتماعي تأمين او مساوات ته وګرځي او دا څه سخت کار نه دى بلکې يوازې کلک هود ته اړتيا لري، د دې لپاره يوازې د قيادت لپاره د هغو اشخاصو تعين په کار دى چې مخکې تجربه شوې دي، د هغوی په قيادت کې د مسلمان ملت خوښ روح مشاهده شوى او په واک کې يې هغه تأمين او مساوات ليدل شوى چې اوس يې يوازې نوم يادېږي او بس، نو ماضي ته ګرځېدل او د زړه له تله له الله تعالى نه د نيک قيادت غوښتنه او د دې لپاره عملي ګام پورته کول هغه څه دي چې مسلمان له ننې مشکل او نادود حالت نه ايستلى شي.

زمونږ هيوادوال بايد د اسلامي امارت دور ته وګرځي، هغه دور چې د اسلام د

دوهم خليفه (حضرت عمر رضی الله عنه) د خلافت ژوندی مثال وو، هغه دور چې نر اوښځې، مسکين او دولتمند، حکومتي او رعيتي، لورپورې او تيت پورې شخص ته پکې خپل حق ورکړل شوی و او له هر دول فساد او شرعي کمزورۍ پاک قيادت وو، که هيوادوال داسې وکړي؛ نه يوازې به د پرديو د لاسپوڅو له واک نه خلاص شي بلکې يو ځل بيا به په خپل کلي کور او د وطن په لر او بر کې د خوښۍ سا واخلي او يو وار بيا به له هغه امن نه برخمن شي چې له خيرالقرون نه راپه دېخوا يې (بده نه ده چې ووايو) بيلګه نه ده ليدل شوې.

٦ - د فساد او افساد له وسايلو نه د ټولنې ساتنه:

وروستۍ لاره دا ذکر کوو، چې مسلمان بايد خپله ټولنه له پامه ونه غورځوي او په ټولنه کې رامنځته شوی فساد بابيزه ونه ګڼي، دا فساد په بيلو بيلو شکلونو په خپله ټولنه کې ليدلی شو، ټولنه مو د فساد او افساد له وسايلو دکه ده چې بايد ويښ او با احساسه مسلمان وګړي يې د تطهير او تصفيې هڅه وکړي.

دا هغه لارې دي چې که عمل پرې وشي نو مسلمان به يو ځل بيا خپل عزت او مجد تر لاسه کړي او له هغو ناخوالو به په امن شي چې نن سبا ورسره مخ دي.

علامه اقبال او سيد جمال الدين افغان د مسلمانانو د دوباره نشاه لپاره خپلمنځي اتحاد او يو والی تر ټولو ضروري شرط بللی؛ مګر متأسفانه چې د نن زمانې مسلمان په دې خبره عمل نه دی کړی، مسلمان بايد پوه شي چې تر څو يې له دلو تپلو او لساني تعصباتو نه ځان نه وي خلاص کړی، تر هغو به يې دښمنان پامال او تبا کوي.

مسلمان بايد دغه دوه آياتونه هم په هيڅ وخت کې له پامه ونه غورځوي، الله جل جلاله فرمايي:

(كنتم خير أمة أخرجت للناس تأمر ون بالمعروف وتنهون عن المنكر وتؤمنون بالله)

او بل ځای کې فرمايي:

(واعتصموا بحبل الله جميعا ولا تفرقوا)

أقول قولي هذا، أستغفر الله لي ولكم ولسائرالمسلمين.

د مورچل وږمۍ کوکاره

قاري يوسف احمدي

نازولي ستوري

عرفان الله عرفاني

اسمان کې ښکاري خلېدلي ستوري
په شنه لمن کې يې تومبلي ستوري

په کناروکې يې سورخي دشفق
له ښکلاډک دي نازولي ستوري

اسمانه غېږې ته دې څنګه درشم
څنګ کې دې ښکاري زموږدکلي ستوري

مين يم مينه لرم ستوروسره
دعشق معراج ته درختلي ستوري

وړانګې دلمردې له سينې خورې دي
لورپه لورښکاري خندېدلي ستوري

داخمارحسن ورته چاورکړی
نرګس ګلاب دي هم منلي ستوري

عرفاني څوک يې له نظره نکړي
له سپوږمۍ تاودي څومره ښکلي

غازي

عبد الباقي مهاجر

وران دې ټول دکفر رواجونه کړل
مټي دې لا نوري ګرندۍ غازي

تا چې له بادار سره وعده کړي
توره کې دې ونغاړه نړۍ غازي

بیا به دې ارمان پر دنیا پوره پوره وي
غرقه که دې کړله دابیړۍ غازي

نور به دې هر زړه لکه پرهر ساتي
ور دې سخت ګوزار کړ دسیالۍ غازي

دومره دې غرور دلته ثواب لري
هسې ددښمن پیچه مرۍ غازي

اوس دې مهاجر په تمه ناسته یمه
رب دې کړه حاکم پر دنیا ګۍ غازي

شکورالله همراز

الهي مینه

ژوندون په مسته مینه الهي لوګی کوي
خاونده! ستا رضا غواړي ځوانې لوګی کوي

ارمان د غوړیدو یې ورته پاتې شي یادګار کې
نازکې سرې غوټۍ د سهرګي لوګی کوي

دا کار د هغو نده چې ډولونه او سینګار کړي
خالص په دین مین زلمي زړګي لوګي کوي

په سپینو رڼاګانو باندي تورې شپې سبا کړي
ګلاب ګلاب ځوانۍ ورنه دستي لوګی کوي

جانانه! که راستون شوې کلي کور ته له زندانه
"همراز" به درته مخکي سپیلنې لوګی کوي

خواجه عبدالله انصاري

الهی مرا آن ده که مرا آن به
الهی اگر از دنیا مرا نصیبی است به بیگانگان دادم
واگر از عقبی مرا ذخیره ای است به مومنان دادم
در دنیا مرا یاد تو بس و در عقبی مرا دیدار توبس

امریکا دافغانانو

د اسلامي هویت د له منځه وړلو په هڅه کې

لیکنه: مولوي عبدالهادي (مجاهد)

امریکا ته په افغانستان کې د انګریزانو او روسانو له تجربو دا ورمعلومه وه چې افغانستان یوازې په زور او جګړې نه ایل کېږي او ترڅو چې د افغانانو په فکري او ټولنیز ژوند کې د افغانی هویت عناصر موجودوي تر هغه به دوئ د هر یرغلګر په خلاف د مقاومت توان لري، نو ځکه خو امریکا د افغانانو په ژوند کې د دوئ د اسلامي هویت عناصر تر بریده لاندې ونیول تر څو د تل لپاره په افغانانو کې د جهاد روحیه له منځه یوسي او پدې ترتیب افغان نوی نسل د غربي فرهنګ او نظریاتو پر اساس وروزي.

د افغاني ټولنې د اسلامي هویت اساسي عناصر

د افغاني ټولنې د اسلامي هویت اساسي عناصر ما ته تر دېره ځایه په لاندې ټکو کې را ښکاري.

د ټینګ ایمان درلودل او د شریعت منل.

غیرت او همت.

عفت او شرف.

جهاد او سرښندنه.

د غرب د لویدلي فرهنګ له تاثیراتو لرې والی.

اول عنصر- ټینګ ایمان:

افغانان چې له کومې ورځې مسلمانان شوي له هماغې ورځې تر اوسه اسلام د دوئ دین، شریعت یې قانون او اسلامي فرهنګ یې د ژوند بڼه ده.

دا رښتیا ده چې په عمومي ډول به په افغانانو کې شرعي علوم په پراخه ډول دومره ډېر نه وي خپاره شوي خو د اسلام په منلو کې په عملي ډول د سیمې تر نورو ولسونو غښتلي دي،

او له دین څخه د دفاع په لار کې هم تر نورو څو ګامه مخکې دي، او دا هغه حقیقت دی چې د سیمې تاریخ یې تل شاهدي او مثالونه وړاندې کړي دي.

د روسانو او کمونیزم په مقابل کې د جهاد په وخت کې به چې دلته راغلیو عربو مجاهدینو د افغانو د تدین او ښې مسلمانۍ ستاینه کوله نو ما چې لا هغه وخت د عربي نړۍ له اوسني وضعیته د عمر د کشرۍ او د معلوماتو د نشتوالي له امله خبر نه درلود هغوئ ته به مې ویل چې زما په تصور کې خو تاسې عرب د ډېر قوي ایمان خاوندان یاست، ځکه چې تاسو د اصحابانو لمسیان یاست، د وحیې پر زمکه هستېږئ، قرآن ستاسی په ژبه نازل شوی او داسی نور، خو هغوئ به راته ویل: (ولكنّنا تلقّينا دروس الإيمان العملية منكم في هذا الزمن)، یعنې دا سمه ده چې موږ د دې امتیازاتو لرونکي یو، خو موږ د ایمان عملي درسونه پدې زمانه کې له تاسو افغانانو حاصل کړل.

همدغه د ایمان د قوت او له اسلام سره د وفاداری زور دی چې افغانان یې تل د مادي وسایلو له کمۍ او یا نشتوالي سره سره د چنګېزیانو، انګرېزانو، روسانو او امریکایانو په مقابل کې درولي او تل یې یرغلګرو ځواکونو ته ماتې ورکړې ده.

له افغانانو د ایمان د وسلې د اخیستلو په لاره کې هېڅ کفري قوت او ملګرو یې خپلې هڅې ندي سپمولې.

انګریزانو د خپل استعمار په وخت کې ورته خپل کفري کتابونه ژباړلي او راوړي دي، او روسانو او امریکایانو ورته خپل. له ما سره د تورات او انجیل (عهد قدیم او عهد جدید) یوه پښتو نسخه موجوده ده چې د نولسمې میلادي پېړۍ په آخر کې په لندن کې چاپ شوې او بیا دې سیمې ته راوړل شوې ده، او دا په داسې حال کې چې په هغه وخت کې د دې سیمې هېڅ پښتون مسیحیت ته ور مرتد شوی نه وو. انګریزانو په خپل وخت کې افغانستان ته د (قادیانیت) کفري عقیده هم راصادره کړې، یو څو کورنۍ قادیانیت ته هم ور اووښتې وې چې د مشرانو تر اعدامېدلو وروسته یې اولادونه پېښور ته وتښتېدل او د انګرېزانو تر تسلط لاندې د پېښور د (اچیني) په کلي کې میشت شول چې تر نولس سوه نوي یمو کلونو پورې هماغلته پراته ول او په مهاجرو افغانانو کې یې خپل دین ته دعوت هم پیل کړی وو.

روسانو هم لا ډېر پخوا لـه افغانـانو څخـه دايمان د وسلې د اخيستلو په نيت خپلـه الحـادي کمونستي نظريه افغانستان ته راصـادره کـړه، او بيا يـې د همـدغې الحـادي نظريـې د خپـراوي او ټينګښـت پـه خـاطر افغانسـتان اشـغال کـړ، پـه سـلګونو زره الحـادي، مارکسيسـتي او لينـنـي کتابونه يې د افغانانو ژبو ته وژباړل.

د فرهنګي فعاليت تر څنګ يې د افغانانو د اولادونو دکافر کولو لپاره د (پښتو آهنګانو) لړۍ هم شروع کـړه، او تـر يوسـل او شـل زره زيـات کمکي هلکان او نجونې يـې شـوروي اتحـاد تـه ولېږل، او هلته يې په مستقيمه او غير مسـتقيمه توګه د الحاد افکار د دوئ په ذهنونو کې ورځای کړل، او دلته يې هم په هېـواد کـې پـه ببلابېلـو نومونـو د څوانـانو لپـاره فکـري او انقـلابي سازمانونو جوړ کړل، او هم يې د کمونيزم نظريـه او افکار په مستقيمه توګه په افغانی نصاب کې شامل کړل.

کمونست ببرک به په واز کـومي هـر وخـت افغانو څوانانوته تلقين ورکاوه چې بايـد لـه دوئ څخه (انسـان نـوين) جـوړ شي، بايـد د مـارکس، انګلز او لينن فلسفه خپله کړی.

خو کله چې کمونيزم په افغانستان او نړۍ کـې مـاتې وخـوړه نـو د هغـه د فکـري تشـې د ډکولو لپاره د نصراني غـرب يرغلګر پـه لانـدې دريو جبهو کې رامنځته شول:

د نصراني غرب درې جبهې :

۱ - د سيکولريزم جبهه:

سيکولريزم په انګريزی کې (بـې دينـې) يـا (پـه نظـام او حکومـت کـې ديـن تـه ځـای نـه ورکولو) ته وايي. غربي سيکولريزم که څه هم په افغانستان کې لا د امان الله خان له وختـه خپلـې ريښتې غزولې او د ظـاهر شـاه او داود خـان پـه وختونو کې ښه ډېره وده کړې وه. پـه تېـره نيمـه پېـړۍ کـې غـرب پلـوو اشخاصـو، احزابـو او مؤسساتو هم د سيکولريزم د خپراوي لپاره پـراخ کار کـړ،او خبره تـر دې ځـايهرا ورسـېده چـې د جهاد په دور کې يې د ځينې غرب پلـوو تـش پـه نامـه جهـادي ګونـدونو لـه کړکـې يـې هـم سر راوويسـت. دغـه ګوندونـه چـې ځـان يـې (منـځ لاری) يعنې نه کمونيستان او نـه هـم تونـدلاري مجاهدين بلل د غرب د اهدافو د پلي کولو لپـاره د ډېرې کاريګرې وسيلې پـه حيـث ثابـت شـول. هغوئ چې يو وخت يـې د (پـيری) (حضرتـی) او غولوونکي (روحانيت) په نامه افغانان له خالص عملي اسلامه ګرځول دا ځل يې سرونه د امريکا او غرب له ګربوانه راووتل. سـيکولريزم يـوازې په غرب پلوو تنظيمونو، احزابو او اشخاصو کـې

منحصر پاتې نه شو، بلکې هغه اخواني مزاجه پخواني تنظيمونه او د هغو ډېره برخه اتباع يې هم تر خپل تأثير لاندې راوستل، او په يوه سيکولر ديموکرات حکومت کې يې د غربي يرغلګرو تر سيوري لاندې د نورو سيکولرو احزابو او اشخاصو تر څنګ د غرب په خدمت کې ودرول.

امريکايانو پر افغانستان له خپل پوځي يرغل وروسته دغو غرب پلوو (روحانيونو!!؟) او سيکولر ديموکرات مجاهدينو!!؟ ته د افغانستان د قيادت، اقتصاد، پوځ، عدلي سيستم، اجتماعي خدماتو، تعليم او فرهنګ چارې وروسپارلې. دغو ډلو ته يې مالي او اطلاعاتي وسايل په لاس ورکړل تر څو د سيکولريزم د خپراوي لپاره په خلاص لاس کار وکولی شي.

د غرب دغو نويو او زړو ملګرو د هر ډول وارداتي افکارو پرمخ د هېواد دورازې ورخلاصې کړې، خو د هغو په مقابل کې چې هر څوك د سوچه اسلامي فکر پالنه او ساتنه کوي د دوئ لخوا د (القاعدې) په نامه وهل، ترل، شړل او وژل کېږي، او کټ مټ د ترکيې د(کمالیزم) په څېر خپل سيکولريزم د زور په وسيله او له خپل لوري د وضع شويو قوانينو له لارې پر خلکو عملي کوي.

د اسلامي نړۍ د تولواسلامي مذاهبو علماء پدې متفق دي چې سيکولريزم ځکه کفر دی چې له الله تعالی څخه د حاکميت او تشريع حق اخلي، خو (سيکولر ديموکرات مجاهدين) او امريکا پلوي (روحانييين) يې ځکه پلی کوي چې په لکونو ډالره مياشتني معاشونه، شکرانې او نور سياسي او مادي امتيازات تر لاسه کوي.

سيکولريزم په يوه ورځ له خلکو څخه ايمان نه اخلي، بلکی په کراره کراره ايماني ارزښتونه د هغوئ له ژوند څخه باسي او د وخت په تېرېدلو يې داسې مرحلې ته رسوي چې دوئ به بيا په خپله اسلامي شريعت نه غواړي، خو سره له دې به بيا هم ځانونه مسلمانان بولي.

غربيانو په افغانستان کې پر سيکولريزم د (مدني ټولنې) (ديموکراسۍ) او د (نوي بهير) نومونه ايښي دي، ځکه چې دا هغه اصطلاحات دي چې عام وګړي يې په اصلي مقصد نه پوهېږي، او په اسانه يې په لومو کې ښکار کېږي.

۲ – د کليساجبهه:

کليسا لا له ډېر پخوا راهيسې د افغانانو دمسيحي کولو پروګرام تر لاس لاندې نيولی وو، پر (اسلامي نړۍ يرغل) نومی کتاب چې دمسيحي مبلغينو د هغو مقالو مجموعه ده چې

په فرانسوي مجله د(مسلمانانو نړۍ) کې خپرې شوې او بیا د مصر ستر عالم (الشیخ محب الدین الخطیب) په عربي ژبه چاپ کړی دی، په دې کتاب کې مسیحي مبلیغینو د افغانانو په هکله څه د پاسه سل کاله پخوا لیکلي چې (دهندوستان غربي پولو ته څېرمه پراته پښتانه ډېر سخت خلك دي، هغوئ هېڅکله هم مسیحیت نه مني، مونږ باید هڅه وکړو چې غربي او مسیحي ادبیات د دوئ په سیمه کې خپاره کړو چې لدې لارې به دوئ په تدریجي ډول له غربي کلتور او افکارو سره بلد شي).

د همدې او دېته ورته توصیو له مخې غربي کلیسایي مؤسسو د افغانانو د هجرت په ورځو کې دغې سیمې ته مخه وکړه او د مرستو او صحي خدماتو په پلمه یې په لسګونو زره د انجیل نسخې او د مسیحیت کتابونه په پښتو او فارسي ژبې د مهاجرینو په منځ کې ووېشل.

ما په خپله ولېدل چې د خیبر درې د سرک پر غاړه په یو مسجد کې د انجیل نوې نسخه د قرآن کریم د نسخو د پاسه اینبودل شوې وه چې ښایي پر دغه لاره تېرېدونکیو د خارجي مؤسساتو صلیبیانو به اینبي وه. بل ځل مې د پېښور د مهاجرینو د بورډ په بازار کې د سرك پر غاړه له یوه افغاني کتاب خرڅونکي سره د انجیل نسخه ولېده چې د کتابونو په منځ کې یې د خرڅلاو لپاره اینبې وه.

غربي کلیسا ګانو د پاکستان په اسلام آباد کې د پاکستان دمسیحي ټولنې په چوکاټ کې د افغانانو لپاره یوه خاصه مسیحي راډیو جوړه کړه چې له دېرشو کلونو راهیسې په پښتو، فارسي او هزاره ګي ژبو د (صدای زنده گي)،(صدای امید)او (مسیحي بچې پروګرام) په نامه په ورځ کې څو څو ساعته پرله پسې خالصې مسیحي خپرونې کوي. او دا په داسې حال دي چې په افغانستان کې په ښکاره ډول نصرانیان نشته.

غربي کلیسا ګانو د مهاجرینو په منځ او بیا وروسته په کابل کې افغانان مسیحیت ته وروبلل، او هغوئ ته یې د مسیحیت د ښوونې مرکزونه جوړ کړل.

په افغانستان د امریکایانو له مسلط کېدلو سره سم تقریبا څلور زره غربي مؤسسې افغانستان ته راغلې، چې تقریبا نیمایي یې په کلیساګانو پورې اړه لري او د امریکایي پلوي نظام تر سیوري لاندې اوس په ښلابښلو نومونو په کابل او نورو ولایاتو کې خپل فعالیتونه ترسره کوي.

د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل په کابل، مزارشریف، قندهار، کندز، خوست، هرات

او ځینې نورو ولایاتو کې د امریکایانو د اشغال په وخت کې د هغوئ په اډو او مراکزو کې کلیساګانې جوړې شوې چې اوس خو راغلي یرغلګر ورکې خپل دین پلی کوي، خو د دوئ پلان دا دی چې وروسته به بیا دلته د دوئ د پاتې کېدلو په صورت کې د بیان او عقیدې د ازادۍ د حق پر اساس چې اوسنی اساسي قانون یې هم تأیید کوي د ډیموکراسۍ په سیوري کې مسیحیت ته ور مرتد شوي افغانان هم په ازاده خپل عبادتونه ورکې تر سره کوي چې د زمانې په تېرېدلو او د شرایطو په بدلېدلو به بیا دغه وړوکی مرتد شوی اقلیت د مسیحي غرب تر پالنې او حمایې لاندې سیاست او پارلمان ته هم لاره پیدا کوي، او کرار کرار به د قوانینو په رامنځته کولو او تصویب کې د خپل پارلماني حق په استعمال کفر ته په افغانستان کې رسمي او قانوني موجودیت وربښي چې د پنجشېري عبدالرحمن په ښکاره نصراني کېدل او د لاس پوځي نظام د رئیس اشرف غني د نصرانۍ بښځې (رولا) په تاریخ کې د لومړنۍ افغانې نصرانۍ په حیث راجستر کېدل د همدې کار یو ډول پیل هم بلل کېدی شي.

د افغانانو ایماني ارزښتونه کله هم له دومره لوی ګوابښ سره نه وو مخامخ شوي. امریکایان او غربیان غواړي چې لدې لارې د افغانانو ایمان ولوټي او بیا یې په خپل خدمت کې د مفتو مزدورانو په حیث په کار واچوي چې له یوې خوا به پدې کار محلي مزدوران په لاس ورشي، او له بلې خوا به افغانان د افغانو په لاس کفر ته ور وبولي.

۳ـ پوځي جبهه:

کله چې امریکا او غربي هېوادونو ولیدل چې افغانان د رباني او کمونستانو له ایتلاف نه وروسته یو ځل بیا د اسلام تر بیرغ لاندې په اسلامي شریعت سره را ټول شول نو یې پر افغانستان د خپل پوځي برید لپاره تیاری پیل کړ، د شمال کمونیستي نیشنلستي ټلواله یې تأیید، تقویه او بیا استعمال کړه، او (بوش) د ټول غرب په یوځای کولو او په شرق کې خپلو ملګرو ته د امر په ورکولو خپله نړیواله صلیبي جګړه اعلان کړه.

بوش په واز کومي دغه جګړه مقدسه صلیبي جګړه و بلله، او په نتیجه کې یې د صلیبي لښکرو په زور او د هغوئ تر څنګ د افغاني ملېشه یي ډلو د قومندانانو په استخدام افغانستان اشغال کړ.

بوش پوهېده چې په یوازې سر افغانستان نه تسخیرولی شي او نه یې ساتلی شي، نو ځکه

يې د ټولې دنيا کافران په پرله پسې ننواتو له ځان سره ملګري کړل.

امريکا د خپل يرغل په کلونو کې د شمال له ځينې کمونيزم ځپلو سيمو پرته نور د يوه ولايت خلك هم له ځان سره ملګري نه کړای شول، که څه هم چې ډېرې لويې غونډې، لويې جرګې او څو څوځله يې انتخابات په کار واچول خو هېڅ ګټه يې ورته ونه لرله. جهاد نور هم زور واخيست او پر افغانانو د امريکا د جنګي ټکنالوژۍ د غرور جادو هم بې تاثيره شوه، خلك پوه شول چې امريکايان هم وژل کېدای شي، او د دوئ له ډېرو پرمختللو وسايلو نه هم ځان په ډېرو ساده طريقو ساتلی شي.

امريکا به اورمرو دغه جګړه بايلي، ځکه چې روسان له افغانستان سره په پوله پراته ول خو بيا يې هم خپله جګړه اکمال نه کړای شوه، نو امريکابه يې له شل زره کيلو متره لېرې هېواده څنګه اکمال کړای شي؟ خو امريکايان به کوښښ وکړي چې تر هغو په افغانستان کې خپل نظامي حضور ته دوام ورکړي چې تر څو دلته يو غرب پلوی نسل تربيه کړي او بيا د خپلې ماتې په صورت کې دا هېواد خپلو دغو روزل شويو غلامانو ته د افغانانو په نامه ور وسپاري.

له همدې امله امريکايانو د افغانستان ټول پخواني پوځي تشکيلات لغوه او پخواني افسران يې له کاره ګوښه کړل، او دا ځکه چې هغوئ يو ځل د خپل ملت او هېود په خلاف د روسانو لپاره د جګړې ترخه تجربه ليدلې وه، او د دې ډېر احتمال وو چې د هغوئ يوه زياته برخه به بيا دخپل ملت په خلاف د امريکايانو لپاره نه وو جنګېدلي. امريکايانو د هغوئ پر ځای داسې بېسواده، بې فرهنګه، بې احساسه او بې تجربې اوباشان د (ملي اردو) په نامه رامنځته کړل چې يوازې څو هفتې يې له امريکايانو پوځي روزنه تر لاسه کړې، خو د خپل ملت په خلاف د جګړې له ترخو عواقبو ناخبره دي.

دويم عنصر- غيرت او همت:

امريکايانو او غربيانو ته دخپلو (استشراقي) معلوماتو په په رڼا کې ور معلومه وه چې ډېر افغانان لا تر اوسه د غرب له لوبډلي او بې غيرته فرهنګه ندي اغېزمن شوي او تر اوسه يې په معنوي ژوند او تولنيزو ارزښتونو کې غيرت لوړ ځای لري، او ترڅو چې دغه شعور ورکې ژوندی وي د غرب په څېر بې حيا او د ښځو او نرو تر منځ مختلط او بې بندو باره ژوند نه مني، نو ځکه خو يې کوښښ وکړ چې د اسلامي غيرت احساس په خلګو کې له منځه

یوسي. امریکایانو په افغاني ټولنه کې د دې دیني او معنوي ارزښت د له منځه وړلو لپاره له لاندې یادو شویو تدابیرو کار واخیست:

د دیني او معنوي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره غربیانو تدابیر

۱–د نشراتي وسائلو پراخه خپراوی:

د دې لپاره چې امریکایان د افغانانو له ذهن څخه د خپل پوځي یرغل تصور وباسي او په تفریحي او ترفیهي مصروفیتونو یې مشغول کړي نو په پراخه پیمانه یې په افغانستان کې نشراتي وسائل خپاره کړل، او د هغو له لارې یې خپل فرهنگ، اجتماعي او اخلاقي ارزښتونه او د غربي ډوله ژوند بڼه افغانانو ته ور تلقین کړه. یرغلګرو د دغو نویو وسائلو له لارې په ورځ کې په زرګونو ساعته راډیو یي او تلویزوني خپرونې پیل کړې او پراخه انټرنټي او مطبوعاتي تبلیغات یې په کار واچول.

یوازې یوې امریکایي مؤسسې(USAID) تر سلو زیاتې نادولتي محلیFM راډیوګانې د افغانستان په ولسوالیوکې فعالی کړې چې هره یوه یې په ورځ کې لږ تر لږه تر لسو ساعتونوپورې د دوئ په ګټه خپرونې کوي. د دې ترڅنګ د امریکا، بي بي سي او ازادی راډیوګانو خپلې یونیم او دوه ساعته خپرونې څلېرشت ساعته کړې، او له مرکزي راډیوګانو علاوه په ولایاتو کې په محلي FM سټېشنونو هم خپروي.

ددغو راډیوګانو تر څنګ په ټول افغانستان کې تر اتیاوو زیات تلویزوني او د هغو ترڅنګ په سلګونو کیبلي کانالونه هم د یرغلګرو لپاره خپرونې کوی.

په مطبوعاتي ډګر کې په افغانستان کې تر زرو زیاتې ورځپاڼې، اونیزې، نیم میاشتنی او میاشتنی خپرونې د سیکولر او په غرب پورې د تړلو جهتونو له لوري د دوی په ګټه خپرونې کوي.

په دغو ټولو خپرونو کې مرکزي ټکی دا دی چې امریکا او غربیان یرغلګر نه دي، هغوئ د افغانانو دنجات لپاره راغلي، او داسې نور.

دغه ټولې خپرونې چې د غرب لخوا تمویلېږي او اداره کېږي کوښښ کوي چې په افغانانو کې پر دین، ناموس او نورو معنوي ارزښتونو د غیرت احساس له منځه یوسي، دښمن ورته د دوست په شکل کې ښکاره کړي، او د غربیانو جنایات افغانانو ته د خدماتو په بڼه کې ور معرفي کړي.

دلتـه راغلیـو یرغلګـرو کـه د افغانـانو پـر عزت، نـاموس او معنـوي ارزښـتونو هـر څـومره تیري وکړل د اشغال د وخت نشراتو هغـه توجیـه کړل، او د هغو په اړه یې د خلکو دکرکې او نفرت د سړولو لپاره د غیرت او حمیـت خـلاف افکـار خلکو ته ور تلقین کړل، تر څو مسلمان افغانـان د امریکا په خلاف هـم هغسـې یـوه مـلي قیـام تـه چمتـو نشي- چـې د روسـانو او کمونسـتانو پـه خلاف د خپل دیني غـیرت پـه نتیجـه کـې چمتـو شوي ول.

۲- د لیکوالانـــــو او مفکرینـــــو خریداري:

په هر ملت کې مفکرین، لیکوالان، شاعران او پوهـان د هغـه ملـت د فکـري او معنـوي ارزښتونو ساتنه، پالنـه او لـه هغـو څخـه د فـاع کوي. او که چېرې دغـه ډول خلـك د دښـمن پـه صف کې ودرېږي نو په ډېرې اسانۍ ملتونه ذلت او تسـلیمېدو تـه غـاړه ږدي او لـه جهـاد او مبارزي څخه لاس اخلي.

همدغه خلك ول چې د کمونیزم په خـلاف د جهاد په وخت کـې یـې پـه افغانـانو کـې دینـي غـیرت راوپـاراوه او هغـوئ یـې د جهـاد، دفـاع، شـهادت او مبـارزی پـه مفـاهیمو وپوهـول، پـه سنګرونو کې یې کښېنول، او په نتیجه کې ټول ملت دروسانو او کمونستانو پـه خـلاف راپورتـه شو.

خو دا ځل امریکا او غربیانو کوښښ وکړ چې تر هر څه دمخه دغه ډول خلك یا قتل، تبعیـد او تجرید کړي، او یا یې هـم یـوه لویـه برخـه پـه خپلو ډالرو خریداري کړي او په خپل صـف کـې یـې ودروي. ځکـه خـو اوس پـه سـلګونو هغـه مفکرین، لیکوالان او شاعران چې یو وخت یـې د جهاد ملاتړ کاوه او په خلکو کې یې د دښمن پـه خلاف د دیني غیرت ولـولې پـارولې او پـاللې دا ځل د څو ډالرو په بدل کـې د یرغلګـرو ترځنګ ولاړ دي او مسـلمان ملـت تـه د ډیموکراسـي،او لیبرالیزم کفري نظریـات د معـاصرو او پرمختللـو ارزښتوتو په نامه ور وړاندې کـوي، او د جهـاد او له وطن څخه د دفاع پرځای ځوانـان د تـرورزم په خلاف د مبارزې په نامه د مجاهدینو په خلاف جګړې ته هڅوي، او د یر غلګو لخـوا پـه جـوړو شویو نظامي تشکیلاتو کې د شمولیت تر عنوان لاندې یې د یرغلګرو په صف کې دروي، او پدې ډول د امریکـا پـه خـدمت کـې د دینـي غـیرت د وژونکو په حیـث خپلـه ذلیلانـه وظیفـه تـر سره کوي.

۳- د لنډغرو او بې غیرتـه حاکمـانو مسلطول:

امریکا په افغانستان کې په پرله پسې ډول له داسې سیکولرو، پردي پالو او غرب پلوو خلکو حکومتونه جوړ کړل چې یوه برخه یې عملا امریکایي او غربي تابعیتونه او لري، او یوه برخه نور یې غربیانو ته د ورنږدې کېدلو په مقصد د هر ډلت منلو او د هر جنایت ترسره کولو ته تیار دي.

دغه له امریکایانو او نورو غربیانو سره راغلي افغانان هلته په غرب کې پداسې یوې بې بندوباره او لنډغره ټولنه کې اوسېدلي چې په ټوله معنا له اسلامي او افغاني ارزښتونو څخه پردي شوي دي. دوئ په پخپله او د دوئ ښځې، لونې او زامن له لسګونو (ګرل فرینډانو) او (بوای فرینډانو) سره اوسېدلي او د غرب اخلاق او بې معنویته حیواني فرهنګ ورته تمدن ښکاري. دغه خلک په خپلې ټولې توانایۍ هڅه کوي چې په خپل حاکمیت کې دلته هم هماغه ډول یو اخلاقي او فرهنګي محیط ایجاد کړي.

په حکومت کې د دوئ د دې ځای شریکان بیادلته په افغانستان کې د بې غیرتۍ، لنډغرتوب، ټوپکسالارۍ او وحشتونو کرغېړنه مشهوره سابقه لري.

نو اوس که د یرغلګرو په حکومت کې د دوئ ورسره راغلي (مسټران) او یا د دوئ د دې ځای ملېشه یې شریکباني د افغانانو پر دیني غیرت، معنوي ارزښتونو او ناموس تېرۍ کوي نو د دوئ په نزد څه بده خبره نه ده، بلکې دا د دوئ لپاره یو مطلوب کار دی، ځکه چې دوئ د همدغه ډول یوه وضعیت او ماحول د رامنځته کولو لپاره راغلي او توظیف شوي دي.

د دوئ چې خپلې ښځې په ارګ کې د سلګونو امریکایي (کاوبایانو) لخوا (وساتل) شوې نو د نورو خلکو د ناموس دساتلو به څه پرواوکړي؟ او یا به یې د ديني غیرت او معنوي ارزښتونو د ساتلو څه غم وکوي؟

درېیم عنصر ـ عفت او شرف:

افغاني ټولنه د مسلمانانو په منځ کې د عفت او شرف بهترین سمبول ګڼل کېده. په هره ټولنه کې چې حیا عفت او شرف وجود ولري په هغه ټولنه کې ځوانان او پیغلې د عزیمت خاوندان وي، او له دین څخه د دفاع او د هېواد د آزادۍ د ساتلو په لاره کې د قربانۍ لپاره همیشنۍ تیاری لري. د دغه ډول ټولنې ځوانان غواړي پلرونه شي، او نجونې یې غواړي میندې شي، او پدې کار سره د یوې پاکې او سالمې ټولنې د تداوم داسې یوه سلسله تضمینوي چې د تل لپاره د یرغلګرو په مقابل کې د غیرتمنو او عزتمنو ځوانانو او مبارزینو شتون حتمي کوي.

په سپېځلي او باعفته ټولنه کې ځوانان د کامل انسانیت روزنه تر لاسه کوي او له جنسي حیوانیت او بې لاریتوبه نجات مومي. همدغه وجه ده چې ټول اسماني دینونه په عفت او پاك لمنتوب باندې تأکید کوی، له هر ډول اخلاقي بې لاریتوبه یې د ټولنې د ژغورلو لپاره بېلابېل وقایوي او جزائي قوانین رامنځته کړي دي. نه یوازې اسماني ادیان بلکې ډېر د بشر په لاس جوړ شوي مذاهب لکه (زردشتي) (بودایي) (هندویزم) (سك مذهب) د چین د خلکو د(کنفوشیوس) مذهب او داسې نور هم د خپلو ټولنو له تباهۍ څخه د ژغورلو لپاره جزائي قوانین عملي کوي.

خو د غرب تر ډېره حده ماده پرسته او په الحاد ولاړه ټولنه چې له خپل اصلي (یهودیت) او (نصرانیت) څخه هم تېره شوې ده د نړۍ د خلکو د بې لاري کولو، په هغوئ کې د عزیمت د ختمولو او بیا پرهغوی د غلبې د حاصلولو لپاره یې د (جنس) او (بدلمنتوب) بازارونه په دنیا کې ګرم کړي او خپل ټول نشراتي وسایل یې د اخلاقي فساد د خپرولو په لاره کې په کار اچولي دي چې په دې لړ کې افغانستان هم د دوئ تر مسقیم تأثیر لاندې راغلی دی.

ټول غرب او په سر کې یې امریکا د رو سانو په خلاف د افغانستان د جهاد په کلونو کې ولیدل چې څنګه په لکونو ځوانان پرته له کومې مادي معاوضې د جهاد او قربانۍ ډګر ته راووتل، په لکونو شهیدان شول، د هېواد لویشت لویشت خاوره د هغوی په وینو سره شوه، خو د کمونیزم تغر یې پدې خاوره کې غورېدو ته پرې نښود.

همدا ډول په ملیونونو پېغلې د خپل دین او عفت د ساتلو پخاطر د هېواد پربښودلو او هجرت ته چمتو شوې، خو د الحاد په غېږ کې یې ژوند ونه مانه. هماغه و چې په شلمه میلادي پېړۍ کې نړۍ د جهاد ستره معجزه ولیدله، او د نړۍ ډېرو ملتونو د دغو باعفته ځوانانو د قربانیو په برکت د ازادۍ ژوند حاصل کړ.

اوس چې امریکا افغانستان اشغال کړی نو امریکایان لدې په وېره کې دي چې نبه ډېر افغان ځوانان به دا ځل د دوئ په خلاف هم د جهاد او قربانۍ ډګر ته راووځي، او د روسانو تجربه به دا ځل پر دوئ تکرار شي، نو ځکه خو یې تر هر څه زیات د ځوانانو په منځ کې د اخلاقي فساد د خپراوي کار په پراخه پیمانه پیل کړ چې په لاندې څو نقطو کې یې ځینې ډولونه او مثالونه یادوو:

د اخلاقي فساد د خپرولو ډولونه او مثالونه

۱ – د مېډیا له لارې د اخلاقي فساد خپرول:

امریکایانو د خپل اشغال په لومړۍ هفته کې هغه تر هر څه د مخه په کابل کې د (کابل نندارې) په تیاتر کې پداسی حال کې د بې لارو ښځو یو تیاتر وړاندې کړ چې لا د تیاتر ځمکه له خاورو او ایرو پاکه شوې هم نه وه. دغه تیاتر ته امریکائي پوځیان او افسران په پراخه پیمانه ورغلي وو. دغه ډول د تیاتر افتتاح په هغه خاص وخت کې خپل یو اهم پیغام درلود، او هغه دا چې امریکا به دلته د خپل استقرار په صورت کې همدغه ډول فرهنګ ته رواج وروکوي.

د غربیانو او د هغوئ ددې ځای د ملګرو دغه ډول خپرونې دومره شرمېدلې او بربنډې دي چې د دوئ د اداري مزدورو او دین پلورونکو تش په نامه ملایانو او روحانیونو ته هم د منلو وړ نه وې، او په پرله پسې ډول یې د کابل اداري ته دا توصیې کولې چې ببلارې کوونکي او مبتذل نشریات دې بند کړي چې په خلاف به یې خلک را وپاریږي. خو حکومت کله هم پدې ونه توانېده چې دغه ډول خپرونې بندې کړي، او دا ځکه د دغه خپرونو تر شا پخپله امریکا ولاړه ده او کله به هم د کابل اداري ته اجازه ورنه کړي چې د دوئ د پلانونو د عملي کېدلو په لاره کې دې خنډ شي.

۲– د ښځو د چارو عجیب او غریب وزارت:

غربیان پدې پوهېږي چې د ښځو فساد دټولې ټولنې فساد او اصلاح یې د ټولې ټولنې اصلاح ده، له همدې امله امریکایانو او نورو غربي اشغالګرو هم هڅه وکړه چې دلته په افغانستان کې هم باید په پراخه پیمانه او مستقیما د چا له نګرانی پرته امریکایی مشاورین د افغانانو د (ژوندبنې) او (فکر) د غربي کولو لپاره خلاص لاس او پراخ فرصتونه ولري، نو هماغه وو چې تر اشغال سمدستي وروسته یې د ښځو د چارو د وزارت په نامه د اشغال په حکومت کې یو رسمي ارګان جوړ کړ چې د افغانستان په تاریخ کې کله هم پدې نامه کوم وزارت وجود ندی لرلی.

دغه وزارت په منظم او سیستماتیک ډول ښځې د خپل دین، خپلو شرعي مکلفیتونو او د خپلې ټولنې د عنعناتو او اعتقاداتو په ضد راپاروي. وزارتونه خو په اصل کې د هېوادونو د چارو د چلولو او د ستونزو د حل لپاره منځ ته راځي، خو اوس پوښتنه دا ده چې آیا(ښځه توب)

هم کومه داسې چاره او یاکومه ستونزه ده چې د یـوه مسـتقل وزارت ضرورت ایجـابوي؟ او کـه هغه هم د (نارینتوب) په څېر یو فطـري امـر دی چې د انسانیت په عمومي دائره کې راځـي چـې باید ټول وزارتونه او اداري یې پالنه وکړي؟

که هدف دا وي چې ښځې د هېواد په چارو کـې اسـتخدام شي او د دوئ پـه انـد د یـوې سیکولر ټولنې د رامنځته کولـو لپـاره تـرې کـار واخیسـتل شي نـو دا کـار خـو دوئ پـه نـورو وزارتونو کې هـم کـړی دی. او کـه هـدف داوي چـې ښـځه تـوب هـم یـو خاصـه چـاره ده چـې د امریکایی مشاورینو تر نظـارت لانـدې د وزارت ضرورت لري نو بیـا خـو ځینـې افغانـان ملامـت ندي چې دغه وزارت ته (وزارت امور زنـان) پـر ځای (وزارت امور زنا) وایي. ځکه چـې همدغـه وزارت دی چې پـه زرګونـو غـربي مؤسسـو تـه ځـوانې ښـځینه ترجمانـانې، سـکرترانې او کـار کـوونکې برابـروي. او همدغـه وزارت دی چـې امریکـایی او غـربي پوځیـانو او چـارواکو تـه افغاني ترجمانانې او دایساف په دفترونو کې کار کووونکې برابروي چې د نه اورېدلو کیسـې یـې هره ورځ د کابل دخلکو په منځ کې خپرېږي. یـو ځـل خـو لا همدغـه وزارت اعـلان وکـړ چـې د(تیاتر) لپاره د نجونو د روزنې ضرورت هم پوره کوي.

حقیقت دا دی چـې د ښـځو د چـارو وزارت هغه د (رنګینو لومـو دام) دی چـې غربیـانو پـه افغانستان کې د افغانو ښځو د ښکار کولو او په هغوئ کې د غربي ډولـه فرهنـګ د رائجولـو پـه مقصد جوړ کـړی دی، او پـه هغـه کـې یـې څـو داسې له اسلامي او افغاني فرهنګه پـردې شـوې غرب پلوې ښځې توظیف کړې دي چې د هغـوئ په وسیله په افغانستان کـې د ښـځو د فاسـدولو لپاره د غرب پروګرامونه او پلانونه تطبیق کـړي. له همدې امله خو دغه وزارت خپل کارونـه هـم په ښارونو او د غرب د (فکري تأثیر قبلـونې) پـه ساحو کې متمرکز کړي دي او اطرافي سیمو تـه یې هیڅ پام ندی کـړی، او دا ځکـه چـې هلتـه د غرب (فکري تأثیر ګذاري) ډېره ممکنه نده.

۳- د هېـواد پـه ښـارونو کـې دشرابخانو او فحشاوو د ادو جوړول:

په افغانسـتان کـې د امریکـایي اشـغال لـه تینګېدو سره سـم یـوازې دکابـل پـه ښـار کـې د (ګېسټ هاوسونو) په نامه او پـه نـورو بهلابهلـو نومونو د خارجیـانو او داخلیـانو تـر سر پرسـتۍ لاندې په لسـګونو (بارونـه) او د فحشـاء مراکـز پرانسـتل شـول، او پـه ازادانـه ډول یـې کـار او

فعالیت کاوه. جنسي بي لاریتوب کابل داسې په خپلې غېږ کې اخیتسی وو چې که جهاد زور نه وای اخیستی نو نړدې وو چې د اشغال په لومړیو کلونو کې کابل هم د تایلند د (بنکاک) په څېر د جنس د بزنس مرکز وګرځي.

په ۲۰۰۴م کال کې د کرزي د شرمېدلې اداري د عامې روغتیا د وزارت د یوه چارواکی په استناد د ازادی راډیو وویل چې یوازې د کابل په ښار کې (۶۰۰۰۰) شپیته زره ښځې او ماشومان په بدلنی اخته دي.

په یوه بل انکشاف کې په همدې کال کې په کابل کې د رابعه بلخي د ښځینه روغتون یوې کار کوونکې په ښکاره مېډیا ته وویل چې په دغه روغتون کې د ناواده شویو نجونو د (اسقاط حمل) پېښې سلګونو ته رسیدلې دي. او هغه ناواده شوې نجونې چې ژوندي اطفال زېږوي د هغوئ بچیان د روغتون لخوا هغو خلکو ته ورکول کېږي چې اولادونه نه لري.

که د امریکا په خلاف جهادي مقاومت ډېر ژر په هېواد کې خپور شوی نه وای او حالات هماغسې روان وای نو په افغانستان کې به هم د امریکا په څېر د ښاروالیو لخوا د بې پلاره (حرامیانو) د پاللو کلتور هم دود شوی وای.

دغه ډول پیغلې ټولې هغه نجونې وې چې یا یې په غربې مؤسسو کې کار کاوه، او یا هغه بېځایه نجونې وې چې په مکتبونو، پوهنتونونو او دولتي ادارو کې یې له ځوانانو سره جنسي ازادانه اړیکي درلودې، ځکه چې د کورونو د نجونو په هلکه په افغاني ټولنه کې دغه ډول تصور هم نشي کېدای.

غرب او امریکا غواړي د دغه ډول اخلاقي فساد په خپرولو افغاني نجونې او ځوانان د انحلال او فساد خواته ورټېل وهي، تر څو د دوئ په مقابل کې د جهادي مقاومت زور وانخلي. خو د دې فساد په مقابل کې چې د هېواد هغه باضمیره او مسلمانان ځوانان چې د هېواد په پوهنتونونو او تعلیمي ادارو کې د دغه ډول فساد په خلاف خپله کرکه او انزجار ښکاره کوي او غواړي خپله ټولنه د غرب د بېلارې فرهنګ په تېزابو کې له ویلې کېدو وژغوري هغوئ د حکومت لخوا د القاعده، تروریستو او بنسټ پالو په نومونو نومول کېږي، په ډول ډول نورو تورونو تورن کېږي، بندیان کېږي، تهدیدېږي او یا د پوهنتونو پرېښودولو ته اړ ویستل کېږي.

څلورم عنصر- د جهاد او سرښندنې فطري استعداد:

د افغانی هویت څلورم عنصر- په افغانانو کې د جهاد او سرښندنې فطري استعداد او د یرغلګرو په خلاف د افغانستان د جغرافیې طبیعي موقعیت او جوړښت دی.

افغانان په فطری ډول د جهاد لپاره جوړ دي. او دا څکه چې په جهاد کې دوه عنصره ډېر مهم وي چې یو یې (تینګه عقیده) او بل یې (پر مشکلاتو صبر او دستونزو په سره سینه ګالل دي). دغه دواړه عنصرونه د افغانانو د طبیعي ژوند بنسټونه تشکیلوي. ددې دواړو ترڅنګ بل شی دوسلې د استعمال دی چې اتیا فیصده افغان یې ښه په اسانۍ چلولی شي. دروسانو په مقابل کې زمونږ تر پنځو میلیونو زیاتو خلکو پرمختللي جنګي تکتیکونه زده کړل، او دچریکي جنګ ترټولو غوره تجربه یې حاصله کړې ده.

په جهاد او ازدۍ غوښتنه کې زمونږ ملت د استاذۍ هغې لوړې درجې ته رسېدلی چې د نړۍ د هر ځای مستضعفو مسلمانانو له دوئ څخه د زده کړې لپاره دیخوا ته مخه وکړه، لدې ځایه یې روحیه او تجربه واخیسته او بیا یې بېرته په خپلو هېوادونو کې د جهاد سنګرونه تاوده کړل، او له هغو خاورو یې هم د یرغلګرو د شړلو پلانونه طرح او عملی کړل، او پر مسلمانو د ورتپل شویو رژیمونو ستنې یې ور ولړزولې.

دغه ټول هغه عوامل دي چې زمونږ له ولس څخه یې یو مجاهد او باعزیمته ولس جوړ کړی دی.

امریکایان او نور غربیان په افغانانو کې د دغو عواملو د شتون پر اهمیت پوهېږي، نو ځکه خو یې د جهاد، مجاهدینو او جهادی فرهنګ په خلاف نه ستړی کېدونکي تبلیغات پیل کړي دي، او د مظلومو خلکو د آزادۍ سپیڅلي جګړې ته هم ترویزم وایي، او غواړي پدې ډول خلك له جهاده منصرف کړي، او د غلامۍ په ښلابښلو رنګینو ځنځیرونو یې وټړي، ترڅو د ټل لپاره د افغانانو د اسلامي هویت دغه عنصر ته هم د پای ټکی کېږدي. خو د روسانو او د امریکایانو په خلاف د افغانانو جهاد او له دین سره پر قوي تړاو ټینګار دا وښودله چې غربیان به هېڅکله هم پدې کې بریالي نشي چې مسلمان افغانان به له یوې مخې په فکري او فرهنګي لحاظ تسخیر کړي. بلکې دغه پردي فکري او پوځي یرغلونه به د دوئ ذهنونو کې اسلامي مفاهیم نور هم پاخه کړي، او په ژوند کې به د هغو د عملي کولو لپاره د دوئ عزم نور هم ورکلک کړي، او د تل لپاره به د یرغلګرو په مقابل کې خپل

مقدس جهاد ته ادامه ورکوي، کـه څه هـم چـې ځینې رهبران به یې لکه امـیر دوسـت محمـدخان او د ځینـې پخوانیـو جهـادي تنظیمونـو اوسـني مشران تر بري وروسته دښمن تـه ورتسـلیم هـم شي.

پنځم عنصر- د غـرب لـه لوبـدلي او مبتذل فرهنګ او تمدن څخه د افغانـانو لرې والی:

غربي هېوادونو په شملې پېړۍ کې د خپـل عسکري اسـتعمار پـه نتیجـه کـې ډېـر اسـلامي هېوادونه ایـل او بیـا سره بیـل کـړل، او هـم یـې هغوئ له خپل اصیل اسلامي فرهنـګ څخـه بـې برخې کړل. خو افغانان د الله تعـالی پـه فضـل او بیا وروسته په خپلې میرانې او له یرغلګـرو سره د جګړو په برکت له دغې وبا تر ډېـره حـده لـیرې پاتې ول، که څه هم چې د شاه امان الله، ظاهرشاه او د داود مفسدو رژیمونـو پـر افغانـانو د غـربي فرهنګ د ورتپلو په لاره کـې ډېـرې هڅـې کـړې وې.

د غرب له مـادې او الحـادی تمـدن څخـه د لیرې والي تر ټولو لویه فایده دا ولیدل شوه چـې په ډېره لږه مـوده کـې ټول ملـت د روسـانو پـه مقابـل کـې د جهـاد پـه صـف کـې ودریـد، او دروسانو مادیاتو ته ورتسلیم نه شو.

امریکا هم له همدغه ډول یـوې نتیجـې پـه وېره کې ده، نو ځکه خو غـواړي چـې د (ډرګ) او (سیکس) د فرهنګ په خپرولو زمونږ ټولنه او ځوانان هم د (بې غیرتی) او (ځان بـایلودنې) پـه طـاعون اختـه کـړي، او لـه همـدې املـه یـې د ملیونونـو ډالـرو پـه سرمایـه ببلابېلـې فکـري او فرهنګي پروژې په کـار اچـولې دي، او پـه هغـو کـې یـې ښـه ډېـر مـزودر او وطـن پلـورونکي افغانان په کار ګومارلي دي چې په افغانانو کـې د غرب فکر، فرهنګ او نظریات خپاره کړي. دغه خلک تر پردیو ډېـر خطرنـاک دي ځکـه چـې دوئ پردي نظریـات پـه ډېـر منافقانـه ډول پـه افغـاني نومونـو او اصـطلاحاتو افغانـانو تـه وروړانـدې کوي، او راتلونکي نسلونه مـو پـه غـرب پـورې تړي. خو دا چـې اسـلامي معتقـدات او اسـلامي هویت زمونږ په ژوندانه کـې تـر هـر څـه زیـات حاکمیـت لـري نـو هېڅکلـه بـه امریکـا او نـور یرغلګـر زمـونږ ولـس لـه خپـل اسـلامي افغـاني هویت څخه محـروم نـه کـړای شي، البتـه د دغـه هویت په ساتنه او پالنه کې تر بل هر چا د قلـم د خاوندانو رول زیات دی چې په تر سره کولو یـې باید خپل مـلي او اسـلامي مسـؤولیت پـه غـاړه واخلي.

فقهي مسائل

دجهاد

جهاد کې محرمات او مکروهات

څلورویشتمه برخه
مفتي ابومحمد (حقاني)

چې کله کفارد مسلمانانوښځې او ماشومان دډال په توګه استعمال کړي !

ترس (التترس)د عربي لغت په مشهور کتاب (الصحاح تاج اللغة)کې يې داسې معنی کړی : (ترس) التستر بالترس. وکذلك التتريس. والمترس:خشبة توضع خلف الباب)يعنې ترس دې ته وايې: چې دده په ذريعه ځان پټ کړي ،لکه همدا دې فقهي څيړنه کې مراد کيدای شي، چې کله کفار و باندې مجاهدين يرغليز فشار وارد کړي او نور يې وژنه يا نيونه نږدي ممکنه شي ،نو کفار مسلمانانې ښځې او ماشومان دځان لپاره سپر يا ډال کړي ،د مجاهدينودړومبي بريد مخکې همدا مسلمانان دډال په صفت ودروي او دوئ خپل ځانونه دمجاهدينو له غشي نه بچ کړي .لکه پدې کريمه آيت کې چې همدې تترس بالحرب ته داسې اشاره شوي ده ({ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَاء مُّؤْمِنَاتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَؤُوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ لِيُدْخِلَ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ مَن يَشَاء لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا }

دا آيت کريمه د وليد بن الوليد ، وسلمة بن هشام ، وعيّاش بن أبي ربيعة ، وأبو جندل بن سهيل غوندې خلکو په مورد کې نازل شوی چې دحديبيي له سولې نه وروسته يې مسلمانان په مکه کې احتجاز کول .

دتترس حکم

دفقهاووپه اتفاق سره که ضرورت او اړتيا وه، نوددې جواز شته، چې په هغو کفارو حمله وشي او وويشتل شي ،چې دجګړې په مينځ کې مسلمانان او بنديان دځان دبچ کيدو لپاره ډال يا سپر ګرځوي ،چې فقهاووهغه ضرورت چې دمسلمانانو دتترس په صورت کې هم پر کفارو حمله جايز ده داسې تشريح کوي : که مسلمانان په همدې حالت کې بريد ونکړي، نو دکفارو لخوا دماتي سره مخامخ کيږي او دقاعدة الاسلام د استيصال ويره وي ،نو دکفارو ايشتل روا دي، که څه هم مسلمانان يې سپر نيولې وي، البته مجاهد به دفير او حملې پر وخت دکفارو دايشتلو اراده کوي اوبس ؛لکه په الموسوعة الفقية ج۱۰ص ۱۳۷کې داسې ليکي : اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى أَنَّهُ يَجُوزُ رَمْيُ الْكُفَّارِ إِذَا تَتَرَّسُوا بِالْمُسْلِمِينَ وَأَسَارَاهُمْ أَثْنَاءَ الْقِتَالِ أَوْ حِصَارِهِمْ مِنْ قِبَلِ الْمُسْلِمِينَ ، إِذَا دَعَتِ الضَّرُورَةُ إِلَى ذَلِكَ ، بِأَنْ كَانَ فِي الْكَفِّ عَنْ قِتَالِهِمُ انْهِزَامٌ لِلْمُسْلِمِينَ ، وَالْخَوْفُ عَلَى اسْتِئْصَالِ قَاعِدَةِ الإِسْلامِ . وَيُقْصَدُ بِالرَّمْيِ الْكُفَّارُ .

که چیرته ددوئ دایشتلو دا مبیح ضرورت نه و،یعني جګړه نه وه ،نوبیا نده روا، همداسې که ددې نه په غیر بله چاره یې کیدلای شوه، نو دشوافعورح ،حنابله وو رح او حسن بن زیاد رح په مذهب کې بیا ددوئ ایشتل ندي جایز او داحنافو رح په مذهب کې بیا هم جواز لري ،ددې وجه چې ددوئ ایشتل روا دي ،هغه داده ،چې ددوئ په ایشتلو کې داسلامي ټولنې یا مجتمع څخه دضررعام دفعه ده، البته شرط به داوي، چې ایشتونکی به دبرید پر وخت دکافر دایشتلو اراده او قصد کوي ، په دغو حوالو کې دا مسئله ښه په تفصیل سره شته :(فتح القدیر ٥ / ١٩٨ ط إحیاء التراث العربي ، وابن عابدین ٣ / ٣٣٣ ط إحیاء التراث العربي ، والحطاب ٣ / ٣٥١ ط دار الفکر ، وحاشیة الدسوقي ٢ / ١٧٨ ط دار الفکر ، ونهایة المحتاج ٨ / ٦٥ ، والأم ٤ / ٢٨٧ ط دار المعرفة ، والمغني ٨ / ٤٤٩ ـ ٤٥٠ ط مکتبة الریاض الحدیثة .)

داحنافو ددې ذکر شوي مذهب په باره کې د(فتح القدیر) عبارت داسې دی : وَإِنْ كَانَ فِيهِمْ مُسْلِمٌ أَسِيرٌ أَوْ تَاجِرٌ) بَلْ وَلَوْ تَتَرَّسُوا بِأُسَارَى الْمُسْلِمِينَ وَصِبْيَانِهِمْ سَوَاءٌ عَلِمَ أَنَّهُمْ إنْ كَفُّوا عَنْ رَمْيِهِمْ انْهَزَمَ الْمُسْلِمُونَ أَوْ لَمْ يَعْلَمُوا ذَلِكَ إلَّا أَنَّهُ لَا يُقْصَدُ بِرَمْيِهِمْ إلَّا الْكُفَّارُ ،فَإِنْ أُصِيبَ أَحَدٌ مِنْ الْمُسْلِمِينَ فَلَا دِيَةَ وَلَا كَفَّارَةَ/فتح القدیرج١٢ص ٤٠٠).

مالکیان حضرات هم وایي :چې قتال ددې کفارو سره بیا هم جایز دی، خوداډال شوي مسلمانان به عمداً نه ایشتل کیږي، مګرکه چیرته د ډال شویو مسلمانانوپه نه ایشتلو کې دکفارو لخوا دمسلمانانوزیات لښکرته خطرووو، نو بیا یې دسپر شویو حرمت ساقط دی ،عام ددې نه چې متترس شویو مسلمانانوشمیر دمجاهدینو نه زیات وي ،که کم ! او بل هغه صورت کې هم ورسره قتال روا دی، چې په نه قتال کې دمسلمانانو دشکست امکان وي .

صاحب د(فتح القدیر) وایې چې که چیرته پدې جګړه کې چې مسلمانان ددال او سپر په حیث درول شوي وي ، که چیرته کوم مسلمان پکې دمجاهدینولخوا ومړ،نوددې مقتول دیت او کفاره نشته ،دحسن بن زیاد په قول پکې دیت او کفاره دواړه شته ،دامام شافعي رح په مذهب پکې په یوه قول پکې کفاره شته او په دیت کې یې دوه قوله دي ،او ابو اسحاق وایې :چې که دایشتلو په وخت کې یې بعینه همدانشان کې نیولی و،نو عام ددې نه چې دا پرې پوه وي ،چې مسلمان دی او که ندی، نو پده دیت لازم دی او که بعینه یې همدا په ایشتلو کې مقصود نه و،بلکې لومړي صف باندې برید وکړ،دا پکې ولګید،نودې صورت کې پرې دیت نشته . فتح القدیرج١٢ص٤٠٠)

دمجاهدینو دبري رازونه

موسی مهاجر

افغان مجاهد ولس دانقلاب په دګر کي تر ۱۴ کلن مزله وروسته اوس دبریاپه پراونو کي په چتکی سره تګ کوي او خپل مقصد(ازادی) ته درسېدلولپاره په داسي مهال وروستي ګامونه اخلي، چې دازادی ترلاسه کول یې یقیني کړي او ددې سپیخلي ارمان غله یې رسوا، ذلیل او خوار کړي دي.

دمجاهدینوله لوري سرېني پرلني عملیات بې ساري وو، طالبان په دې وتوانیدل، چې دهیواد په ګوټ ګوټ کي دښمن ته دسختو ماتو په ورکولو سره دخپل کنترول ساحه پراخه او زیاتي سیمي تر ولکې لاندي راولي، مجاهدینو په بې ساري دول دکندز مرکز او ددغه ولایت څلور ولسوالی او نوري پراخي سیمي ونیولې، چې ددوه سري رژیم چارواکي یې له وارخطایي او رسوایي سره مخ کړل، چې په دې سره یې خپلو بهرنیو بادارانو ته دخپل عجز په ښکاره کولو سره ددرناوي سرونه خم او له هغوی څخه یې دخپل ولس په مقابل کي دځان ساتني په موخه دلا دیري مودې لپاره دخپلو عسکرو دپاته کیدلو غوښتنه وکړه او امریکایانو هم خپلو مصالحو او دخپلو لاسپوڅو ترټل شوي حالت ته په کتلو سره له تاکل شوې مودې څخه داوږده حضور اعلان وکړ.

دا یوازي دکندز مرکز او دامام صاحب، دشت ارچي، قعله زال او چهاردرې ولسوالیوي نه وې، چې داسلامي امارت سپین بیرغ پکي ورپیدو بلکه دبدخشان دیمګان، جرم او وردوج ولسوالیو، دتخار خواجه غار او درقد، دهلمند موسی کلا، خانشین، او نوزاد ولسوالیو، دسرپل کوهستاناتو، دهرات غوریانو، دلوګر خروار، دبادغیس جوند، دغزني خوګیانو، دفراه بالابلوک، دفاریاب ګرزیوان او غورماچ ولسوالیو او بې شمېره نورو ولسوالیو او سیمو دمجاهدینو فاتحانه قدمونه ښکول کړل او دفتحي سپینو بیرغونو یې په فضا کي دخوښۍ الوتې پیل کړ.

دهیواد په لر او بر کي دپراخو پرمختګونو ترڅنګ درژیم په مهمو اهدافو دله ییزو فدایي بریدونو دمجاهدینو دپوځي ځواک او پوځي

ورتیا دښکارندویې ترڅنګ، درژیم چارواکي او مشران له ترخه حقیقت سره مخ کړي دي، دکندهار په هوایي ډګر د۲۹ ساعته حملو په ځپر بریدونو په مرکز کابل او نورو مرکزونو کې دبهرنیو اشغالګرو دملاتړي رژیم قوت ننګولی، ټولې نړۍ ته یې دبهرنیو دتپل شوي رژیم ضعف بنودلی او درژیم مشرانو ته یې دمرګ او تیښتې پیغام پرې ایښی دی.

څنګه چې دسړنیو پسرلنیو بریدونو او بریاوو ساری په تیرو ۱٤ کلونو کې نه وو لیدل شوی، نوځکه یې دښمن هم دې ته اړ کړ، چې خپله ماته او دمجاهدینو په بریاوو اعتراف وکړي، دامریکاددفاع وزارت په دې وروستیو کې یو راپور خپور کړ، چې پکې ویل شوي، چې دبهرنیو عسکرو له مرستې سره –سره افغان عسکر دطالبانو له سختو بریدونو سره مخ دي او په روان کال کې دافغان عسکرو مرګ ژوبله ۲۷ سلنه زیاته شوې ده.

پنټاګون دطالبانو په لاس دکندز سقوط، په هلمند کې دطالبانو پرمختګ او دکندهار په هوایي ډګر وروستی برید ناکام موارد بللي دي، دکابل درژیم اړوند ددفاع او دکورنیو چارو وزارتونو هم په خپل وار په خپل ضعف او کمزورې اعترافات کړي دي، نورو چارواکو او دپارلمان غړو خو آن دکابل دسقوط پېښګویاني هم کړي دي.

دا چې دطالبانو پوځي ځواک، غښتلتیا او تعرضي ورتیا پیاوړې شوې دا څو لاملونه لري:

(۱) طالبانو په یوه بې ساري اقدام سره په ولایتونو کې پوځي قطعې جوړې کړې، چې نښه روزل شوي او تکړه مجاهدین یې پکې ځای په ځای او په درندو او ډول ډول وسلو یې مجهز کړل، چې دې کار دطالبانو تعرضي ورتیا پیاوړې کړه، دمجاهدینو په منځ کې یې شته هماهنګي لا زیاته کړه او دجګړې نوی روح یې طالبانو ته ورکړ، طالبانو په یادو قطعو سره اسلامي امارت ته دموجودو سترو ننګونو مخه ونیوله او ددغو مجهزو قطعو په وسیله یې ستر بریدونه ترسره او پراخې سیمې په خپله ولکه کې راوستلې.

(۲) څنګه، چې طالبان دیوه قوي ځواک په توګه په رژیم کې پراخ نفوذ لري، نو له همدې نفوذ څخه یې په خپل وخت او نښه توګه ګټه پورته کړې او دهمدې نفوذ په وسیله یې خپل ستر اهداف ترلاسه کړي او دجګړې په میدان کې یې ورڅخه فائده اخټیستې ده.

(۳) جګړه پیاوړی قیادت غواړي، چې جګړه نښه رهبري کړي او په منظم ډول یې په مخ بوځي، الحمدلله طالبان له همداسې یوه پیاوړي قیادت څخه برخمن دي، چې دې څه یې دجګړې په ډګر کې پله درنده کړې ده، دطالبانو غوره مشرتابه اسلامي امارت له بې شمېره ستونزو را ایستلی او په سیاسي او

پوځي دګرونو کي يې بريا ورپه برخه کړي او دامارت پوځي ځواک يې په نړۍ پيژندلی دی.

(٤) دمجاهدينو د١٤ کلن جهاد او په ځانګړې توګه دوروستيو بريوو يو ستر لامل ولسي ملاتړ دی، په دين او وطن مين ولس دخاوري اصلي بچيانو او ساتونکو مجاهدينو ته په خپله غېږه کي ځای ورکړی دی، خپل اولادونه، کورونه او مالونه يې په خطر کي اچولي، خو مجاهدين يې ساتلي دي، که څه هم دښمن دتبليغاتو، دالرو او زور او ظلم له لاري دير کوښښ کړی، چي ولس او مجاهدين سره بيل کړي او په منځ کي يې بهلتون راولي، خو لله الحمد تراوسه په دې بريالي شوي نه دي، دبيت المقدس دفاتح سلطان صلاح الدين ايوبي رحمه الله په اړه ويل کيږي، چي هغه به ويل: مجاهدين دولس بچيان دي، ترڅو چي ولس او مجاهدين سره يو وي، هيڅ ځواک دوی ته ماته نشي ورکولای.

(٥) دصف وحدت دبريا مهم عنصر بلل کيږي، مجاهدينو دهمدې وحدت له امله ١٤ کاله دغرب او داخلي لاسپوڅو په مقابل کي قوي مبارزه کړې او هغوی يې له شرمونکې ماتي سره مخ کړي دي، که دمجاهدينو صف متحد نه وای، نوهم به داشغالګرو په مقابل کي روان جهاد له ستونزو سره مخ وای او هم به دا تيري او وروستی بريا وي نه وای، امريکايان دسلګونو ميليونو دالرو په مصرفولو سره په دې ونه توانيدل، چي داسلامي امارت صف وويشي او نه هم په تبليغاتو دې ارمان ته ورسيدل، هوا! دداسي کسانوله لوري، چي هغوی له سره په اسلامي امارت کي داخل نه وو اويا دامارت له لوري شړل شوي وو دصف دماتولو او دنوې دلي دجوړولو اعلان، دصف وحدت ته هيڅ دول زيان نشي رسولای، ځکه له صف ځخه بيلوالی له صف سره تر يووالي او ګډوالي وروسته کيږي او چي ګډوالی نه وي، نوبيلوالی به څنګه راشي.

(٦) ددوه سري رژيم په منځ کي شته سيالي، ګډودي، جنجالونه، درژيم دچارواکو نااهلي، درژيم په عسکرو کي نه هماهنګي، مايوسي او ويره هم دمجاهدينو دوروستيو بريوو يو لامل ګنل کيدلی شي، ځکه مجاهدينو په خپل قوي تدبير، نظامي اوسياسي پوهي سره درژيم له کمزوريو ځخه بشپړه ګټه پورته کړې ده.

خپله مقاله به دپوهانو په هغې خبرې سره پای کړو، چي وايي، هغه قومونه، چي دخپل پرمختګ او سلامتيا لپاره دازادی سودا کوي، نه به ازادي ترلاسه کړي اونه هم پرمختګ اوسلامتيا.

افغانانو، چي دازادی سودا ونه کړه او دازادی لپاره يې مبارزه وکړه، خپله بشپړه ازادي يې يقيني کړه.

دست آوردهای مجاهدین در سال ۲۰۱۵

سعید بدخشانی

بدون تردید از آغاز سال دو هزار پانزده تا به اختتام اش ملت افغان ومسلمانان جهان پیهم شاهد شهکاریها، دست آوردها، تسخیر مراکز، ولسوالی ها، وولایات کشور بدست نیروهای امارت اسلامی وحملات مرگبار سپاهیان سربکف اسلام برکالبد اشغالگران وبردگان شان، آنهم در مصؤن ترین نقاط وشهرهای کشور بوده اند ودر جریان توفان عزم هزاران سرباز داخلی وخارجی طعمه مرگ وصدها وسائط دشمن نیزتخریب وازبین رفت.

بلی!در سال۲۰۱۵ میلادی رسانه های جهانی ومحلی ناخواسته موفقیت ها و عملیات های گسترده،هماهنگ ومنسجم مجاهدین امارت اسلامی در تمام نقاط کشور اعم از شمال،جنوب،شرق وغرب کشور قدم بقدم جهان را مطلع می ساختند و جهانیان از طریق ماهواره تسخیر شهرها،مراکز مهم وولایات توسط مبارزین راه اسلام را مشاهده می نمودند.

شایان یادآوری است:که در سطح کشورنقطه محوری امواج تفنده عملیات عزم در شمال کشور به ویژه فتح کامل ولایت قندوز بود،قندوز یکی از ولایات کلیدی،مهم واستراتیژیک شمال کشور بشمار میرفت که بتاریخ شش میزان سال ۱۳۹۴هش با اکثر ولسوالیهایش تسخیر وبه کنترول مجاهدین درآمد،با تصرف این ولایت یکبار دیگر توجه جهانیان به امارت اسلامی جلب واز آن روز به بعد توانمندی وقدرت امارت اسلامی بیش از پیش مورد بحث وکنکاش جهان ورسانها قرار گرفت،ودر اثناء سرعت پیشروی های نظامیان وقوّت های طالبان در کشور صدها تن جنرالان،مسؤلین ومامورین بلند رتبه رژیم دست نشانده کابل کشور را ترک وبه کشورهای اروپای وغربی سرازیر شدند،حتی که نرخ تکیت هواپیما(از مرکز ولایات به پایتخت وازکابل به خارج) بالا رفت،زیرا که با کنترول قندوز راه های زمینی ومواصلاتی شمار ازولایات به روی دشمن بسته شدبود بجز از طریق هوا دیگر راهی نداشتند، همینگونه صاحب منصبان اداره مزدور در سائر ولایات وپایتخت کشور لحظات سقوط را می شماری دیدند،جالب تراینکه یکی از

مخلصین مجاهدین ساکن شهر کابل ازفرار جنرالان دشمن روایت میکرد افزود:یک جنرال اداره مزدور که در جوار میدان هوای کابل بسیار به پول گزاف وحدود دونیم یاسه لک دولار یک ساختمان منقش اعمار کرده بود به شانزده لک افغانی فروخت وفرار کرد،موصوف گفت بعضی اشخاص جنرال حواس باخته را اطمنان میدادند که کجا میروی خیر است طالبان تاهنوز به پایتخت نرسیده اند لکن جنرال وحشت زده بسیار به قلب افسرده وسراسیمگی می گفت دیگر مقابله با طالب ممکن نیست عنقریب کابل بدست آنها سقوط میکند، اینها واقعیت های است که هیچ کس از آن چشم پوشی وانکار کرده نمیتواند ،بطور فشرده رعب وخوف مجاهدین در دلهای دشمن جای گزین شده است دیگر دشمن طاقت وتوان مقابله وپیکار با مجاهدین را از دست داده اند.

چونکه جنایت کاران مزدور وقاتلین مردم مظلوم وستمدیده افغان روحیه، رزمی را از دست داده اند وبساط نامیمون شان همه روزه برچیده میشود،وبرعکس فرمانروای وقلمرو امارت اسلامی همواره در حال گسترش وپهناور شدن میباشد،لذا برای دشمن جز بمبارد مان وحشیانه وکورکورانه دیگر چیزی نمانده است، بناءً سران اداره دو سر (اشرف غنی وعبدالله) دست به دامان نیروهای هوای متجاوزین خارجی شدند وهمواره از آنها درخواست می نمایند که بم های زهراگین شان را بر سر مردم بی دفاع کشور سرازیر نمایند ،همین است که بار دیگر زمینه کشتار بی رحمانه ملت مستضعف کشور برای سفاکان تاریخ مساعد شد وبا ریختاندن بم ها برفراز خانه،بازار وشفاخانه ها صدها خانم،کودک وریش سفید ما را به کام مرگ برند،دها طفل ،زن ومرد را یتم وبیوه، همینگونه بی خانه وکاشانه ساختند.

اما اشغالگران منحوس ووطن فروشان نا عاقبت اندیش شان بدانند که این ملت غیور در هر زمان پیشقراولان جهاد ومبارزه با استعمار واستکبار خونخوار جهانی در سطح منطقه بوده اند ومیباشند،تاریخ براین گواه است که این ملت با مشت های آهنین خود در دهان هر متجاوز کوبیده وآنها را به زانو در آورده اند ، خاطرنشان باید کرد،استرداد استقلال افغانستان از استعمار انگلیس در سال۱۹۱۹میلادی در حقیقت پاداش رشادت ها ودلاوری های این ملت در برابر اشغالگران بود،افغانستان اولین کشور اسلامی بود که استقلال خود را از سلطه بریتانیا کسب کرد وزمینه را فراهم نمود که مبارزات استقلال طلبانه در مقابل بریتانیا در منطقه همچنان ادامه پیدا کند،وبسیاری کشورهای منطقه با الهام

گیری از مجاهده ومبارزات بی دریغ مردم افغانستان توانستند بریتانیا را از کشورهایشان ودر نهایت از منطقه بیرون رانند وپیروزی خود را جشن بگیرند.

در این شکی نیست که افغانستان در مبارزه برعلیه اشغالگران کنونی وامپراطوری غرب نیز پیشتاز بوده است ،زمانیکه استکبارجهانی (امریکا)با شرکای جرم بین المللی اش بر حریم مقدس کشور مجاهد پرور یورش آوردند،ملل دنیا در هراس بودند ومردم زمزمه میکردند که جنگ با امریکا حماقت ودیوانگی است زیرا آمریکا مجهز با مدرن ترین تکنالوجی واسلحه پیش رفته میباشد حتی که هر چیز را در زیر زمین می بیند لذا هیچ کس توان مقابله با این ابرقدرت جهان خوار را ندارد، اما غرب بی خبر ازاینکه خدای لایزال در این مرزوبوم ملتی را آفریده است که جهاد ومبارزه با متجاوزین وکفار سرشت زندگی آنها گردیده واز هیچ متجاوزی نمی هراسند، همین بود که ملت افغان با ایمان راسخ ودست خالی تحت قیادت زعیم فقید وبهادر امارت اسلامی تحرکات نظامی وسیاسی خود را در برابر اشغالگران وبردگان دین ستیز شان آغاز نمودند که بفضل ویاری پرودیگارمنان هزاران تن از عساکر وجنرالان بلند پایه غرب وهم پیمانانش رهسپار جهنم گردید وبصدها تن دیگر آنها معیوب شدند، همچنان هزارها تانگ زره پوش، وسائط نقلیه وطیارات شان تخریب وحریق گردید واقتصاد خود را نیز ازدست داد،بالآخره شیطان بزرگ (آمریکا) شکست وافتضاح خود را در سطح جهان اعلام کرد وگفت از طریق نظامی با طالب جنگ ناممکن است وحتی که آماده تبادله زندانیان با امارت اسلامی شدند، وچندین تن از قوماندانان برجسته مجاهدین تبادله واز زندان سیاه گوانتانامو رها شدند،بهر صورت بازهم ملت افغان برای جهانیان نشان دادند که جنگ با آمریکا مشکیل نیست وعساکر وحشی آن نیز کشته میشود، لذا ملت های دنیا دست به قیام ومبارزه در برابر امریکا زدند که فعلا اقتصاد کاهش یافت،دبدبه ورعب اش از بین رفت وامپراتوری شان نیزازهم پاشیده شد.

پس برای جهانیان ثابت شد که افغانستان کشورتسخیرناپذیر است و همواره گورستان امپراطوری ها و قدرت های اشغالگر و تجاوزگر بوده و این مهمترین پیام جغرافیای سیاسی و مردم افغانستان به اشغالگران و متجاوزین دنیا میباشد،لذا مجاهدین عزیز وملت شریف کشور با اتکا به الله بی نیاز ودوری جستن از تفرقه،تعصبات قومی، سمتی، لسانی ونژادی می توانند مسیر پیشرفت را برای ساکنان

این کشور باز کنند،اگر یک کشور در عرصه های سیاسی،فرهنگی واقتصادی استقلال نداشته باشد وبه خود کفای نرسد هر از گاهی میتواند مورد تهاجم قرار بیگرد،بطور نمونه تهاجم فرهنگی میتواند زوال ونابودی هویت یک کشور را در پی داشته باشد که افغانستان در حال حاضر برعلاوه اشغال نظامی تحت اشغال فرهنگی نیز قرار دارد،وفعلا فرهنگ غرب اکثریت مردم ما را به بی راهه کشانیده است.

بدون شک امسال(۲۰۱۵)بطور مجموع سال تظاهر قوّت،سلطه،فرمانروای،تسخیر شهرها،مراکز،مغلوبیت وهلاکت دشمنان خارجی وداخلی در سطح کشور بود،به عنوان مثال تصرف کامل ولایت قندوز،فتح بسیاری ازولسوالیهای استراتیژیک ومهم ولایات چون هلمند،زابل، بدخشان، فاریاب،جوزجان،سرپل،بادغیس،هرات،تخار، نورستان،لوگر،غزنی،کنر،پکتیکا و.....بطور خلاصه در سلسله فتوحات امسال اکثریت اراضی کشور تحت کنترول مجاهدین قهرمان کشور درآمد،همینگونه مجاهدین در جریان تصرف شهرها وقصبات مورد استقبال گرم ملت خویش قرار گرفتند وسلوک نیک نیروهای امارت اسلامی با مردم خویش، رژیم کابل ومتجاوزین اشغالگررا نهایت نگران ساخت،زیراکه دشمن مجاهدین را چهر خشین،ضد ترقی وپیشرفت معرفی کرده بودند لکن طرز العمل وبرخورد صمیمانه ودلسوزانه مجاهدین ملت را مطمئین ودسایس دشمنان را نقش برآب ساخت، وشهروندان کشور عزیز دانستند که بجز تطبیق نظام اسلامی امنیت،رفاه وآسایش ممکن نیست،بخاطریکه ۴۶کشور اشغالگر با تمام تکنالوژی ومادیات دست داشته خود امنیت را تأمین کرده نتوانستند،بلکه برعکس دربین مردم وحشت مستولی بود وملت عزت نداشت،بلی یگانه نظام اسلامی است که به عزت،جان ومال مردم ارج میگزارد وبها قائل است نه نظام کفری ودموکراسی.بطور جمع بندی متذکرباید شد: که عملیات هدفمند،موفق،منسجم وگسترده امسال بنسبت سالیان گذشته از لحاظ آزادی ساحات،فتوحات،تلفات دشمن وبدست آوردن غنائم ازهمه کرده عملیات برازنده وموفق بود که در خاتمه اکثر اراضی کشور از لوث دشمن پاک وتحت تسلط وحاکمیت مجاهدین قرار گرفت.

به آرزوی فتح کامل کشور وتطبیق شریعت غرّاء محمدی صلی الله علیه وسلم.وماذلک علی الله بعزیز.

دمورچل او منبر

دهمغږی موارد!

م محمد

لکه څرنګه چې دانسان بدن له مختلفو اجزاوو جور دی، بلکل همداسي داسلام مبارک دین مختلفي شعبې لري ، لکه څرنګه چې دانسان دبدن غړی هریو ځان ته ځان ته وظیفه لري، سترګي لیدل کوی ، لاس نیول کوي ، پښې تلل کوي ، خوله ویل کوي او ... چې په دې توګه یوکامل جسم په ښه طریقه ژوند کولی شي او دزماني له مشکلاتو سره دغړي وهلی شي، همداراز داسلام دین هلته بشپړ اوکامل کیدلی شي، چې تولي شعبې یوله بل سره همغږي ولري،

که څه هم په ظاهره ددې تولو شعبو کار جلاجلا معلومیږي، خو په حقیقت کې تولي شعبې دیوه مقصد لپاره دي اوهغه مقصد هغه مهال ترلاسه کیدی شي ،چې ددین داتولي شعبې یوله بله سره همغږي وي .

دقرآن کریم په دي مبارک آیت کې (وانتم الاعلون ان کنتم مؤمنین) او تاسو به سرلوړي یاست که تاسومومنان واست) هم همدي خبرې ته اشاره کوي ، ځکه یومسلمان ترهغه کامل مسلمان کیدلی نه شي، چې ترڅو په بشپړه توګه مسلمان نه شي ، او کامل مسلمان هغه دی، چې ددین تولي شعبې حق ورته ښکاري او چې په وس یې پوره وي ،په هغه شعبه اوبخش کې له خدمت کولو ځان ونه سپموي.

ددین تولي شعبې یوله بله سره تړاو لري، خو ځینې شعبې له ځینو نورو شعبو سره خصوصي تړاو لري ، داسي تړاو چې یو دبل دبقا ضامن دی، په دوئ کې که هره شعبه له هغه بلې سره اړیکي پرې کړي ،نو خپله همداشعبه به هم له منځه ځي.

که څه هم جهاد داسلام دمبارک دین دتولو شعبو ساتونکی او دمسلمانانو

دسرلوړي رازپکې نغښتی ،خوپه ټولو شعبوکې يې له منبر اومحراب سره تړاو بيخي زيات دی ، داسي تړاؤ لکه په بدن کې چې ددماغ او زړه دی ، همدالامل دی، چې تل يرغلګرو يهودو اونصاراوو اونورو متعصبو کفارو داهڅه کړي ترڅو منبر او مورچل سره جلاکړي.

ځکه دايوځرګندحقيقت دی ، چې ديوه په فلج کولو سره هغه بل بيکاره اوياهم له منځه وړل کيږي.

ځرنګه چې منبر دقرآن ، حديثو ، ديني کتابونو دتدريس ، دالهي احکامو ، فرائضو ، واجباتو ، سننو اومستحباتو دبيان اوپه خلکو کې يې دعملي کولو لپاره ستر رول اداء کوي ، مورچل ته دځوانانو هڅولو او داسلامي نظام دقيام لپاره دهغوی وينې په جذبو راوستلو کې خورا مهم رول لري ، همداراز مورچل دمنبر په شمول دالهي قانون اونورو ټولو اړونده ادارو ساتنه او حفاظت کوي ،

دمنبربقاء په دې کې ده ،چې دمورچل ستاينه او ساتنه وکړي او دمورچل بقاپه دې کې ده، چې خپل ټول مسائل له منبره حل کړي.

نو ځکه خو بايد مسلمانان دې ته متوجه شي، چې دا داسلام زړه اودماغ يوله بل سره په نښو اړيکو کې وساتي ،کنه وي ،بيا به اسلام فلج وي اويابه هم له هغې نقشې ورکيږي، چېرې چې دا آفت راغلی وي .

منبردعامه پوهاوي او عامه مسلمانانو ديوې مهمې درسګاه په توګه پيژندل شوی، دمنبرخاوندان کولی شي ، دا شيندلی او توته توته امت راټول کړي، مسلمانان يو ځل بيا په يوه قوماندې کې راټول کړي،

دمنبر اومورچل داتحادلپاره ترټولو مهم شئ دعصبيت له منځه وړل دي ،چې د علاقې ، نسل ، رنګ ، هيواد ، قوم ، وطن ،ژبې ، خاندان حسب اونسب په بنيادباندي دلبازی ته عصبيت ويل شوی،

که دکوم فرد يا دلي له لوري د کوم تقرير ، تحرير يا له عمل ځخه دعصبيت بوی راشي، نو سمدستي يې بايد چاره وشي اوپه دې هکله بايد له هرې ممکنې لارې ځخه ګټه پورته شي ، ځکه ديوه انسان شورش هم غټه خبره ده ، ځرنګه چې د اورلګيت (ماچس) يوه لګول شوي دانه توله نړۍ سوځولی شي ،نو يوانسان هم يوه غټه فتنه راولاړولی شي ، نوځکه ضروري ده چې مسلمانان بايد له عصبيت ځخه په کلکه را

وکړځول شي او داتحاد اواتفاق هرارخیز کوشش یې وشي.

اتحاد اواتفاق یو داسي تولنیز ضرورت دی ،چې له هغه پرته دیوې کورنۍ او قوم دبقا تصور هم نه شي کیدی، چې بیا هم داتحاد ترتولو سترننګونکی عصبیت دی ، ځکه عصبیت دانسانانو جذبات منفي لوري ته بیایې ،عصبیت انسان رنده وي ، دانسان عقل مفلوج کوي ، تفریق خوروي ، نوچیرته چې عصبیت وي هلته اتحاد ممکن نه دی

دعصبیت له منځه وړلو پرته په مسلمه امت کې داتحاد آرزو او هیله لرل تش دخوب لیدلو مترادف دي،

همدا لامل دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دعصبیت په سختو الفاظو غندنه کړي او په یوه مبارک فرمان کې یې راغلي : ځوک چې په عصبیت باندي ومړ، هغه په جهالت باندي ومړ اوځوک چې خلک عصبیت ته رابولي ،هغه له مورِ څخه نه دی ، ځوک چې په عصبیت سره جګړه کوي، له مورِ څخه نه دی ، اوځوک چې په عصبیت باندي ومړ، له مورِ څخه نه دی.

اتحاد ترتولو لوی اصل دی:

اتحاد ژوند دی او تفرق مرګ دی، اتحاد دترقي لمرنی شرط دی او بي اتفاقي دبربادی لمړی زینه ده ، که مورِ متحد شو، نو په زمانه کې به له هردول ستونزو سره دغره وهلی شو او همدا دتاریخ ترتولو لوی سبق دی، مګر دیر افسوس چې دتاریخ همدا سبق چې څرنګه مورِ مسلمانانو هیر کړی، بل مثال یې ونه لرو.

بل پلو دامهال دیوه منظم پلان له مخې په امت کې دانتشاراو له علماووڅخه دمنتفرکولو فتنې ته هوا ورکوله کیږي ، ځکه داسلام دښمنان له اوږدو تجربو وروسته دې نتیجې ته رسیدلي، چې دمسلمانانو په بدن کې دجهاد ولولې پارونکي او دکفردمقابلې لپاره په تشو لاسونو ځوانان دهمدې منبرله اوازه تیاریږي، نوځکه دښمن پوره زورکوي، چې عام مسلمانان اومجاهدین له علماوو نه رابطه وشکوي اوپه یو بل یې بدګمانه کړي ، کله استخباراتي کړی په منبر اومحراب کې ماین ځای پرځای کړي، ترڅو امام اوڅو نورلمونځ کونکي وربانديِ شهیدان کړي اونېغ په نېغه یې دپرې ګوته دمورچل لوري ته ونیسي اوکله بیا په عامه له ګنې ګوني دکو بازارونو اومارکیټونوکې دتکتیکي ماینونوپه مټ چاودني کوي اوبیایې هم نېغ په نېغه ګوته دمورچل زلمیانوته نیوله کیږي، چې داټولي دسیسي دهمدي لپاره دي

،چې ملت، منبر اومورچل یوله بله سره فاصله پیداکړي.

که داندلس تاریخ ته سرسري نظر وکړو، هلته چې د (ازابیلا اوفردیناند) ملکرو کله مورچل اومنبر یوله بل سره په فاصله کې کړل، نویې په لنده موده کې ، د(غرناطې ، اشبیلیې ، قرطبې) اونور وروستي مورچلونه هم له مسلمانانو ونیول اوکله چې په دې کامیاب شول او مورچل له منځه لاړ، نور منبر اومحراب په خپله داسي پاتې شول چې آن بیایې چا دتکبیر زوږ هم وانه وریږ.

که لیري نه ځو، په دې نږدي (ماوراء النهر ، سمرقند ، بخارا ، ترمذ اونورو ښارونوکې چې دوخت ددین ترتولو ستردیني مرکزونه وو، هم هغه مهال اسلام له منځه لاړ،چې کله لمړی دمورچل اومنبرترمابین فاصله پیداکړله شوه او ددې درز رامنځه کیدو سره هغه محدود ځوتنه چې په حقایقو پوهیدل، له لږې جګړې وروسته یاشهیدان یاتسلیم شول ،چې له دې سره منبرهم خپله له منځه لاړاو بیاچاله منبرځخه دحق اواز پورته کیدل وانه وریږ.

نوهمدالامل دی ،چې اوس دهره هڅه کیږي ،ترڅو دمنبر اومورچل ترمنځ فاصله پیداکړي ، یوڅوتنه کرایه شوي کسان په منبرونو باندي راوستل شي ، دجهاد اومجاهدپه خلاف اواز پورته کړي، هغوی ته تروریست او دهشت خورونکی وویل شي، دماشومانو ذهنیتونوکې مو دپلرونو اونیکونو دښمنان ترتولو خوا خوږې معرفې کړي، دپلارتوره مو له لاسه وباسي او بیا زموږ دمساجدوهم هماغه حال شي، لکه څرنګه چې یې په اندلس اونږدي ماوراء النهر کې وینو!

د خالد بن وليد (رضي اللّه تعالى عنه)

له معسکر څخه تفصيلي راپورتاژ:

ترتيب: محمدالياس

بسم الله الرحمن الرحيم

د امريکايي اشغال له پيل څخه د روان جهاد دبهير د پاللو او ګرندي کولو لپاره، د اسلامي امارت مشرانو او رهبري الحمدلله د مجاهدينو سالمې روزنې ته متوجه وه او دهر کال په تيريدو سره يې نوښتونه په کې راوستي او د جهادي حالاتو او مقتضاياتو سره سم يې مجاهدين په ښه ډول رهبري کړي.

په ابتداء کې د اشغالګرو په وړاندې له مخامخ جګړې را ونيسه بيا تر کمين بريدونو، د ماينونو خای په خای کولو، فدايي بريدونو او بيا مخامخ او جبهي بريدونو پورې مختلف پړاونه يې طی کړي دي.

د جهادي صف د تقوي او هر کال نوښتونو له ټولو نه ډيره مؤثره يې هغه د اسلامي امارت په چوکاټ کې د نظامي کميسيون په هلوخلو او درهبري په خانګړې توجه سره د معسکراتو جوړول او بيا په ښه ډول پالل وو.

د اسلامي امارت نظامي معسکرات يا دمجاهدينو روزن خايونه د هرې ورځې په تيريدو سره پرمختګ کړي، د دښمن د ټولودسيسو په وړاندې يې لازم ګامونه اخيستي او دنړۍ له خورا پرمختللو او پياوړو وسلو سره يې د مقابلې طرز او طريقه مجاهدينو ته ښودلې ده.

له معنوي او اخلاقي اړخه يې را ونيسه بيا تر پوخي او بدني روزنې پورې يې د مجاهدينو په کړنو کې مثبت بدلون راوستی، هر مجاهد يې د الله تعالی په وړاندې تعهد، تقوا، د نيت اصلاح، د امير اطاعت، دصف وحدت ،دخپل ولس سره ښه چال چلند او په ټولنه کې نيک برخورد ته متوجه کړی دی.

دهمدغې سالمې روزنې نتيجه وه چې له خورا ډيرو دسيسو، د دښمن له مختلفو

غولونکو پلانونو او فشار اچونو سره سره بیا هم دښمن ونه توانید چې دځوارلسوکالونو په جریان کې مجاهدین منحرف کړي، نیت یې کمزوری کړي، اراده یې متزلزله کړي او یا خدای مکړه په جهادي صف کې د مجاهدینو ترمنځ کومه بد بیني ایجاد کړي.

د نظامي معسکراتو دتربیې په برکت پر اشغالګر او غلام دښمن خورالوی او پیچلي بریدونه پلان او عملي شول چې دښمن یې هک پک کړ او اراده یې ورته وخپله.

دفدایي مجاهدینو روزل، هغه وسیله او وسله وه چې په وړاندې یې د امریکا او ورسره ۴۹ هیوادونو تکنالوژی ګونده شوه او تر ننه پورې یې په هیڅ تکتیک او دسیسه هم مخه نشي ډب کولای.

له هغې راپه دې خوا له تیر کال راهیسې د هیواد په لر او برکې د جهادي قطعو جوړیدل او بیا په خورا پیاوړې روحیه، منظم شکل او ډیره مدبره قومانده سره دجهادي صف سره اوډل یې بل کمال وو چې له بهرني او کورنی دښمن ترینه هره ورځ د درنو تلفاتو او دسیمو د لاسه ورکولو صحنې ګوري.

په لنډو به ووایو چې په دې راپور کې مو د دغو ټولو شهکارونو د یوه مرکز د اسلامي امارت دمهم نظامي معسکر او د مجاهدینو د روزنې له یوې پیاوړې دستګاه څخه لیدنه کړې چې تاسو لوستونکي یې د اوسیدو، روزنې، مشرانو، استادانو، او تر روزنې لاندې مجاهدینو له حاله خبروو او د اسلامي امارت د ستنو د ټینګښت په لاره کې یې تر ټولو مهم او قوي مرکز بولو.

دغه مرکز د خالدبن ولید (رضي الله تعالی عنه) په نوم جهادي معسکر دی چې مسئولینو یې د ایجاد او په پښو درولو لپاره ډیره سعیه کړي او الحمدلله ثمره یې تر ټول امارت او هیوادوال ګوري.

د خالد بن ولید(رضي الله تعالی عنه) معسکر ته له ډیرو امنیتي او احتیاطي تدابیرو او کمربندونو تیر شوو، دغه معسکر چې په خورا ښه خای کې یې موقیعت درلود، د داخلیدو شرائط یې ډیر ګران وو چې ډیر مشران او امارتي مسئولین لا نه وو توانیدلي چې ورڅخه لیدنه وکړي.

مسئولینویې په ډیره استثنایي توګه موږ ته اجازه راکړه چې له دغه معسکر څخه لیدنه وکړو او بیا پرې راپور ولیکو.

معسکر داسې جوړ شوي وو چې د خورا ډیرو کسانو لپاره داوسیدو خونې، منظم د سپورت او نظامي زدکړومیدان، د ژمي او دوبي له تغیریدونکې هوا سره لازم او مناسب چاپیریال، دلر له انرژی څخه په استفاده

همیشنی برق، د خوراک او څښاک منظم پلان او دیومجاهد د روزنې لپاره په کې ټول اړین شیان په پام کې نیول شوي وو.

مورِ معسکرته ننوتو، له یوه مرتفع خای څخه مو د هغو مجاهدینو لیدنه وکړه چې صف صف ولاړ وو او د خپلو استادانو لارښونې یې په عمل کې پیاده کولې.

ټولو په منظم نظامي لباس کې، له لازمو وسلو سره په ډیر کلک دسپلین د تعلیم پراونه طی کول، فضاء د جهادي اعداد ګرخونو په سر اخیستې وه، او د ملکوتي تکبیرونو آوازونه اوریدل کیدل.

په یاد معسکر کې مو دسترګو لیدلي حال برسیره د معسکر له مسئول، یوتن استاد اویوتن تر روزنې لاندې شاګرد سره په لنډ ډول د زړه خواله وکړل چې لاندې یې لوستلو ته ستاسو توجه را اړوو.

دمعسکرمسئول :

د معسکر له مسئول حاجي آغا څخه مو د روغ بر اوهرکلي څخه وروسته وپوښتل چې د دې معسکر بنیاد یې څرنګه کیښود، اسلامي امارت د معسکراتو اهمیت ته څومره متوجه دی او څومره موده کیږي چې دا معسکر جهادي خدمت کوي؟

خواب: نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد: بسم الله الرحمن الرحیم

اګرکه پخوا په جهادي صفوفو کې د معسکراتو شتون او جوړښت ته پاملرنه لږ وه او مجاهدینو په هرخای کې پخپله زده کړه او خپل فکر جهادي کارونه پرمخ وړل، خو له دیرې موده کیږي چې الحمدلله د اسلامي امارت مشرانو او رهبري، ورسره ټول نظامي مسئولین، دلګی مشرانو او عام مجاهدین دمعسکر په اهمیت پوهیدلي، ګټه یې ورته کړې، جهادي جریان یې ګړندی کړی، او د دښمن په مقابل کې یې د مجاهدینو په خواک او پیاوړتیا کې ډیر ښه او مثبت رول اداکړی.

کله چې ماته ددې معسکر د جوړیدو او سرپرستی دنده را وسپارل شوه، نو زهم چون له پخوا مسلکي سړی نه وم او دنظامي رزونې په اسرارو ډیر نه پوهیدم خو د وخت په تیریدو سره ماته د معسکر او دمجاهد د روزنې اهمیت جوت شو او په معسکر کې د خدمت تلوسه مي لا ډیره شوه، خو د تعجب خای داده چې زه بیا په دې فکر کوم چې زه به څرنګه وتوانیږم چې مشرتابه په دې باندې قانع کړای شم چې دمعسکر موجودیت، پالل او بیا دمجاهد روزنه دومره مهمه او مثمره ده.

کله چې ما د امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور حفظه الله سره د لیدو اراده

وکړه نو ما هڅه کوله چې څرنګه داسې الفاظ پیدا اوبیا خپل مشر ته بیان کړم چې دهغه په وسیله معسکرته د منصور صاحب ډیره توجه راوګرځوم، خو د خوښۍ خای داوو چې کله ما له هغه سره لیده کاته وکړل او د معسکر یادونه مې ورته وکړه، نو پخپله امیرالمؤمنین منصورصاحب حفظه الله ماته د معسکر دومره اهمیت بیان کړ چې زه ورته حیران شوم او څومره چې ما تصور کاوه له هغه ډیر پخپله امیرالمؤمنین ددې کار په اهمیت پوهیده، او ډیره وجه یې هم داوه چې پخپله منصور صاحب په معسکر کې وخت تیر کړی وله معسکر څخه فارغ شوي وو او دجهاد لپاره یې په ډیره ښه توګه نظامي روزنه لیدلي وه.

منصورصاحب د معسکر په شرانطو ډیر ښه پوهیده، مثلا موږ چې کله معسکر افتتاح کاوه، موسم ډیر سوړ وو، نو موږ پلان نیولی وو، چې په معسکر کې د مجاهدینو د تودو اوسیدو لپاره خاصې زیرزمینۍ جوړې کړو، د مجاهدینو لپاره خاصې تودې جامې پیدا کړو، په دې اړه مولې امیرالمؤمنین څخه دمصارفو غوښتنه وکړه او مشوره مو خینې وغوښته چې کله د تودو خایونو پیدا کول ممکن نشي نو آیا په ژمي کې معسکر رخصت کړو او که له صحرا څخه کلیوته ولاړ شو او دمجاهدینو لپاره په کلیو کې تاوده د اوسیدو خایونه پیداکړو؟

امیرالمؤمنین راته وویل چې کله موږ جهادي زدکړي کولې نو نه به په ډیرو تودو سیمو کې اوسیدو او نه هم په ډیرو سړو سیموکې، ځکه که د اوسیدو او خوب لپاره تاوده خایونه ورته پیدا هم کړو، نو بیا به د تعلیم او سپورت په وخت کې څه پرې کوو؟ نو ښه داده چې د معسکر د مجاهدینو تعداد دې کم وي، خو کلیوالي سموته لاړ شي، هلته هستوګنه غوره کړي.

پوښتنه : آیا امیرالمؤمنین (حفظه الله) له تاسو سره د مصارفو او نور برخو لازمه مرسته کوله؟

هو! مامخکې وویل چې امیرالمؤمنین پخپله نظامي ټریننګ کړي وو، ماته یې وویل چې زه د دې کار په اهمیت هرڅومره ډیر پوهیږم،اودمصارفوپوره ډاډیي راکړ ، د امیرالمؤمنین خبرو زه نور هم ددې کار اهمیت ته متوجه کړم، شوق مې ورسره زیات شو، همدا وجه ده چې دا دوه نیم کاله کیږي، زموږ له معسکر څخه ۱۲ دورې مجاهدین فارغ شول، په هرکال کې موږ ۵ دورې مجاهدین فارغ وو او تراوسه په خپل کار کې له هیڅ مشکل او ستونزې سره نه یو مخ شوي.

پوښتنه: د معسکراتو د ډیرې کامیابۍ او پرمختګ چې جهادي صف ته د نښو او روزل شوو مجاهدینو د تقدیمولو باعث شوو خصوصا په جهادی اونظامي قطعاتو کې، د دې علتونه څه راته ښودلی شئ؟

خواب: د معسکراتو په پرمختګ کې خو یو لکه مخکې مو چې وویل د مشرتابه خاصه توجه او همکاري وه، په دوهمه درجه کې دلته استاذانو او جهادي منسوبینو، مسئولینو او پخپله مجاهدینو هم ډیره سعیه کړې، اخلاص یې کړی، زحمت یې ایستلی او په ډیره تنګسه کې یې خپل کار پرمخ بیولی، له هیڅ خطر څخه یې ویره نه ده کړې، د مجاهدینو په ښه روزنه کې یې که هغه په اخلاقي برخه کې وو او که په نظامي برخه کې په دواړو برخو کې یې ډیره ستړیا ګالله، ډیر اخلاص او زحمت یې راسره کړی دی چې دا کوښښونه او سعي یو له بل سره یوځای شوي او د ټول معسکر د بریالیتوب باعث ګرځیدلی دی.

بل مورچل د اسلامي امارت له نورو معسکراتو څخه هم معلومات کړي، دهغو له معسکراتو څخه له فارغو شوو مجاهدینو څخه مو مشوره غوښتې چې مورچل خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه کړل شوي یو،که هغه د مجاهدینو د بدني او اخلاقي روزنې په برخه کې وي، که د معسکر د اداري او نظم په برخه کې، که هغه د استاذانو دچال چلند په برخه کې وي او که د مجاهدینو د خوراک، څښاک او لباس په برخه کې، یا په نورو لازمو برخوکې، چې په دې کار سره مورچل خپلې کمۍ او کاستۍ پوره کړې دي او اوس الحمدلله په ډیره ښه سویه مجاهدین روزو او دجهادي لیکو د تقویت او پیاورتیا سبب شوي دي چې تاسو یې دا دی دنزدې وینئ .

پوښتنه: د لته په معسکر کې ستاسو او په خاص ډول د استاذانو چلند له مجاهدینو سره څه ډول دی، آیا مجاهدین راضي دي؟

خواب: د دې پوښتنې په خواب کې به زه دیو مجاهد لنډه کیسه درته وکړم، دلته له مورچسره د زابل یو مجاهدوو ماته یې ویل چې ما په یوبل خای کې هم تعلیم او نظامي رزونه لیدلې ده، خو هلته به د استاذانو چلند ډیر سخت او کله کله له غوسې څخه ډک وو چې مورچ به له ډاره استاذانو ته خبره نشوای کولای، مګر دلته په دې معسکر کې د استاذانو د شفقت، الفت او محبت له وجهې زه دې خبرې ته وارخطا یم چې مورچ به له خپلو استاذانو، دا نورو ملګرو مجاهدینو او د معسکر له مسئولینو څخه څه ډول جلاکیږو؟ خکه دا به راته ډیره ناقابل برداشت صحنه وي.

او واقعا هم چې کله دلته شاګردان فارغه کيږي او له خپلو استاذانو اوله معسکر څخه رخصت اخلي، نو د ژړا او ويرې يوه صحنه وي، له ډير محبت او الفته يو له بل څخه د فراق هيڅ برداشت نشي. کولای، په ژړا او په سرو سترګو له معسکر څخه وخي چې ما مرکه کونکي دا حالت په خپلو ستر ګو ليدلی .

پوښتنه: په معسکر کې چې څوک له خانه سره د استاذانو په توګه منئ هغوی څه ډول کسان دي او څه څه مواصفات بايد ولري؟

خواب: زمونږ سره دلته استاذان داسې کسان دي چې ټول الحمدلله عالمان يامشران طالبان دي، په دين ښه پوهيږي، په نظري لحاظ ويښ او خيرک خلک دي، تقوا، ديانت، حلم او برداشت لري، په لومړي سر کې زمونږ سره اکثره استاذان فدايان وو چې د فدايي بريدونو لپاره يې هم نومونه ثبت کړي وو، اوس د زمان په تيريدو سره دلته هم داسې کسان فارغه شول چې هغه زمونږ د مرکزي معسکر او وروسته د فرعي معسکراتو لپاره د استاذانو په توګه استخدام شول، هغه الحمدلله ټول د پورته مواصفاتو لرونکي خلک دي، ډير زړور، صبرلرونکي، تقوا لرونکي، قربانئ ته تل آماده، دکفارو په دسيسو ډير پوه او ويښ کسان او داسې استاذان لرو چې هم په بدني روزنه او هم په اخلاقي روزنه کې نمونې دي او د دين په اساساتو ډير ښه علم او فقاهت لري په دري او پښتوژبو دواړو تعليم ور کوي .

پوښتنه: تاسو په معسکر کې د مجاهدينو لپاره خوراک، لباس او نور ضروريات څه ډول مهيا کوئ؟

خواب: د اسلامي امارت د اقتصادي توان مطابق مونږ دلته په معسکرکې مجاهدينو ته د خوراک او لباس ډير ښه انتظام کړی، خوراک مو د ډاکټرانو په مشوره داسې ورته په پام کې نيولی چې دمجاهدينو د سپورت او نورو تمرينونو په وخت کې چې کومه انرژي ضايعه کيږي، هغه بايد بيرته پوره کړي، غوښې، وريجې، لوبيا، نخود، کچالو او نور لازم شيان ورته پخوو، همدا راز د مجاهدينو د معسکر لباس لکه څرنګه يې چې تاسو هغه ده ګورئ خاص يونيفورم دی، چې په شرعي طريقه جوړ شوی، هم آزاد دی چې مجاهدين په کې د تنګي احساس ونه کړي، هم دنظامي زدکړو او تمرينونو سره مناسب په برګ کماندويي شکل جوړ شوی دی، ښه کلک بوټونه چې خفاسته په کې آسانه وي دا مو ورته تيار کړي، همدا راز مو د سرلپاره خاص دستمالونه ورکړي چې سر پرې پټوي، په دې

لباس کې هم د مجاهدینو د استراحت احساس په نظر کې نیول شوی، هم د لمونځونو د اداکولو حالت .

همدا رازمور دلته آشپز خانه لرو، نه آشپزان مو په کار ګمارلي، نانوايي دننه په معسکر کې لرو، د مجاهدینو د مریضي- لپاره مو دلته په معسکر کې یو کلینیک جوړ کړی چې اوس تاسو پرې ګرځوو، ټول لازم درمل لرو،داولیه کومکوډاکټران راسره دي تر دې چې درې ورځې مخکې یو مجاهد سخت ناروغ شو اوس هم دلته له مور سره په کلینیک کې بیستر دی، د هغه ټوله پالنه همدلته په معسکر کې دننه وشوه.

پوښتنه: تاسو دلته په معسکر کې د مجاهدینو ورځنی تعلیم څه ډول پیل کوئ، سپورت، نظامي زده کړه، بیا درسونه، چې اخلاقي تعلیم، ديني روزنه، دجهاد په احکامو دمجاهدینو پوه کول، مجاهدین متعهد کول او له نړیوالو حالاتو خبرول، په دې برخه کې که لنډ لنډ معلومات راکړئ؟

خواب: زمور دمعسکر تقسیم الاوقات په څلورو برخو ویشل شوی دی، چې دیر تمرکز په اصلاحي برخه، اخلاقي روزنه او ديني زدکړه خصوصا دجهاد په اړه په معلوماتو شوی دی.

لومړی برخه مور مجاهدینوته په یوه دوره کې دقرآن کریم د سورة الانفال اوسورة التوبة ټوله ترجمه اوتفسیر تدریسوو ، دمشکوة شریف کتاب الامارة والقضاءاو کتاب الجهاد، اودارنګه سیرة النبي صلى الله علیه وسلم، اوپه فقهي برخه کې فقهي لازم احکام مجاهدینو ته ورښیو.

دوهمه برخه نظامي سبقونه دي، چې په هغه کې دټولو هغو اسلحو چې مجاهدین یې په لاس کې لري، په مسلکي اوفني شکل ورته تدریسوو،چې په هغه کې دټولو اسلحو دوربینونه اوهمدارنګه لکه کمپاس اوزاویه اوداسې نور چې په اسلحو پورې مربوط وي نه په مسلکي شکل تدریسوو اوهمدارنګه انفجارات چې په هغوئ کې دبارودو ټولې فارمولې اودمین جوړولو طریقې اوداسې نور احتیاطي تدابیر ورته ښیوو.

دریمه برخه سپورټ اوعسکري حرکتونه دي، چې په هغه کې هره نوعه تکتیکونه چې په جنګ کې په کاریږي اوداسلحو داستعمال طریقه اوهمدارنګه دمجاهد بدن په سپورټ باندې چست اوچالاک کیدل اودارنګه مناسبه منډه وهل ټول پکښې شامل دي.

څلورمه برخه عامه پوهاوی چې په هغه کې هم زیات علوم شامل دي، لکه

داستخباراتو علم، چې په هغه کې ددښمن پيژندنه ددښمن دمابين څخه معلومات راټولول اوهمدارنګه مجاهدين ددښمن دمکرونو اودسيسو څخه خبرول اوپه دې علم کې نور ډير داسي شيان شامل دي، چې مجاهد په فکري لحاظ ډير ويښ اوبيداره کو ي اوهمدارنګه نقشه چې په هغه کې علم جغرافيه په سياسي اوجغرافيوي شکل تدريسيږي چې په هغه کې دغټو اسلحو دهدف ويشتلو مسافه استقامت اوهدف معلوميدلای شي اوپه سياسي لحاظ مجاهد ته زيات معلومات پکښې شامل دي . ددې ترڅنګ جي پي اس ، مخابره اوداسې نور شيان چې مجاهد ورته ضرورت لري، ټول ورته ويل کيږي ..

په عمومي ډول د وخت دکمي له املې چې د دورې زمانه کمه ده، مورږ هڅه کوو چې دلته د راغلو مجاهدينو ټول وخت د سهار له لمانځه څخه رانيولي بيا تر ماخوستن تر لمانځه پورې يو ډوډي، لمانځه او د غرمې قيلولې ته وخت ورکړو، نور هيڅ وخت نلري، بلکې ټول وخت يې مصروف دی.

پوښتنه: تراوسه مو له دې معسکر څخه څومره مجاهدين فارغه کړي، او کله چې مجاهدين جهادي جبهوته تللي دي آيا بيا معلومات پرې لري چې هغوی څومره مثمردي او جهادي کارونوته يې څومره ګټه کړې ده؟

خواب: زمورږ ددې معسکر د فعاليت له پيله تراوسه پورې چې دوه نيم کاله کيږي، مورږ تقريبا ۳۰۰۰ مجاهدين فارغه کړي دي، له فراغت وروسته زمورږ اړوند مجاهدين په ټول هيواد کې جهادي جبهاتوته استول شوي دي، چې الحمدلله مورږ د جهادي جبهاتو د ډير مثبت بدلون شاهدان يو، ما مختلفو ولايتو ته سفرونه وکړل، په هرځای کې زمورږ د معسکر څخه فارغو شوو مجاهدينو په خپلو جبهو کې ګنو نورو مجاهدينو ته روزنه پيل کړي وه، جالبه لاداوه چې هرڅه يې زمورږ دمعسکر کاپی کړي وو، حتی لباس او ټول درسي سيستم.اودمجاهدينو سره کړه وړه چې دا ددوی دمعسکر اوخپلو استاذانو سره محبت ښيی چې هرڅه يې کټ مټ همدازمورږ دمعسکر په شکل کی و.

همدا راز زما په ياد دي، په ډيرو خايونو کې به دښمن په مجاهدينو ټانکونه ډير په زړورتوب سره را وخغول، چې مجاهدين به يې په آساني شهيدان کړل، خو کله چې د معسکر مجاهدين جهادي ليکوته ورسيدل نو الحمدلله هغه وضعيت کاملا تغير وکړ، دښمن سخت درانه تلفات وليدل، په ډير کم مصرف سره

مجاهدينو د دښمن لويو قواووته ماتې ورکړه او سيمې يې ترې ونيوي.

تاسو به کله ناکله اورئ چې دښمن د عملياتو په جريان کې کله په دروغو ادعاکوي چې له موږ سره پنجابيان جنګيږي، کله د نورو ملګونو خلک يادوي، کله خو د پردو هيوادونو جنرالان او افسران يادوي چې له دوی سره په جګړه اخته دي، زما په فکر ددغسې ادعاو يوعلت هم ددغو روزل شوو مجاهدينو جهادي ليکوته رسيدل دي، خکه کله چې مجاهدين د دښمن په مقابل کې ښه نظامي تکتيکونه اجرا کړي، دښمن په آسانۍ له منځه يوسي، هدفونه په ښه ډول په نښه کړي، نو دښمن فکر کوي چې داکار خو طالب نشي کولای، نو دپردو هيواونو نومونه اخلي او د مجاهدينو د بدنامۍ هڅه کوي، په داسې حال کې چې هغه ټول زموږ له دغو معسکراتو څخه فارغ او ښه روزل شوي مجاهدين وي.

موږ د جهادي جبهو يو مثال لرو يو مجاهد خپل مشر ته وايي چې ماته د راکټ يا هشتادو دو مرمۍ راکړه که مې په اول ګوزار سره ټانک نه پرې وويشته دهغې مرمۍ قيمت بيرته درکوم، يعنۍ په خپله نښه ويشتلو باندې سل په سلو کې باوري وي.

همدا ډول نن سبا د اسلامي امارت په نظامي قطعاتو کې چې کوم مجاهدين ډير رول اداکوي هغه د معسکراتو څخه فارغ شوي مجاهدين دي چې د جګړې بڼه يې جبهې کړه او ټول جهادي صف ته يې قوت ورکړ.

پوښتنه: دلته معسکر ته دکومه سويه مجاهدين راخي او يا راتلونکي کسان په جهادي صفحاتو کې څه څه دندي لري؟

خواب: په اوايلو کې هڅه کيده چې جهادي مسئول موږ ته داسې کسان رامعرفي کړي چې هغه افراد مجاهدين وه ، خو وروسته موږ بيا بيا له جهادي او نظامي مسئولينو څخه غوښتنه وکړه چې بايد موږ ته داسې کسان رامعرفي کړي چې هغه مشران وي، مسئولين وي، علماء کرام وي او داسې څوک وي چې دلته له زدکړو وروسته چې بيرته جهادي صف ته ګرځي هلته ديو مسئوليت له مخې ډيرځه وشي کړای، نور ملګري تربيه کړای شي او د جهادي دلګيو(ګروپونو) دقوت او منظموالي سبب وګرځي، اوس الحمدلله همداسې شوي دي، اوس موږ په هره دوره کې له لسو څخه تر۲۵ پوري کسان علماء کرام لرو، حتی له ميدان وردګو څخه په تيره دوره کې داسې يو عالم راغی چې وړه(کوچني ــ موقوف عليه) دوره يې تدريس کوله، ډيره يې سپينه وه،خو بيا هم دلته په خاورو کې له نور مجاهدينو سره رغبت او تعليم يې زده کاوه، چې له دې کار

سره اوس ټول جهادي مسئولين د خپلو مجاهدينو د روزنې په اهميت پوه شوي او ورځ تر بلې زمونږ معسکراتو چې زمونږ د مرکزي معسکر څانګې دی چې په بيلابيلو ولايتونو کې فعاليت لري، هغو قوت پيداکړ، منظم شول او د لاډيرو مجاهدينو د روزنې امکانات يې برابر کړل.

پوښتنه: اوس خو چې مونږ ګورو ستاسو دا معسکر داسې مرکزي معسکر معلوميږي، آيا تاسو داسې کوم فرعي يانور معسکرات لرئ چې په هر ولايت کې وي او مجاهدين په آسانۍ سره نظامي روزنې ته لاس رسی ولري.

خواب: هو الحمدلله مونږ دا نظر لرو چې په هر ولايت کې يو يو معسکر ولرو، مونږ دهمدې هدف لپاره ګڼو ولاياتوته سفرونه وکړل، بررسي مو وکړه، اوس هم په ګڼو ولاياتو کې مونږ فرعي معسکرات لرو او ګڼ مجاهدين تر زدکړو لاندې دي،لکه عمده مرکزونه چې دهيواد په مختلفو برخو کې موقعيت لري څلور عمده معسکرات دی اول دحضرت سعدابن ابی وقاص (رض) مرکز دی دوهم دحضرت ابوعبيده ابن الجراح (رض) مرکز دی دريم دحضرت زبير ابن العوام (رض) مرکز دی څلورم دحضرت ابودجانه (رض) مرکز دی ، خو معسکرات جوړول، ډير تکليف هم لري، دنظم ساتل، د امنيتي پلوه يې خوندیتوب، د راز ساتلو طرز او طريقه همدا ډول د مصارفو په لحاظ لازم تدابير چې دا څه ناڅه وخت نيسي،

پوښتنه: څومره چې تجربه شوې، د معسکراتو څخه د فارغو شوو مجاهدينو په رسيدو سره د مجاهدينو صفوفوته د مجاهدينو تلفات ډير کم شوي، آيا تاسو داسې څه حس کړي دي؟

خواب: هوا طبعي خبره ده چې د ټرننګ په زده کړه سره مجاهدين د دښمن سره د ښې مقابلې توان پيدا کوي او له ډيرو خطرونو خان ساتي چې زمونږ تلفات ډير ورسره کم شوي دي، همدا راز د دښمن تلفات خکه ډير زيات شوي چې د مجاهدينو اکثره ګوزارونه په دښمن لګيږي او يا خپل هدف په ښه ډول له منځه وړي، خکه مجاهدين مسلکيان شول او د دښمن په مقابل کې يې ښه ورتيا پيداکړه، اوپخپلو اسلحو باندی اعتماد پيداکړخو د دغو دوارو خبرو ترڅنګ يوبل ډير مهم کار چې د اسلامي امارت جهادي صفوفوته وشو هغه داوو چې زمونږ مصارف هم ډير کم شول، خکه يو مسئول مجاهد ماته وويل چې الله تعالی دې تاسو اجر درکړي د معسکر په افتتاح سره مو له مونږ سره غټ احسان وکړ، اوس الحمدلله زما ټول ملګري مجاهدين په څو دوروو کې له معسکر څخه

فـارغ شـوي دي چـې پـه دې کـار سره زمـا مصـارف خـورا زيـات کـم شـوي دي، ځکـه پخوابه د مهماتو خصوصا د مختلفـو اسـلحو د مرميو په رانيولو او پيرلو کې له ماڅخه پخـوا ډيرمصرف کيده ، اوس پـه ډيـره لويـه جگـړه کې هم زمـوږ ډيـرې کمـې مرمـۍ مصرفيږي، ځکه مجاهدين دخپلې وړتيا له امله بې خايـه ډزې او ګوزارونه نه کوي، او دمسلکي زدکـړې په برکت دښمن ښه دقيق او په نښه ولي چې په دې کارسره هم زمـوږ پرمختـګ ډيـر چټـک وي، هـم ددښـمن تلفـات ډيـر وي او هـم مـو مصارف ډير راکم شوي دي، لنډه موده مخکـې زه پخپلـه پـه يـوه جنـګ کـې ښـکيل شـوم ددښمن لخوا راته کمين نيـول شـوی وو چـې مسلکي ملګري راسره وو، زه فکر کوم چـې کـه دا جنګ عادي مجاهدينو کړي واى نو بـه يـې خامخا دری يا څلور شريده مرمـۍ مصرفـولې، خو مـوږ پـه ټولـه جگـړه کـې ايلـه ۴۲ مرمـۍ وويشتې، دښمن مو وخاپه اوجگړه مو پای ته ورسوله.

اوس اوس مو مجاهدينو ته د نورو نظامي زدکړو ترڅنګ په طبي برخه کې هـم زده کـړه پيل کړي ده ،چې که خـدای ج مکـره زخمـي ورته کيږي، نو دوی بايد څرنګه اوليه کومـک ورسولی شي، لـه کومـو دواوو او عـلاج څخـه استفاده وکړي، څرنګه خپل ملګري چې ټپـي وی، انتقال کړي، چې په دې کار هـم د جهـاد دبهير تلفات راکښته کولای شو او نوربه هـم تر ډيره مؤثر تمام شي. ان شاءالله

نوربيا.....



په افغانستان کې د امریکایي بالونونو پټ رازونه

ژباړه: ساحل منګل

خلک د دې بالونونو په اړه بېلابېل نظروته لري، ځینې وایي په دې بالونونو کې کمرې نصب شوې، چې د جاسوسۍ په چارو کې ترې ګټه اخیستل کیږي او ځینې وایي ، چې د الوتکو دفاعي سیستم(Radar) پکې نصب شوي دي.

مګر په واقیعت کې د دې بالون دنده څه شی ده؟

د دې نظامي بالون نوم (JLENS) دی، چې د ایروستټ(Aerostat) په نامه هم پېژندل کیږي، دغه بالونونه دهیلیم دګازو څخه ډک دي، چې له ځمکې څخه ۳۰۴ فټه لوړوالی لري، هر بالون د رادارو قوي سیستم، ځمکني کومکي وسایل او د معلوماتو منظم سیستم لري.

د دې بالون سیستم د الوتکو د تهدید د دفاع، توغندیو، بې پیلوټه الوتکو، ځمکنیو اهدافو او د لویو راکټونو لپاره جوړ شوی دی. د یو بالون د نظارت او څارنې ساحه د امریکا د یو ایالت په اندازه دی او حیرانونکې، ډېره جالبه او د نه منلو وړ خبره دا ده ، چې د دې بالون قیمت درې ملیارده ډالرو ته رسیږي، هو درې ملیارده ډالره.ځکې له دې ،چې ځینو پوښتنو ته ځواب ورکړو غواړو، چې د خلکو د نظریو په اړه یوه څو خبرې وکړو.د مثال په ډول د دې بالون څخه د الوتکو او رادار کار اخیستل کیږي نو ولې په نورو هیوادونو کې، چې پرمختللي او لوی هوایي ډګرونه لري له دې بالون څخه ګټه نه اخیستل کیږي؟

دا، چې په دې بالون کې کمرې لګول شوې که نه؟ځواب پې هو دی، مګر له دغو کمرو څخه د بریدګرو په پېژندګلوي کې ګټه نه اخیستل کیږي، په ټېرو څو کلونو کې امریکایانو یو څل هم د دې بالون پر مټ د حملو مخنیوی نه دی کړی، حتی په هغه ورځ، چې په کابل کې د امریکا په سفارت او (CIA) باندې حملې وشوې.

لومړی راځو د افغانستان په بارونو او کلیو کې د دې سیستم د لیدو نظارت ته!

۱ د دې دستګاه موجودیت، چې د خلکو کورونو، شخصي- ملکیتونو او د خلکو شخصي- ژوند د لیدلو قابلیت لري د اساسي قانون له نظره غیر قانوني کار دی؛ ځکه، چې د هر اتباع د خوندیني له حق څخه په اساسي قانون کې یادونه شوې، د خلکو شخصي- ژوند څخه نظارت او لیدنه د خلکو په حریم باندې بنکاره ټېری دی.

۲اسلام دخلکو حریم دانسان عمده حقونوڅخه ګڼي.

د صحیح مسلم په ۱۴۲۱ حدیث کې راغلي د چا کور ته د ننوتلو وړاندې باید دري ځله اجازه واخیستل شي او د نه اجازې په وخت کې دغه سړی کور ته د ننوتلو حق نه لري.

د دې بالونو په واسطه د افغانانو د کورونو لیدل په زوره او بې اجازې ننوتل معنی لري، همدارنګه جاسوسي په اسلام کې هم منع شوې (اې مومنانو له ډېرو ګمانونو څخه ډډه وکړئ؛ ځکه، چې ځینې ګمانونه ګناوې دي او د نورو په کارونو کې جاسوسي مه کوئ او ځینې د تاسو څخه د ځینو غیبت مه کوئ ایا په تاسو کې څوک دا خوښوي، چې د خپل مړ شوي ورور غوښه وخوري، چې له هغې څخه مو کرکه کیږي او له الله ج څخه په توبه کونکو مهربانه دی.)سورت الحجر ایات ۱۲

۳ نظر هغو قوانینو ته، چې د دې غربیانو په لاس جوړ شوي دي هم دغه کار غیر قانوني دی، د محرمیت حق د بشر حقونو د یوې برخې څخه دی، چې د حقوق بشر نړیوالې اعلامیې په دولسمه ماده کې راغلي دي، د محرمیت حقوق په طبیعي حقوقو کې شامل دي، چې د بشر حقونو په نامه یادیږي.

هغه حقوق او ازادي، چې د بشر- حقونو په نامه یادیږي زیات شمېر هې په طبیعي حقوقو کې شامل دي، مګر د هغوی څخه ېې د هغو حقوقو او ازادیو څخه طبیعي حقوق نه دي، چې د محرمیت حق هم د هغې له ډلې څخه شمېرل کیږي. د محرمیت حق د یو اخلاقي ارزښت او یا د بشر- حقونو د یوه اصل په توګه د پرمختللیو هیوادونو له خوا منځ ته راغلی.

ولې مهم ټکی، چې یادونه مو وکړه په بل ځای کې دی، له دغې دستګاه څخه دلرې واټن ویشتونکي توغندیو (Cruise Missile)اېښودنې لپاره کار اخیستل کیږي.

دغه دستګاه د څلرویشت ساعتونو لپاره په ۳۴۰ میله په واټن کې د دښمن د توغندیو، الوتکو، ټانګونو او هلیکوپټرو دنظارت قابلیت لري. دغه دستګاه راټول شوي اطلاعات نظامي مرکز ته ورکوي، چې نظامي متخصیصین د توغندي ضد سیستم (Anti-Missile System)، چې په امریکا کې ورته(Patriot) وایي وکولای شي مخکې دتوغندیو له رسېدوهغه خنثی کړي.

په افغانستان کې د دې دستګاه د نصبولو څخه هدف څه شی دی؟

ښایي تاسو دا فکر وکړئ، چې دغه سیستم به زموږ د امنیت لپاره لګول شوی وي، خو نه، په حقیقت کې دا، چې دغه سیستم د امنیت لپاره نه دی لګول شوی بلکې کولای شي د افغانستا د بر بادی، لامل هم شي.

په دې سیستم باندې د لوېې سرمایي لګولو هدف د امریکا د لوېو دښمنانو (روسیې او چین) او یو شمیر نورو هیوادونو دتوغندیو خنثی کول دي، نو که چېرې سبا ورځ دروسیې، چین او امریکا تر منځ احتمالي جګړه رامنځ ته شي او روسیه یا چین افغانستان د توغندیو هدف وګرځوي ډېره به د تعجب خبره نه وي.

د دا ډول هستوي حملو په صورت کې که امریکا وتوانیږي د روسېې ټول توغندي خنثی هم کړي، بیا هم د افغانستان نیم خلک به د یورانیمو د وړانګو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړي.

بله پوښتنه که امریکا د توغندي ضد سیستم، چې غواړي د چین او روسیې هستوي توغندي خنثی کړي چېرته کولای شي پټ کړي ؟خواب ېې ساده دی؛ امریکا کولای شي دغه سیستم د افغانستان په لوړو غرونو کې پټ کړي.

نو اوس کولای شو ووایو، چې دغه بالونونه نه یوازې په کابل بلکې په نورو ولایتونو کې هم لیدل کیږي، د پورته مطلب په لوستلو په دې پوهیږو، چې افغانستان د یو دفاعي دېوال او نظارتي برج حیثیت لري.

جنګي جنايتونه

(دسمبر)

سید سعید

د تیر(۲۰۱۵ز) کال د دسمبر دمیاشتي په لومړۍ نیټه مابنام مهال د ننګرهار ولایت د غني خیلو ولسوالۍ په سیاه چوب سیمه کي داخلي عسکرو د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې، د خلکو کورونه یې تلاشي کړي، خلک یې وهلي،څلور نفره ملکي هیوادوال یې بندیان کړي او د خلکو ځینې شیان یې هم له ځان سره وړي دي.

د دسمبر په ۳مه دزابل ولایت د شینکۍ ولسوالۍ په دب سیمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په یوه مرمۍ چې دسیلاني اکا په کور لګیدلې دنوموړي میرمن شهیده شوې ده.

د دسمبر په ٤مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ په اوتریو کلي کي دکورنیو عسکرو په یو توغندیز برید کي لس تنه ولسي هیوادوال شهیدان او اته تنه ټپیان شوي دي، په شهیدانو او زخمیانو کي ماشومان هم شامل دي.د عیني شاهدانو په ویناپیښه په داسي حال کي رامنځته شوې چې خلک د مسجد مخته راټول شوي وو، اور ته یې ځانونه ګرمول چې د اردو د عسکرو له قرار ګاه څخه هاوان راغلی د خلکو په منځ کي ولګید او له امله یې پورته ذکر شوې مرګ ژوبله ولسي خلکو ته واوښته. خلکو د همدې پیښې په غبرګون کي د کابل - کندهار لویه لار تر څو ساعتونو پورې د ترافیکو پر مخ تړلې وه،د حکومت پرضد یې شعارونه ورکول او د خپلو خلکو دوژنکو د محاکمې غوښتنه یې کوله. دمیدان وردګ ولایتي چارواکو هم دغه پیښه تائید کړې ده.

د دسمبر په ٥مه د کندزولایت د چهاردرې ولسوالۍ په مربوطاتو کي اربکیانو یو ملکي وګړی شهید کړی او یو بل تن ټپي کړی دی.

د دسمبر په ۱۲مه دهلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ د هدرې په سیمه کي په یو کور کي د داخلي عسکرو دهاوان د یو ې مرمۍ د لګیدو له امله یوځوان، یوه میرمن اودوه تنه ماشومان شهیدان شوي دي.

د دسمبر په ۱٤مه د کندز ولایت د دښت ارچي ولسوالۍ د کلباد په سیمه کي اشغالګرو او داخلي عسکرو دولسي خلکو په کورونود

چاپې په مهال یو ملکي وګړی (دلدار) شهید کړی دی.

د دسمبر په ۱٤مه د غزني ولا یت ددیک ولسوالی په شیراکلا کي اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیا دشپې مهال دخلکو په کورنو چاپه وهلې، د ځایې اوسیدونکو په وینا یرغلګرو او کورنیو عسکرویې کورونه په خورا وحشیانه دول تلاشي کړي، وروسته یې په سیمه کي پر یو جومات بمبار کړی،د مسجد امام (مولوي نصر الله)، یو تن کلیوال (محمد عمر جان) او ځلور تنه د مدرسې زده کونکي یې شهیدان کړي دي.

د دسمبر په ۱۵مه سهار چي خلکو د یادوو شوو شهیدانو جنازې د همدې ولسوالی د تاسن کلي هدیرې ته دتدفین لپاره انتقال کړي، داخلي عسکرو د جنازو پرمراسمو برید کړی، د حاجي محمد شاه خان په نوم یو کدونوال یې شهید کړی او حاجي محمد شریف او محمد نبي یې ژوبل کړي دي.

د دسمبر په ۱٦مه یرغلګرو ځواکونو دشپنیو علیماتو په لړ کي دهلمند ولایت د خانشین ولسوالی په قلعه نو سیمه کي د یوې چاپې په مهال ځلور تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د دسمبر په ۱٦مه د ننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالی په چهاردهي سیمه کي یرغلګرو پوځیانو د ملکي خلکو پرکورنو د چاپې پرمهال خلک وهلي،ځورولي،یو تن ولسي وګړی یې شهید کړی او دوه کسان یې ټپیان کړي چې همدغه ژوبل کړي کسان یې د ځان سره د بندیانو په توګه هم وړي دي.

د دسمبر په ۲۲مه د جوزجان ولایت د فیض اباد ولسوالی په کوکلداش کلي کي اربکیانو یوه پنځوس کلنه میرمن او زوی یې شهیدان کړي دي.

د دسمبر په ۲۲مه دننګرهارولایت دغني خیلو ولسوالی د داګي په سیمه کي کورنیو عسکرو دعلمیاتو په مهال د خلکو کورونه تلاشي کړي، خلک یې وهلي ا واخر کي یې دوه تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

د دسمبر په ۲۸ مه دهلمند ولایت د سنګین ولسوالی بازار ته ځیرمه په چیناري سیمه کي یرغلګرو د داخلي عسکرو په ملتیا چاپه وهلې، یوتن کلیوال یې زخمي کړی اویو عام وګړی او په سیمه کي دیو روغتون دوه تنه ډاکټران یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

مأخذونه :[بي بي سي رادیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویبپانه ،لراوبر= ،نن تکی اسیا=اوبینوا=]

۲۰۱۸ زکال

د ديسمبر مياشت جهادي خبرونه

شهیدارغـوان

رضوان الله (فیضاني)

د خوږمن زړګي درمان مې شهید شو ی
راته ګران له خپله ځ ان مې شهید شو ی

داچې خم پ رهره لارسلګی وهمه
یو سپېځلی پاك ارمان مې شهید شو ی

رونې تصویر یې زما په سترګو کې غړېږي
شوم یعقوب نورِ چشمان مې شهید شو ی

ټول میوند په وینو سور زخمي زخمي دی
ملالی هم ایوب خان مې شهید شو ی

ځنګول یې په خو اړه ترنم غرونه
ها بلبل د کابل جان مې شهید شو ی

پ رګلشن بیا د خزان سیلی راغل ي
پانې پانې دی ریحان مې شهید شو ی

زه مالي چې ځ ولی تشه ګرځومه
هم غاټول هم ارغوان مې شهید شو ی

(فیضاني) به چې مدام پرې نازېدمه
هغه رنګ اوبنګ جانان مې شهید شو ی

دعزم په عملیاتو کي
دګوډاګۍ اداري ۲۷۳ قوماندانان او مسؤلین وژل شوي

امریکایي لاس پوڅې فاسده اداره چي دهیواد د/ ۹۹/ فیصده او قاطع اکثریت پر حقونو یې خیټه اچولې او داسلام په دې هیواد کي عیسویت ،بې دینۍ، دیموکراسۍ ته رواج ورکوي اسلامي شعائر له منځه وړي او پر ځای یې امریکا خوښی حالت را منځ ته کوي دخلکو مال او عزت لوټي نو ددوی په وړاندي داولس برحقه مبارزه چي داسلامي امارت په چوکاټ کي پر مخ روانه ده ددې لپاره چي په هیواد کي یو سوچه اسلامي نظام حاکم شي دګډ دښمن پر مراکزو او ددوی پر مزدورو عسکرو په دوامداره توګه بریدونه ادامه لري چي په دې لړ کي ورڅخه ولایات ولسوالۍ او په سلګونو پوستې ونیول شوې او لا هم هم دا لړۍ دوام لري دا چي ددښمن په تلفاتو خبرشۍ چي څومره ځاني تلفات به ور اوښتي وي نو دلته یې یوازي دهغو لوړ پوړو اجیرانو نوملړ درته وړاندي کوم چي دعزم مبارکو عملیاتو له پیل نه تر دا مهاله چي دافغانستان په ځینو ولایاتو کي دمجاهدینو په بریدونو کي دګوډاګۍ اداري څومره قومندانان او منسوبین وژل شوي تاسو ته یې داجمال په توګه یې نومونه درته وړاندي کوو

ارزګان ۳۲ نفره

امنیه قوماندان ګلاب دبانګ رئیس جبارخان. قوماندان دل اغا ،پخوانی ولسوال عبدالحلیم ، ددهراود پخوانی ولسوال او خلقي داروخان خاکسار ، قوماندان فضل ربي، قوماندان سلام خان ،دچار چینو ولسوال اسماعیل خان ، قوماندان متین کندوزی، قوماندان جلات خان ، قوماندان منان،دبندیانو دلیږد مسئول محمدزی خان قوماندان نعمت ، داربکیو عمومي قوماندان داروخان ،قوماندان ګل محمد (وطن) قوماندان رحیم الله ، قوماندان جان اغا ، قوماندان دادګل ، قوماندان صمدجان ، قوماندان حاجي طالب ، قوماندان سیدګل مامور ، قوماندان ګل ماد ، قوماندان قاري نورمحمد ، قوماندان ضابط ، قوماندان (کا) ، دچورې دقوماندانی مرستیال قوماندان امیر محمد ، قوماندان صالح ، قوماندان محمد دین ، قوماندان قدرت ، قوماندان سردار ، قوماندان غلام نبي ، قوماندان جمعه ګل

بادغیس ۹ نفره

قوماندان هاشم ، قوماندان حاجي اختر ،قوماندان شیر علي ،قوماندان اقبال ، قوماندان فریدون، دغورماچ امنیه قوماندان مجیدخان ، دجوند قوماندان امنیه فیض الله خان ، محمد حس ناصح ، قوماندان قیوم ،

دایکندي ۵ نفره

قوماندان پهلوان ،قوماندان میرامودي (شمشیر)، قوماندان ولی الله شاهین ، قوماندان ابراهیم ، مامور کامران ،

زابل ۲۰ نفره

دقوماندان رازق معاون اسد، دافراسیون مسئول لغمانی ،دقطعې مرستیال بامیانی ، قوماندان نجیب، قوماندان اسد،قوماندان فولاد ،قوماندان نعیم ،قوماندان موشه ګل ، قوماندان ملا سلام ، قوماندان اوریا ، قوماندان حمیدالله ، قوماندان ګل محمد ، قوماندان عزت الله ، قوماندان کرکین ، قوماندان فیضول ، قوماندان قاهر ، قوماندان برات محمد شنکۍ وال ، ضابط ګاډی ، کنډک مشر قربان علي ، قوماندان ضابط سلیم

سرپل ۱۳ نفره

قوماندان حسن، قوماندان ستار ،دامنیت آمر نجیب مزاری ، قوماندان کمال عیسوی ،قوماندان بحرالله ،قوماندان طوفان او ورسره څلور نور قوماندانان قوماندان ، سِکندر ، قوماندان نظام ، قوماندان امیرالدین

غور ۷ نفره

د۲۰۷ظفرقل اوردوقوماندان شعیب بخشي ، دڅلورمې ټولۍ قوماندان، قوماندان زین خان ، قوماندان جنرال کریمخان، قوماندان عبدالقیوم ،

قوماندان عبدالجبار ، قوماندان سراج ،

فاریاب ۲۷ نفره

قوماندان عبدالرسول ،قوماندان نظر ، قوماندان سراج، قوماندان ضیاءالدین،آمر ذوالفقار ، قوماندان ستار رئیس،څارنوال حبیب الله ،قوماندان نسیم ،قوماندان نادر گلم جمی ،قوماندان حاجي الله نظر ، قوماندان ساعت خان ، قوماندان محمد خان ، قوماندان مولوي توکل ، قوماندان مرد ، قوماندان قدرت ، قوماندان نسیم ، قوماندان غفور ، قوماندان اسرائیل ، قوماندان خدای رحیم ، قوماندان یار محمد ، قوماندان عبیدالله ، قوماندان نصرالله ، قوماندان جاوید ، قوماندان گیلدي ، قوماندان نعیم ، قوماندان فیض جنبشی

فراه ۱۲ نفره

قوماندان سلطان ، قوماندان موسی، قوماندان عبدالرؤف خان، قوماندان غفار ، قوماندان مهربان ، قوماندان محمود ،څارنوال نعیم ،قوماندان جمع گل خان ،صاحب منصب ظاهر ، قوماندان نثار ، قوماندان بریدمن جلیل ، قوماندان صمدآغا ،

قندهار ۵۲ نفره

قوماندان اغاولي ، قوماندان مهمان، قوماندان نورعلي ، قوماندان ریمبو، قوماندان عبدالرحمن ، قوماندان شمس الله، معاون جبار ، قوماندان شیرکی، قوماندان عمر ، قوماندان میرویس ، دغورک دامنیت معاون ذبیح الله ،دژۍ ولسوالي څارنوال ،قوماندان جمیل ،قوماندان محب الله (بنامار) قوماندان اکبر ،قوماندان شاولي ،قوماندان گل نبي ،قوماندان تورجان ،قوماندان گلبران ، قوماندان ابدال ، ددوهمي ناحیې د پوستې قوماندان نعمت ، قوماندان محمدرفیق ، ددیارلسمي حوزي آمر قوماندن عبدالهادي ،قوماندان جلال عثمانزی ،قوماندان ملا ، قوماندان پهلوان ،قوماندان محمود ، قوماندان متکی ، قوماندان مولدین ، قوماندان نسیم ارغستانی ، قوماندان بنایسته خان پښتون ، قوماندان ظاهر سیاچوبي ، قوماندان نجیب ، قوماندان گرانی ، ټولې مشر قوماندان باریداد ، قوماندان روزي ، ضابط محمد عیسی ، قوماندان شامحمد ، قوماندان سوداگر ، قوماندان نیک ، قوماندان جان محمد خان ، قوماندان سیف الدین ، دخاکریز قوماندان جنایي ، دځلورمي حوزي معاون نصرالله ، قوماندان انار ، قوماندان سخي ، ضابط سعدالله خان ، قوماندان محمد ، دخاکریز امنیه قوماندان شریف الله ، قوماندان سعدالله ، عبدالنافع ،

نیمروز ۷ نفره

قوماندان بصیر ، دچخانسور ولسوالي مرستیال حاجي حکیم ، دځلورمي حوزي قوماندان عبدالرحمن ، قوماندان عبیدالله ، قوماندان قدوس ، سید نذیر سادات ،

هرات ۱۳ نفره

قوماندان حمید خیر خواه ، قوماندان عبدالجبار ، قوماندان اکبر ، ضابط اکرم ،قوماندان سراج ،قوماندان فضل احمد ، دپښتون زرغون دامنیت مدیر ، قوماندان عبدالقادر غورماچی ، رئیس نور احمد خان ، قوماندان میرجانک ، قوماندان شاهدالله کهسانی ، داسلام قلعه دشاهراه عمومي قوماندان عبدالرحیم ،

هلمند ۷۶ نفره

قوماندان زین الدین او قوماندان ننګیال ، قوماندان جانګی قوماندان عابد قوماندان شمشاد، قوماندان عبدالرازق ، قوماندان داود، قوماندان الماس، قوماندان تاثیري ،قوماندان مجاهد ، قوماندان ګلاب ایوبي ، حاجي عبیدالله ،حاجي عبدالرحیم ،عبدالکریم ، قوماندان محمد نبي ، قوماندان احسان ، قوماندان میرویس ، قوماندان جانان، قوماندان ستار ، قوماندان روستم ، قوماندان داود، قوماندان عاشق ،قوماندان جهادي ،قوماندان فیض الله معراج، تور شکور ،قوماندان صابر ،قوماندان کولالا ،قوماندان تورجان ،قوماندان عبدالباري ،قوماندان جانان ،قوماندان متین ، قوماندان محمدولي ،قوماندان تور ظاهر ،قوماندان عصمت ، قوماندان شریف ،قوماندان لرم ،قوماندان رفیع الله مشهور په کولالا ،قوماندان آدم اغا، قوماندان ملاسنګین ، قوماندان سردار ، قوماندان ضابط عبدالحق ، قوماندان حبیب الله ، قوماندان سیدنبي ، قوماندان نورګل ، قوماندان محمدولي ، قوماندان سلیم ، قوماندان صدیق قوماندان وطندوست ، قوماندان تورجان ، قوماندان هنر ، قوماندان دریاب ، قوماندان عبدالغني ، قوماندان کامران ، معاون زلمی ، دموسا کلا امنیه قوماندان ، قوماندان فرید ، قوماندان ملک ، قوماندان حسن ، آمرکشف شراف الدین ، قوماندان مولوي ، قوماندان سور اغاولک ، قوماندان تعرضي ، قوماندان جانان ، قوماندان خورَیی ، قوماندان عبدالمالک ، قوماندان آصف ، قوماندان سلطان محمد ، قوماندان احمد ، قوماندان ګلالی ، قوماندان بسم الله ریګی ، قوماندان ښائسته خان ، قوماندان زهیر ، قوماندان شاولي ، معاون دلاور ، قوماندان محمد ، قوماندان ، قوماندان خاکسار ۰

قاري محمدیوسف احمدي داسلامي امارت وياند

۱۴۳۷/۲/۲۰ هـ ق/2015/12م

کندهار

میوند کې دګوډاګیانو په شوبله چاودنه شوي

دکندهارولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د میرزاکاریز په سیمه کې دګوډاګیو عسکرو په شوبله چاودنه وشوه چې له امله یې شوبله ویجاړه اوپکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته 2015/12/2

میوند کې شوبله ویجاړه ګوډاګیانو ته پکې مرګ ژوبله واوښته

دکندهارولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د ګرماوک په سیمه کې دمزدورو عسکرو په شوبله چاودنه وشوه، دچاودني له امله شوبله ویجاړه اوپکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته 2015/12/2

میوند کې ماین ۲ګوډاګي عسکرقتل کړل

دکندهارولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کلانکیچي غونډۍ په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو چاودنه وشوه او له امله یې ۲ تنه ګوډاګي عسکرقتل شول 2015/12/3

میوند۳ شوبلې یواکمالاتي موټرویجاړدښمن ته مرګ ژوبله واوښته

دکندهارولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د ګرماوک په سیمه کې دهغو ګوډاګیو عسکرو ۳ شوبلې اویو اکمالاتي موټر دوسلوالو بریدونو او چاودنو له امله ویجاړ شول چې له غورک ولسوالۍ څخه دتېښتي په حال کې و، په چاودنو او بریدونو کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله هم واوښته 2015/12/3

ښورابک کې غبرګو چاودنو ه ګوډاګیو عسکرو وژل

دکندهارولایت د ښورابک ولسوالۍ اړوند د سروچاهانو په سیمه کې دنورالدین او چوک پوستو ترمابین په ګوډاګیو عسکرو غبرګي چاودني وشوې، چاودنو ۵ تنه ګوډاګي عسکر ووژل 2015/12/4

میوند کې یوګوډاګی عسکرقتل شو

دکندهارولایت د میوند ولسوالۍ دملالۍ انا زیارت په سیمه کې دګوډاګیو عسکرو په پلې ګزمه برید ترسره شو چې له امله یې یوګوډاګی عسکرقتل اوپاتې نورپه تېښته بریالي شول 2015/12/4

ښورابک کې پوسته فتحه وینجر۲ موټرسایکل اوګڼ مهمات غنیمت شول

دکندهارولایت د ښورابک ولسوالۍ اړوند دسروچاهانو په سیمه کې دګوډاګیو عسکرو قرارګاه د توغندیو تر برید لاندي راغله او وروسته په قرارګاه او ۲ نورو پوستو برید ونه ترسره شول، دبریدونو په مهال یوه پوسته فتحه اوپکې میشتو ګوډاګیانو ته مرګ ژوبله واوښته په پوسته کې یو رینجر موټر، ۲ موټرسایکلان، یو کلاشنکوف له زرو مرمیو سره، ۱۰۰۰ دثقیل مرمۍ، یوه د اوبو ټانکۍ اونور مهمات غنیمت شول، په دوهمه پوسته اوقرارګاه کې هم دښمن ته تلفات واوښتل 2015/12/5

غورک کې پوسته فتحه ۱۴ ګوډاګیان قتل ۲ اسیران ګڼ شمېر مهمات غنیمت شول

دکندهارولایت د غورک ولسوالۍ د ده سبزي په سیمه کې دګوډاګیو عسکرو په مهمه پوسته برید ترسره شو، د برید په ترڅ کې فتحه، ۱۴ تنه ګوډاګي عسکرقتل، ۲ تنه یې اسیران او نورپه تېښته بریالي شول، په پوسته کې له دښمن څخه ۲ عرادي موټرسایکل، ۳ ثقیلان، یو راکټ، ۲ اویا ډزي، ۹ کلاشنکوفونه، ۱۲ پیره دراکټ مرمۍ، ۵۰۰۰ د ثقیل اوکلاشنکوف مرمۍ او ګڼ شمېر نور مهمات غنیمت شول 2015/12/7

دکندهارپه فدایي بریدکې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته

دکندهارولایت د مرکز کندهارښار د ۹ حوزې اړوند د بریښناکوټ ته ماموریت ۲ تنه قهرمان فدایي مجاهدین (جاوید او الهام) په داسي حال کې ننوتل چې لومړی یې ماموریت ته څېرمه د پله په سر ولاړو پیره دارانو او پولیسو برید ترسره کړ او د پیره دارانو په شمول یې ۸ تنه پولیس قتل کړل، وروسته یې په ماموریت کې په میشتو ګوډاګیانو بریدونه وکړل چې ګڼ یې مړه اوژوبل شول او یو شمېر په تېښته بریالي شول، مجاهدینو سیمي ته له راغلیو کومکي عسکرو سره هم جګړه وکړه، دوه تنه نور فدایي مجاهدین چې د پولیسو په یونیفورم کې ؤ وایې موږ له پولیسو سره یوځای و چې ویل یې په بریدکې ټولۍ مشر زلمی، دماموریت قومندان شایسته ګل اودشایسته ګل دمعاون په شمول ۱۸ تنه پولیس وژل شوي، یادو مجاهدینو په دښمن دشالخوا بریدوکړ چې په دې بریدکې هم تر ۱۵ تنه زیات دجاسوسي شبکې کارمندان پولیس اوعسکرقتل شول له برید وروسته دواړه فدایان روغ رمټ تر خپلو مرکزونو پوري راورسیدل 2015/12/8

کندهار هوایي ډګر کې فدایي مجاهدینو ۲۵۰ بهرني او کورني عسکر قتل ګڼ ټپیان، ۳۰ ټانکونه او ګڼې الوتکې یې وسوزولې

د کندهار ولایت په هوایي ډاګر د اسلامي امارت ۹ تنو استشهادي مجاهدینو پراخ او ځپونکي عملیات ترسره کړل، د فدایي مجاهدینو لومړی ګروپ چې مشري یې د اتل فدایي مجاهد عبدالوارث په غاړه وه ورسره حافظ صهیب، ملاعثمان، او حافظ مدني هم ملګري وو، د خارجي یرغلګرو عسکرو میشت ځایونو ته ځانونه ورسول او هلته یې د دوی د ډوډۍ خوړلو په ځای کې په موجودو بهرنیو عسکرو بریدونه وکړل. یاد ګروپ فدایانو پوره یوویشت ساعته له دښمن سره مقاومت او جګړه وکړه، له دوی سره فعال مخابروي تماس د عملیاتو تر پایه دوام درلود او په خپلو معلوماتو کې یې وویل چې دوی تر ۶۶ پوري خارجي یرغلګر عسکروژلې دي، په دې سربېره یې د سوزونکو موادو په وسیله د دښمن بارکونه، نقلیه وسائط او طیارې سوزولي دي. د دوهم ګروپ مشري د اتل فدایي مجاهد ملا عبدالرحمن په غاړه وه ورسره محمدي او حافظ عمران هم ملګروو، دغه ګروپ له پلان سره سم د هوایي اډې دننه بازار ته ځانونه ورسول چې هلته د بهرنیو او داخلي عسکرو لپاره یو ورزشي کلب هم موجود وو، دغه ګروپ ۲۹ ساعته مقاومت وکړ او په وروستي تماس کې یې وویل چې په بازار کې یې تر ۱۲۰ پوري داخلي او خارجي عسکروژلي او د سوزونکو او اور اچونکو موادو په توسط یې ورزشي کلب، دکانونه، د عسکرو ګڼ ټانکونه او موټران سوزولي دي، دریم ګروپ چې مشري یې د ملاصدیق الله په غاړه وه، له ۲ تنو استشهادیانو (ملاصدیق الله او عباس) څخه تشکیل شوي وو، د دوی هدف (د هوایي ځواک د قومندان جنرال ګلالي دفتر) ټاکل شوی وو، ورسره ورته سپارښتنه شوې وه چې په بازار کې په عملیاتو بوختو مجاهدینو څخه به دفاع کوي، یاد ګروپ ۲۰ ساعته مقاومت وکړ او په مخابروي تماس کې یې زیاته کړه چې د جنرال ګلالي د دفتر اړوند ۴۶ عسکر یې وژلي دي، د عملیاتو په مهال دښمن د بریدونو د مهار کولو لپاره وژونکي ګاز او فاسفورس لرونکي توغندي استعمال کړل، خو لله الحمد په مجاهدینو یې ځکه تأثیر ونکړ چې د مخنیوي لپاره یې ټول لازم تدابیر مخکې له وړاندې نیول شوي وو، په بریدونو کې ټولټال په دقیق ډول (۲۵۰) تنه خارجي یرغلګر او کورنۍ مزدور عسکر ووژل شول، ګڼ شمیر نور ټپیان شول، د دښمن ګڼ شمیر جنګي الوتکې، ۳۰ ټانکونه له ګڼ شمیر نظامي ودانیو سره له منځه لاړل او عملیاتو د فدایي مجاهدینو په شهادت سره پای ته ورسېدل.

میوند کې ۲ ګوډاګي عسکر قتل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د خاص میوند په کلي کې د ګوډاګیو عسکرو په پلې ګزمه بریدترسره شو چې په مهال یې ۲ تنه ګوډاګي عسکر قتل شول 2015/12/13

کندهار ښار کې د ارغستان ولسوالۍ د شوری غړی قتل شو

د کندهار ولایت د مرکز کندهار ښار د ۳ حوزې اړوند د کابل دروازې په سیمه کې د ارغستان ولسوالۍ د شوری غړی او د اربکیانو مؤسس سردار محمدخان د مجاهدینو په غلچکي برید کې قتل شو. 2015/12/14

ارغستان کې یو ګوډاګي عسکر قتل شو

د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ اړوند د سپیني ګاري په سیمه کې یو تن ګوډاګي عسکر وویشتل شو او ځای په ځای قتل شو 2015/12/15

ارغستان کې په پوسته برید ۲ عسکر قتل ۳ ژوبل شول

د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ اړوند د شګوګودر په سیمه کې د ګوډاګي قومندان قادر په پوسته بریدترسره شو، د برید په پایله کې پوستې ته په زیان اوښتو سربېره ۲ تنه ګوډاګي عسکر قتل او ۳ نور ژوبل شول 2015/12/15

میوند کې ۲ ګوډاګي عسکر قتل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د خاص میوند په سیمه کې دوسلوال برید په ترڅ کې ۲ تنه ګوډاګي عسکر قتل شول 2015/12/16

کندهار ښار کې د جاسوسي شبکې غړی ووژل شو

د کندهار ولایت د مرکز کندهار ښار د څلورمي حوزې د ژړ مکتب په سیمه کې د جاسوسي شبکې مهم غړی عبدالوهاب د شاولیکوټ ولسوالۍ د زمتو د سیمي اوسیدونکی د غلچکي برید په مهال قتل شو 2015/12/16

معروف کې په پوسته توغندیز برید شوی

د کندهار ولایت د معروف ولسوالۍ اړوند د ناوې په سیمه کې د جر په پوسته توغندي وتوغول شول چې له امله یې دښمن ته زیان واوښت 2015/12/17

ډنډ کې د ګوډاګیانو رینجر موټر د ماین ښکار شو

د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ اړوند د ابراهیم خلیفه بابا په سیمه کې د ګوډاګیانو په رینجر موټر چاودنه وشوه، د چاودنې له امله رینجر ویجاړ او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته 2015/12/18

ښورابک کې ګوډاګیان له ۳ مهمو پوستو تښتیدلي

دکندهارولایت د بنورابک ولسوالی دسروچاهانو په سیمه کې ګوډاګي عسکر له درو مهمو پوستو (چې د وانډا، نورالدین او د چوک په پوستو یادېدلې) د مجاهدینو دبریدونو له ډاره وتښتېدل 2015/12/2

ارغستان کې ګوډاګی عسکر قتل ۲ ژوبل شول

دکندهارولایت د ارغستان ولسوالی اړوند د سپینې ګاري په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په پلي ګزمه بریدترسره شو، په بریدکې ۱ تن ګوډاګی عسکر قتل او ۳ نور ژوبل شول 2015/12/2

شاولیکوټ کې ډګوډاګیانو په رینجرموټر د ماین چاودنه شوې

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی ولسوالی اړوند دولې په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په رینجرموټر چاودنه وشوه، دچاودنې له املورینجر ویجاړاوپکې ناستو ګوډاګیانوته مرګ ژوبله واوښته 2015/12/2

شاولیکوټ کې ماین یو عسکر قتل ۲ ژوبل کړل

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی د البک په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه، دچاودنې له املې یوتن ګوډاګی عسکر قتل او ۲ نورژوبل شول 2015/12/2

شاولیکوټ کې یو عسکر په درازکوف وویشتل شو

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی اړوند د البک په سیمه کې یوتن ګوډاګی عسکر په درازکوف وویشتل شو او ځای په ځای قتل شو 2015/12/2

شاولیکوټ کې ۲ عسکر په درازکوف وویشتل شول

